د افغانستان اسلامي جمهوریت

لوړو زده کړو وزارت

ننګرهار پوهنتون

د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی

# د افغانستان د سیمه ییزې حکومتولۍ اوسني وضعیت ته کتنه

# Overview of the current situation of local governance in Afghanistan

## (د لیسانس دورې پایلیک)

Ketabton.com

ترتیب کوونکی : محب الله (رسولي)

لارښود استاد : پوهنیار نیازمحمد ( همدرد )

کال ۱۳۹۹لمریز

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

## مننليک

دا چې د پوهنتون څلور کلنه (لېسانس) دوره د يوې ليکنې او څېړنې په بشپړېدو سره پای ته رسيږي، ما هم خپل مونوګراف او ليکنه د ( **د افغانستان د سيمه ييزې حکومتولی اوسني وضعيت ته کتنه)** تر عنوان لاندې بشپړه کړې، ترڅو په دې برخه کې نورو ته د پوهې د ترلاسه کېدو د کومک باعث شي.

په لومړي قدم کې له خپل قدرمن ،عزتمن او خواږه لارښود استاد **پوهنيار نياز محمد (همدرد)** څخه د زړه له تله مننه کوم. چې د معنوي څواک سربېره يې سپېڅلې مينه راسره شريکه کړه او ماته يې د خپل اولاد حيثيت راکړ. ګران استاد ته په راتلونکي کې د الله (ج) له لوی دربار څخه د لابرياوو او خوښيو غوښتونکی يم.

په دوهم قدم کې د عامه ادارې او پاليسۍ پوهنځی له ټولو قدرمنو استادانو څخه نړۍ مننه کوم چې په څلور کلنه تحصلي دوره کې يې راسره نه ستړي کېدوونکې هلې ځلې کړي دي.

په دريم قدم کې له ګرانو او نازولو ملګرو څخه هم نړۍ مننه کوم چې ټل يې د زده کړو په برخه کې راسره مرسته کړې او خپلې تجربې يې راسره شريکې کړي دي.

**په درنښت**

**محب الله (رسولي)**

ketabton.com - The Digital Library

# ډالۍ

دغه لیکنه چې ما په خپل څلور کلن تحصیلي مزل کې د ( **د افغانستان د سیمه ییزې حکومتولۍ اوسني وضعیت ته کتنه)** تر عنوان لاندې ترتیب کړې، په ډېر احترام سره ډالۍ کوم:

په لومړي قدم کې مې خپل درانه پلارجان او خدای بخښـــلي خوږې مورجانې ته چې اوس زما په څنګ کې نشـته ډالۍ کوم، چې د زده کړې او تربیې لومړني اسـتادان مې دي، او همیشـه یې خپلو زده کړو ته هڅولی یم ، انګېزه یې راکړې او پخپلو تناکو او خولو تویولو له امله یې د درد سربېره همت هم راکړی.

په دوهم قدم کې مې خپلو زړه ته رانیږدې ورونو هر یو **(ښـاغلی مدیر صـیب محمد یاقوت رسـولي، او استاد پوهنیار حضـرت شـاه رسـولي)** او خویندو ته ، چې تل یې زما فزیکي او معنوي ملاتړ کړی او په هر ډول شرایطو کې یې زه خپل تحصیل ته هڅولی یم ، ډالۍ کوم.

**په درنښت**

**محب الله (رسولي)**

ketabton.com - The Digital Library

## تقريظ

هره تحصيلي دوره د يوي رسالي ، ليكني او څيړني په تر سره كولو پای ته رسيږي. د لېسانس په دوره كې د رسالي ليكل د هر محصل له مكلفيتونو څخه دي. په همدې منظور **محب الله (رسولي )** هم د خپلې تحصيلي دورې پاېليک، (د افغانستان د سيمه ييزې حكومتولی اوسني وضعيت ته كتنه ) تر عنوان لاندې، د لوړو زده كړو وزارت د مقرراتو مطابق ټاكلې، نوموړي په بشپړ زيار او هڅو سره دغه ليكنه بشپړه كړي ده.

زه نيازمحمد (همدرد) د لارښود استاد په حيث د نوموړي محصل كوښښونه او هڅې د مونوگراف او څيړني په ترسره كولو كې كافي گڼم او تائيدوم ، د كوم لپاره يې چې د معتبرو منابعو څخه استفاده كړې ده. مگر بايد يادونه وكړو چې نوموړي محصل د مونوگراف د ليكلو پر مهال يې له ماسره مشوره كړې او زما لارښوونې يې د مونوگراف په ليكلو كې رعايت كړي دي. زه يې هڅې ستايم ، د مونوگراف د بشپړيدو له امله ورته مباركې وايم او د الله (ج) له دربار څخه په ژوند كې ورته د نورو برياوو غوښتونكی يم.

**درنښت**

**پوهنيار نيازمحمد (همدرد)**

**د عامه ادارې او پاليسی پوهنځۍ د علمي كدر غړی**

ketabton.com - The Digital Library

# لنډيز (Abstract)

لکه څرنګه چې پوېشيمه پېړۍ د غير متمرکزې ( سيمه ييزې ) حکومتدارۍ عصر ګڼل کيږي، په دې عصـــر کې اصـــلاحات او ســـتراتيژۍ ټولې په غير متمرکزه حکومتدارۍ کې رامنځته کيږي، غير متمرکزه حکومتداري د شفافيت، حساب، کتاب، ځواب ويلو او همدارنګه د ښې حکومتولۍ ضمانت کوي. نن د انکشـــاف يا پرمختګ په زده کړو کې ولســـواکي (Democracy) او غير متمرکزه حکومتداري (Decentralization) د هيوادونو د پرمختـګ اســـــاس جوړوي. نن ورځ د پرمختـګ فعـاليتونـه د بيروکراســـۍ د کمولو او د ادارو د غيرې متمرکز کولو ســـره نښـــتي ښـــکاري، ترڅو وکولای شـــي د نړيوالتوب او ازاد بازار اړتياوو ته سم ځواب ووايي، نو په همدې اساس سيمه ييزه حکومتولۍ او د هغو مديريت نه تنها په ولســواکو هيوادونو کې ورځ تربلې رشــد او وده کوي، بلکې په هغه دولتونو کې، چې هغه ولسواک ندي هم ورځ تربلې غښتلي او مخ پر وړاندې حرکت کوي، سيمه ييزه حکومتولي ټولو هغو طبقاتو د حکومتولۍ ته راجع کيږي، چې د مرکزي يا ملي حکومت څخه ښــکته خواته ترســره کيږي. دا اصـــــطلاح کيدای شـــــي، يو څه ګډوونکې وي، ځکه په فدرالي حکومتونو کې، لکه په امريکا کې هر فيدريشن يا ايالت ته د سيميزې حکومتولۍ واحد ويل کيږي، همدارنګه د ولايت او د ښار حکومتولي ته هم د سيمه ييزې حکومتولۍ کليمه استعماليږي.

په عمومي توګه، موږ ولای شو، چې مرکزي حکومت د ملي حاکميت، اړوند مسايلو د بررسي، لکه د بهرني سياست د پلي کولو د پاره استعماليږي، خو سيمه ييزه حکومتولي له مرکزي حکومت يا ملي حکومت څخه په راښــکته کچه د حکومتولۍ مســايلو ســـه ســرو کار لري. لکه څرنګه چې د افغانســـتان حکومت د اسـاسـي قانون په اساس په مرکزي او محلي حکومتونو باندې ويشل شوی، نو په همدې اساس داسـاسـي قانون ۸ څپرکی د ادارې تر عنوان لاندې ليکلو سره ۱۳۶ ماده يو مرکزي حکومت پيش بيني کوي، نو په همدې اســاس د جوړښــت له پلوه د افغانســـتان د اســـاســـي قانون ۸ څپرکی، په ملي کچه د وزارتونو په چوکات کې د اداري واحدونو او همدارنګه په سيمه ييزه يا ټيټه کچه د ولايتونو، ولسواليو، کليوالي شوراګانو او د ښاروالۍ د بنسټونو د ايجاد وړاندويونه کوی. د اساسي قانون په اساس سيمه ييزه حکومتولۍ د مرکزي حکومت برخه او جز ګرځي، چې اکثريت مهمې پريکړې د مرکزي حکومت لخوا کيږي، چې په بنسټيزه توګه د مراتبو د لړۍ د عمودي اړيکو د مخبېلګي له مخې پر مخ ځي. ددې ليکنې څخه زما هدف د افغاننستان د سيمه ييزې حکومتولۍ اوسني وضعيت ته کتنه او د مرکزي حکومت سره د دوی اړيکي راسپړل دي.

ketabton.com - The Digital Library

# لړليک

**عنوانونه** **صفحه**

سريزه ........................................ و

## د څېړنې کليات

پېژندنه (Introduction) ........................................ ۱
څېړنيزه ستونزه: (Research Problem ) ........................................ ۲
د موضوع پېژندل: (Introduce of tittle) ........................................ ۳
څېړنيزه پوښتنه ( Research Question) ........................................ ۵
د څېړنې اهداف (Research goals) ........................................ ۵
د څېړنې اهميت او ضرورت: ........................................ ۵
تېرو ليکنو ته کتنه(Literature Review) ........................................ ٦
د څېړنې ميتودولوژي(Research Methodology ) ........................................ ۷

## لـومړی څپــرکـی
## سيمه ييزه حکومتولي

لومړی مبحث ـ د سيمه ييزو حکومتونو تاريخچه ........................................ ۸
دوهم مبحث ـ په افغانستان کې سيمه ييزه حکومتداري ........................................ ۹
لومړی مطلب ـ په افغانستان کې د سيمه ييزو حکومتونو تحولات ........................................ ۱۰
لومړي جز ـ د امير عبد الرحمن خان د واکمنی پرمهال دسيمه ييزو حکومتومو وضعيت ........................................ ۱۰
دوهم جز ـ د امير امان الله خان د واکمنی پرمهال د سيمه ييزو حکومتونو وضعيت ........................................ ۱۰
دريم جز ـ د امير امان الله خان تر واکمنی وروسته د سيمه ييزو حکومتونو وضعيت ........................................ ۱۲
څلورم جز ـ د ظاهرشاه د واکمنی پرمهال د سيمه ييزو حکومتونو وضعيت ........................................ ۱۳
پنځم جز ـ د سردار محمد داوود خان د حکومت پرمهال دسيمه ييزو حکومتونو وضعيت ........................................ ۱۳
شپږم جز ـ د (۱۳۵۷ل) کال د ثور له انقلاب وروسته د سيمه ييزو حکومتونو وضعيت ........................................ ۱۳
دوهم مطلب ـ په افغانستان کې اوسنی سيمه ييز حکومت ........................................ ۱٤
درېيم مطلب ـ د سيمه ييزې حکومتولی اوسنی وضعيت ........................................ ۱۵
څلورم مطلب ـ جوړښت ........................................ ۱۷
الف ـ ولايتي اداره ........................................ ۱۹
ب ـ واليان ........................................ ۱۹
ج ـ په ولايت کې د سکتوري وزارتونو واحدونه ........................................ ۲۲

ketabton.com - The Digital Library


د ـ ولايتي پرمختيايي کمېټه ................................................ ۲۳
ه ـ د ولايت اداري مجلس ................................................ ۲٤
درېيم مبحث ـ ولايتي شورا ................................................ ۲٥
څلورم مبحث ـ ولايتي محکمي ................................................ ۲۷
پينځم مبحث ـ د ولسوالی اداره ................................................ ۲۷
لمړی مطلب ـ ولسوال ................................................ ۲۸
دوهم مطلب ـ د ولسوالی شورا ................................................ ۳۰
درېيم مطلب ـ په ولسوالی کي د وزارتونو دريمه درجه واحدونه ................................................ ۳۰
څلورم مطلب ـ د ولسوالی پرمختيايي اسامبله ................................................ ۳۱
شپږم مبحث ـ د کلي اداره ................................................ ۳۱
لومړی جز ـ د کلي شورا ................................................ ۳۲
دوهم جز ـ د کلي پرمختيايي شورا ................................................ ۳۲
دريم جز ـ د کليو په کچه غير رسمي اداري ................................................ ۳٥
الف ـ ملک، ارباب، قريه دار ................................................ ۳٥
ب ـ خان ................................................ ۳٥
ج ـ سپين ږيري، گذر ملک ................................................ ۳٥
د ـ ميراو (ميراب) ................................................ ۳٥
ه ـ علماء، ملايان ................................................ ۳٥
و ـ اربکيان ................................................ ۳٦
اووم مبحث ـ ښاروالي ................................................ ۳٦
لومړی مطلب ـ د ښاروالی رامنځته کول، ادغام او له مينځه وړل ................................................ ۳٦
دوهم مطلب ـ د ښاروالیو د رامنځته کولو لپاره معيارونه ................................................ ۳۷
درېيم مطلب ـ د ښاروالیو د رامنځته کولو، يوځای کولو، او له منځه وړلو پړاوونه ................................................ ۳۷
څلورم مطلب ـ د ښاروالی د ادغام لپاره شرايط ................................................ ۳۷
پينځم مطلب ـ د ښاروالیو د له منځه وړلو لپاره شرايط ................................................ ۳۸
اتم مبحث ـ د ښاروالیو ډلبندي ................................................ ۳۸
لمړی مطلب ـ د ښاروالی د ډلبندی لپاره فکتورونه ................................................ ۳۸
دوهم مطلب ـ دنوم ايښودلو لپاره معيارونه ................................................ ۳۸
درېيم مطلب ـ د ښاروالی دندې ................................................ ۳۸
څلورم مطلب ـ د خدمتونو وړاندې کول ................................................ ۳۹
پينځم مطلب ـ اداري او پرمختايي دندې ................................................ ٤۰
شپږم مطلب ـ د ښاروالیو لپاره اداري جوړښت او ميکانيزم ................................................ ٤۰
اووم مطلب ـ د پاليسی موخي ................................................ ٤۱
اتم مطلب ـ د ښاروالی خدمتونه ................................................ ٤۱

ketabton.com - The Digital Library

نهم مطلب ـ د بهرنيو اقتصادي تشبثات ................................................ ۴۳
لسم مطلب ـ په دې برخه کې د پالیسی موخې ................................................ ۴۳
نهم مبحث ـ د سیمه ییزه اورګانونو خپلواکه اداره ................................................ ۴۳
لومړی مطلب ـ د سیمه ایزو ارګانونو د خپلواکه اداري اهداف ................................................ ۴۳
دوهم مطلب ـ د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکه اداري موخې ................................................ ۴۴
دریم مطلب ـ د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري تشکیلات ................................................ ۴۴
څلورم مطلب ـ اداري اصلاحات ................................................ ۴۴
پینځم مطلب ـ مرستیال والیان او ولسوالان ................................................ ۴۵
شپږم مطلب ـ لومړیتوبونه ................................................ ۴۵
اووم مطلب ـ د سیمه ییزه اداراتو پالیسي ................................................ ۴۵
اتم مطلب ـ د سیمه ییزو ادارو د پالیسی بنسټونه ................................................ ۴۶
لسم مبحث ـ د افغانستان دسیمه اییزو ادارو تګلاره (پالیسی ) موخې ................................................ ۴۶
لومړی مطلب ـ خلکو ته حساب ورکول ................................................ ۴۷
یوولسم مبحث ـ د سیمه ییزې حکومتولی سمون ................................................ ۴۷
لومړی مطلب ـ شوی پرمختګ ................................................ ۴۸
دوهم مطلب ـ ننګوني ................................................ ۴۸
لومړی جز ـ بیخ بنسټیزې ننګوني ................................................ ۴۸
دوهم جز ـ قرینوي او سپستمي ننګوني ................................................ ۴۹
دریم جز ـ بنسټي او جوړښتي ننګوني ................................................ ۵۰
دوولسم مبحث ـ د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره د وزارتونو پر وړاندې ................................................ ۵۳
دیارلسم مبحث ـ دولتي سکتور د خصوصي او مدني ټولنې پر وړاندې ................................................ ۵۳
څوارلسم مبحث ـ شته فرصتونه ................................................ ۵۴
پینځلسم مبحث ـ د ستراتیژیک ژورلید او عملي چارو تر منځ د همغږۍ باوري کول ................................................ ۵۶
شپاړسم مبحث ـ د سیمه ییزې حکومتولی د مهمو برخوالو په ګوته کول او د هغوی د دندو روښانه کول ................................................ ۵۶
اوولسم مبحث ـ : له ښکته ـ پورته حساب ورکولو پیاوړي کول، د ولایتي شوراګانو د څار د حق ملاتړ ................................................ ۵۷
اتلسم مبحث ـ د ولسوالی او کلي استازیتوب ................................................ ۵۷
نولسم مبحث ـ د پرمختیایي شورا جوړښت ................................................ ۵۸
لومړی مطلب ـ د شورا دندې او تنظیم ................................................ ۵۸

## دویم څپرکی
## د افغانستان په سیمه ییزه حکومتولی کې مالي چارې

لومړی بحث ـ پلان جوړونه او مالي چارې ................................................ ۶۱
لومړی مطلب ـ د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو بهیر ................................................ ۶۳

ketabton.com - The Digital Library

دوهم مطلب ـ غیرمرکزي کول او سیمه ییزې مالي چارې ........................................................ ٦٣
درېيم مطلب ـ د بودیجې جوړولو بهیر او حکومتولي ........................................................ ٦٤
څلورم مطلب ـ په افغانستان کې ولایتي پلان او بودیجه جوړول ........................................................ ٦٦
پینځم مطلب ـ اداري جوړښت او لوبغاړي ........................................................ ٦٧
دوهم بحث ـ د غیرمرکزي ولایتي بودیجو غوراوی : د بودیجې عمودي او افقي ډولونه ........................................................ ٦٩
الف : عمودي غیرمرکزیتوب ........................................................ ٦٩
ب : افقي غیرمرکزیت ........................................................ ٦٩
لومړی مطلب ـ د افغانستان د ملي او سیمه ییزې بودیجې او پلان جوړولو بهیر ........................................................ ٧٠
دوهم مطلب ـ د بودیجې عمده او فرعي واحدونه ........................................................ ٧١
درېيم مطلب ـ د بودیجې ترتیبولو او اجرا کولو بهیر ........................................................ ٧١
څلورم مطلب ـ د بودیجې ترتیب او ولایتونه ........................................................ ٧٢
پینځم مطلب ـ د بودیجې منظوري او ولایتونه ........................................................ ٧٣
شپږم مطلب ـ د بودیجې اجراء او ولایتو لپاره یې عواقب ........................................................ ٧٣
اووم مطلب ـ د ارزوني او پلټنې بهیر ........................................................ ٧٤
درېيم بحث ـ د افغانستان د عامه مالي چارو د مدیریت سیستم ........................................................ ٧٤
لومړی مطلب : د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي ........................................................ ٧٥
دوهم مطلب ـ د ولایتي بودیجې او پلان جوړولو په برخه کې نیمګړتیاوې او سپارښتنې ........................................................ ٧٦
لومړی جز ـ له اندازې زیات د چارو مرکزیت ........................................................ ٧٦
دوهم جز ـ ناڅرګند او ګونګ اداري رولونه یا دندې ........................................................ ٧٧
درېيم جز ـ اجماع او مخالفتونه ........................................................ ٧٨
څلورم جز ـ د ځواب ورکونې کمی ........................................................ ٨٠
پایـله ........................................................ ٨٢
وړاندیزونه ........................................................ ٨٤
اخځلیکونه (Reference) ........................................................ ٨٥

ketabton.com - The Digital Library

## سریزه

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم اما بعد فاعوذ با الله من الشیطن الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم ( و اذ قال ربک للملائکه انی جاعل فی الارض خلیفه)[1]

ژباړه: او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چې وویل پروردګار ستا پرېښتو ته چې بېشکه زه ګرځوونکی یم په ځمکه کې د یوه خلیفه.

په ټولنه کې د سازمانونو خپله اداره کول د انسانانو له طبعی اړتیاوو څخه دي؛ خو د ټولنیزوالي ځانګړنې پربنسټ هیچاته هم اجازه نشته چې په وګړنیز شکل خپلې اړتیاوې په خپله پوره کړي یا په یوازېتوب ژوند وکړي؛ نو د ټولنیز ژوند د پرمخ بیولو په خاطر په ملي، ایالتي، او محلي کچه د سیستم موجودیت ته اړتیا ده؛ ترڅو د بشري ژوند بېلا بېلې برخې ترتیب او تنظیم کړي او دسپلین رامنځته کړي. د همدغو برخو د ترتیب او تنظیم په پار دولت (نظام) رامنځته کېږي، د ملي ګټو د ساتنې او او امورو تنظیمولو لپاره ځانته بېلابېلې اداري او مدیریتونه جوړوي؛ څو په ملي او سیمه ایزه کچه دعوامو د ژوند سطحه لوړه کړي، ټولې ستونزې له منځه یوسي او یو هوسا او پرمختللي ټولنه رامنځته کړي؛ سیمه ییزه حکومتولی د ټولنیزو رشتو ترمنځ پاتې شونې موضوع ده چې خپل سیر د حقوق اوسیاسي علومو، عامه اداري، اقتصاد او نورو څخه بشپړه کړي، ځکه سیمه ایزه حکومتولی د حقوقو په وسیله حقوقي شخصیت او قانوني واکونه برسي کوي، سیاسي علوم یې اړیکې دسیاسي حاکمه هیأت سره تربحث لاندې نیسي. د عامه اداري څخه د عمومي چارو د اداره کولو په خاطر روشونه او فنون زده کوي او د اقتصاد علم په سیمه ایزه سطحه په دې لټه کې ده، چې د سیمه ییزو خلکو د غوښتنو او لږو امکاناتو ترمنځ تعادل رامنځته کړي.

د افغانستان د حکومتدارۍ سیستم له پیله د مرکزي سیستم په اصولو ولاړ شوی دی، خو د وخت په تېرېدو سره یې د سیمه ییزې حکومتدارۍ د بنسټونو د تقویې او نویو جوړښتونو د رامنځته تګ لپاره زمینې برابرې شوې، همداراز په تاریخي لحاظ د قوي مرکزي حکومتدارۍ لرونکی هېواد ګڼل کېږي.

همداراز ما ددغه لیکنې په اړه معلومات په دوو فصلونو کې راټول کړي، چې په لومړی فصل کې د سیمه ییزې حکومتولۍ تاریخچه ، د هغه پېژندنه، او همدارنګه د افغانستان سیمه ییزې حکومتولۍ اوسنې وضعیت ته کتنه شوې او آخر فصل د افغانستان په سیمه ییزه حکومتولۍ کې مالي چارې ته ځانګړی شوی.

---

[1] القرانکریم، سورت البقره: (۳۰) آیت

ketabton.com - The Digital Library

# د څېړنې کليات

## پېژندنه (Introduction)

له تاريخي لحاظه لومړنی نهاد او موسيسه، چې منځ ته راغلې ده هغه کورنۍ ده، کورنۍ تر ډېره حده د خپلو داخلي چارو په ادراه کولو کې ازادې او مستقلې وې او کولای يې شول چې په هر ډول وغواړي خپلې چارې منظمې او د هغوی لپاره قواعد وضع کړي، په تدريجي ډول کورنۍ غټې شوې او يوه طايفه او قوم يې تشکيل کړ، د طايفې او قوم د چارو د اداره کولو لپاره د قوم مشرانو او سپين ږيرو به پريکړې نيولې، د طايفو يو ځايوالي څخه غټې ټولنې رامنځته شوې، چې د يو مشر لخوا به اداره کېدلې، د دغې ټولنې د چارو د اداره کولو لپاره، چې تر پخوانيو ټولنو غټه ټولنه وه، ډېرو اشخاصو مداخله کوله او د دې لپاره چې د غټو رئيسانو (مشرانو) ټاکنه د نه رضايت او جنجال باعث نشي، ځينې وخت سپين ږيرو د هغوی په ټاکلو کې نظر ورکاوه او د خلکو ټول جنجالونه يې د دغې ټولنې په داخل کې حلول، مشرانو به د خپل عرف او عاداتو مطابق د ضرورت وړ مقررات وضع کول او دهغوی د اجرا څخه به يې څارنه کوله او د نظرونو د اختلاف په صورت کې به يې قضاوت او فيصله کوله، ورسته داسې حاکمان پيدا شول، چې په دې وتوانېدل، تر څو سيمه ييز کوچنې حکومتونه او ازادی له منځه يوسي او يا يې محدودې کړي. او يو مرکزي حکومت رامنځته او ټولې پرېکړې يې په خپل ځان پورې منحصرې کړې، د يو قوي مرکزي حکومت رامنځته کېدل د هغو خلکو په منځ کې، چې د ګډو تاريخي ادابو او رسومو درلودنکي وو. د ملي وحدت لپاره يو تاريخي ضرورت وو او ډېرې ګټې يې له ځان سره درلودې، خو هغه وخت حکومتونه د سيمه ييزې ادارې د له منځه تلو باعث شول، پېړۍ وړاندې دا چې سياسي سازمانونه او د ټولنو حکومتونه د تکامل دغه حد ته ورسيږي حکومتونو د کوچنيو واحدونو په سطح اعتبار او وجود درلود، دغه کوچني سيمه ييز حکومتونه په ختيځ او خصوصاً په منځمي ختيځ کې د اوږدو تاريخي سوابقو لرونکي دي، د دغه کوچنيو سيمه ييزو حکومتونو تدريجي بدلون د دې باعث شو، چې د لومړي ځل لپاره په دغه منطقه کې غټې امپراطورۍ رامنځته کړې، په اروپا کې هم ترملي حکومتونو د سيمه ييزو حکومتونو سابقه ډېره پخوانۍ او قديمي ده په يونان کې مخکې له دې، چې ملي حکومت تامين شي، کوچنيو سيمو د ښار په نامه وجود درلودې، چې د خپلې ازادۍ د ساتلو په خاطر يې يو د بل سره جنګونه کول او پېړۍ يې وکولای شول، چې ملي وحدت د رامنځته کېدو مانع شي.[1]

ځينې هغه هيوادونه چې اوس د پرمختګ په حال کې دي، لکه کانګو، افغانستان، او لبنان، چې تر اوسه هم سيمه ييز حکومت په خلکو کوي، چې په دوی کې تر اوسه پورې ملي حکومت په واقعي ډول خپل اقتدار نه دئ ترلاسه کړئ، زموږ په هيواد کې تر مشروطه نظام مخکې او حتی کلونه وروسته له هغه يو مرکزي حکومت، چې وکولای شي خپل نفوذ په ټوله هيواد کې خپور کړي وجود نه لري قبايلو او ټولو سيمه ييزو قدرتونو بې له دې، چې د مرکزي حکومت سياست او غوښتنو ته توجه وکړي په هر ډول، چې به يې خوښه وه خپلې داخلي چارې اداره کولې. والي، چې د بادشاه له خوا به د اشرافو او

---

۱ـ څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سيمه ييزو حکومتونو اداره، کندهار : عرفان خپرندويه ټولنه لومړی چاپ، ص (۸۶)

ketabton.com - The Digital Library

شاهزادګانو له منځ څخه د ولایت لپاره ټاکل کېده یو مستقل ولایت یې په لاس کې اخیست او په خپله به یې د اخلافاتو په حل او فصل کې کړنې ترسره کولې. [1]

## څېړنیزه ستونزه: (Research Problem)

د افغانستان مرکزي او سیمه ییزې حکومتولۍ لکه څرنګه چې ضرورت او اړتیا ده تر اوسه پورې په هغه کچه یو روښانه لرلید نلري او که ویې لري خلک او کارمندان یې ترې ناخبره دي، د دوی ترمنځ تر اوسه پورې په اکثریت مواردو کې اړیکې ګونګې پاتې دي. له سیمه ییزې حکومتولۍ څخه موخه ولایت او ولسوالۍ دي. دغه ادارې لا هم لکه څنګه چې باید فعاله وي، هغسې نه دي فعاله، د نفوس د تراکم او یا ابهام، جغرافیایي پولو او حدودو د ابهام، د خپلواک بودجوي واحد د نشتوالي، د مرکز د نه پاملرنې او ګڼو نورو لاملونو له مخې سیمه ییز مسوولین نشي کولی خپلې ورسپارل شوې دندې چې ښه حکومتولي او خلکو ته د اسانتیاو او خدمتونو برابرول دي په ښه توګه ترسره کړي. د سیمه ییزې حکومتولۍ عمده ستونزه د خپلواک بودجوي واحد نشتوالی دی. دوی ته ځکه خپلواک بودجوي واحد په پام کې نه دی نیول شوی چې د هر ولایت هره سکتوري برخه پلازمېنه کابل کې په یو وزارت پورې تړلې ده. د دې تاوان دادی چې ځینې وزارتونه له لویه سره او ځینې بیا د ولایتونو په کچه ستونزې لري، یانې په ولایت کې د دوی استازی او مسوول دومره ظرفیت او توانایي نه لري چې خپله کلنۍ برنامه د یاد ولایت اړوندو ستونزو او لومړیتوبونو ته په پام سره پلان جوړ او تطبیق کړي. همدارنګه په بېلابېلو سکتوري ریاستونو او برخو کې د منابعو د کنټرول او څارنې برخه هم کمرنګه او کمزورې ده. په دې برخه کې بله عمده ستونزه داده چې ځینې ولایتونه یا اړوند سکتوري ریاستونه پر خپل وخت بودیجه نشي ترلاسه کولای، حتی د کال په دویمه یا دریمه ربعه کې ناوخته ورته بودیجه ورکول کېږي. له همدې امله په اکثره ولایتونو کې د بودیجې معقول مصرف او موثریت کم دی او هغه خدمات او اسانتیاوې چې باید خلکو ته برابرې شي، پر وخت نه برابرېږي.

په ولایتونو کې د بېلابېلو سکتوري ادارو نه همغږي او نه همکاري د سیمه ییزې حکومتولۍ یوه بله ستونزه ده، چې له امله یې وخت، منابع او فرصتونه ضایع کېږي. د بېلګې په توګه پوهنې یا کلیو پراختیا ریاست د ښوونځیو او انکشافي چارو لپاره کافي بودجه لري او پر وخت هم انتقال شوې، خو یاد ریاستونه د بودجې د مصرف او انکشافي چارو د ترسره کولو لپاره په سیمه کې د امنیتي سکتور همکارۍ ته اړتیا لري، تر څو د سروې، ډیزاین او انکشافي چارو د پیلولو او تطبیق لپاره امن او خوندي چاپیریال ورته برابر شي، خو د یاد سکتور د نه همکارۍ له امله د سکتوري ریاستونو منابع، وخت او فرصتونه ضایع کېږي او خلک له خدماتو محروم پاتې کېږي. په سیمه ییزه حکومتولۍ او ځینو ولایتونو کې د فساد او انحصار د شتون شکایتونه هم موجود دي. یانې ځینې سکتوري ادارې او ریاستونه د خلکو په شخصي کاروبار او سوداګرۍ بدلې شوې دي. یوازې او یوازې د څو مشخصو افرادو او اشخاصو په خدمت کې دي. یا باید یوازې د هغوی چارې پرمخ بوځي او یا هغوی ته د میاشتې معلوم باج ورکړي کنه له دې ذ مه وارۍ به یې ګوزاره سخته وي. د سیمه ییزې حکومتولۍ د لومړۍ درجه مسوولینو یانې والي او امنیه قوماندان او همدارنګه د اړوندو وزارتونو د مسوولینو مسوولیت دی چې خپلې اړوندې

---

[1] څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سیمه ییزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه لومړی چاپ، ص ۸۶-۸۷

ketabton.com - The Digital Library

اداري او رياستونه د دغه ورڼ فساد او انحصار له حالته وباسي او په خدمتګارو ادارو يې بدلې کړي. په دې برخه کې د ولس او خلکو رول هم ډېر مهم دی. دوی دې اوله درجه مسوولينو ته د فاسدو او انحصاري او بې کفايته ادارو په اړه خپل مستند شکايتونه وکړي. حتی په دې اړه دې سوله ييز لاريونونه وکړي، ځکه د خلکو غږ او اقدام په دې برخه کې مهم دی تر څو يو مثبت ولسي فشار وارد شي او د همدغه فشار له امله ټول مسوولين متوجه شي او اقدام وکړي. تر هغو چې د سيمه ييزې حکومتولۍ په کچه دا او دېته ورته نورې ستونزې او بې عدالتۍ له منځه لاړې نشي او خلکو ته پر وخت او مهمې اسانتياوې او خدمات وړاندې نشي، نو تر هغو به د حکومت او ولس تر منځ شته واټن د کمېدو پرځای برعکس ورځ تر بلې زيات شي.

## د موضوع پېژندل: (Introduce of tittle)

لکه څرنګه چې يويشيمه پېړۍ د غير متمرکزې ( سيمه ييزې ) حکومتدارۍ عصر ګڼل کيږي، په دې عصر کې اصلاحات او ستراتيژۍ ټولې په غير متمرکزه حکومتدارۍ کې رامنځته کيږي، غير متمرکزه حکومتداري د شفافيت، حساب، کتاب، ځواب ويلو او همدارنګه د ښې حکومتولۍ ضمانت کوي.

نن د انکشاف يا پرمختګ په زده کړو کې ولسواکي (Democracy) او غير متمرکزه حکومتداري (Decentralization) د هيوادونو د پرمختګ اساس جوړوي. نن ورځ د پرمختګ فعاليتونه د بيروکراسۍ د کمولو او د ادارو د غيرې متمرکز کولو سره نښتي ښکاري، ترڅو وکولای شي د نړيوالتوب او ازاد بازار اړتياوو ته سم ځواب ووايي، نو په همدې اساس سيمه ييزه حکومتولۍ او د هغو مديريت نه تنها په ولسواکو هيوادونو کې ورځ تربلې رشد او وده کوي، بلکې په هغه دولتونو کې، چې هغه ولسواک ندي هم ورځ تربلې غښتلې او مخ پر وړاندې حرکت کوي، دا چټک پرمختګ نه تنها، چې تر غربي نړۍ پورې محدود نه شو، بلکه ريښې يې شرقي نړي ته هم ورسيدې. سيمه ييزه حکومتولي ټولو هغو طبقاتو د حکومتولۍ ته راجع کيږي، چې د مرکزي يا ملي حکومت څخه ښکته خواته ترسره کيږي. دا اصطلاح کيدای شي، يو څه ګډوونکي وي، ځکه په فدرالي حکومتونو کې، لکه په امريکا کې هر فيدريشن يا ايالت ته د سيميزې حکومتولۍ واحد ويل کيږي، همدارنګه د يا ولايت او د ښار حکومتولي ته هم د سيمه ييزې حکومتولۍ کليمه استعماليږي. په عمومي توګه، موږ ويلای شو، چې مرکزي حکومت د ملي حاکميت، اړوند مسايلو د بررسي، لکه د بهرني سياست د پلي کولو د پاره استعماليږي، خو سيمه ييزه حکومتولي له مرکزي حکومت يا ملي حکومت څخه په راښکته کچه د حکومتولۍ مسايلو سره سرو کار لري. خو بيا هم په اوسنۍ نړۍ کې، لکه د اروپا په اتحاديه کې دا بحث نور هم مغالطې ته ځي، چيرې چې بهرنی سياست د سيمې په کچه ترسره کيږي نه د هيواد په کچه. اداري جوړښت او د حکومتدارۍ واکونه د سيمې په کچه د مختلفو هيوادونو په وړاندې مختلف دی، د مرکزي حکومت څخه ښکته حکومتي پوړ عموماً د اداري جوړښتونو يا اداري واحدونو او د سياسي واک لرونکی وي. سياسي سيمه عبارت له هغه سيمې څخه ده، چې د انتخابي حکومت لرونکې وي. او اداري ساحه يا سيمه عبارت له هغې سيمې څخه ده، چې د يو خدمت (يا عامه خدماتو) د عرضې او کنترول د پاره ايجاد شوې وي. موږ په عمومي توګه دا خبره نه شو تثبيتولای، ځکه د مثال په ډول په هالند کې سياسي سيمه نيغ په نيغه د ملي حکومت څخه را ښکته پوړ د حکومتولۍ نه دئ، بلکې د ولايت او ښار ترمنځ واقع سياسي

ketabton.com - The Digital Library

جوړښت دئ. یوه لاره د سیمه ییز حکومت د مطالعې یا رامنځته کېدو لپاره هغه د سیمو ایجاد یا د سیمه ییزې حکومتولۍ د رامنځته کېدو پروسه ده. د سیمې پالل (Regionalism) سیمې په کچه جغرافیو رامنځته کول دي، چې عموماً د مرکزي حکومت په خلاف ترسره کیږي، خو سیمیز کول (Regionalization) بیا د حکومت په واسطه ترسره کیږي، ترڅو د سیمې په کچه محلي حکومتولی او محلي ادارات رامنځته کړي. د سیمې پالل یا ریجنلیزم یو ایډیالوژیک یا سیاسي حرکت یا خوځښت دئ، چې د سیمې په کچه، چې د ځانګړي جغرافیې سره سمون خوري د ځانګړي سیاسي جوړښت یا پیژندګلوۍ پر بنسټ د سیمیز حکومت رامنځته کولو پروسې ته ویل کیږي، لکه د نشنلزم په څېر ریجنلیزم هم د اروپا په ګڼو سیمو کې د نولسمې پېړۍ په اوږدو کې وده وکړه. ګڼو خلکو د ګډو ځانګړنو یا ټولنیزې پیژندګلوۍ (Collective Identities) له مخې د سیاسي ګډو جوړښتونو رامنځته کولو ته مخه وکړه. د هغو کوښښونو په المان او ایټالیا کې، د مثال په ډول د نویو دولتونو د رامنځته کېدو سبب شو، کوم چې د سیمو په کچه رامنځته شول. په دې برخه کې داسې کوښښونه هم ترسره شوي، چې د سیمې په کچه نوی سیاسي جوړښتونه یا دولتونه د امپراطوریو له خېټو راجوړ کړي. سیمه جوړونه (Regionalization) بیا ډیر له پاسه د ښکته خوا سیاست ته ویل کیږي. یا داچې دا تر ډیره بریده د ادراي جوړښت د رامنځته کېدو په مانا وي نسبت سیاسي تشکیل یا اداري جوړښت رامنځته کولو ته په ښکاره، مرکزي حکومت کوښښ کوي، چې د اداري چارو د سمونو او سمبالښت دپاره د سیمې په کچه اداري واحدونه رامنځته کړي. سیمه جوړونه کیدای شي داسې رامنځته شي، چې مرکزي حکومت ټول واکونه له ځان سره خوندي وساتي اویا دا چې مرکزي حکومت ځینې ځانګړې اداري واکونه په خپلواکه توګه سیمیز حکومت ته محول کړي. په داسې جوړښت کې عموماً مالي مسایل یا واکونه تل د مرکز او سیمې ترمنځ د کشمکش د را پیدا کېدو سبب ګرځي. مالي اړیکې عموماً د حکومت د اداري واحدونو ترمنځ جنجالي مسایل ګڼل کیږي. مرکز عموماً د خپلو اقتصادي پلانونو په لرلو سره غواړي په مالي مسایلو کنترول ولري د کومو پایلې، چې عموماً د سیمې د حکومتونو په کړنو او جوړښت اغېزه ښندي، د مثال په ډول، د پیسو په پرسوب به مرکزي حکومت په ډېرو سختیو کنترول لرلای شوای، په هغه صورت کې که چیرې سیمه ییز حکومتونه د پرسوب یا د پیسو د نرخ په ټاکلو کې ښکیل وای. همدارنګه سیمه ییزې اداري یو ډول مالي خپلواکۍ ته اړتیا لري ددې دپاره که چیرې هغوی د یو هیواد د اداري کارونو د مخ بیولو او تنظیم د پاره په دندو ګمارل کیږي او یا هم د مرکز د پالیسیو د عملي کېدا غوښتنه ترې کیږي.[1]

لکه څرنګه چې د افغانستان حکومت د اساسي قانون په اساس په مرکزي او محلي حکومتونو باندې ویشل شوی، نو په همدې اساس داساسي قانون (۸ ) اتم څپرکی د اداري تر عنوان لاندې لیکلو سره ۱۳۶ ماده یو مرکزي حکومت پیش بیني کوي، نو په همدې اساس د جوړښت له پلوه د افغانستان د اساسي قانون (۸ )اتم څپرکی، په ملي کچه د وزارتونو په چوکاټ کې د اداري واحدونو او همدارنګه په سیمه ییزه یا ټیټه کچه د ولایتونو، ولسوالیو، کلیوالي شوراګانو او د ښاروالۍ د بنسټونو د ایجاد وړاندویونه کوی. د اساسي قانون په اساس سیمه ییزه حکومتولۍ د مرکزي حکومت برخه او جز ګرځي، چې اکثریت مهمې پریکړې د مرکزي حکومت لخوا کېږي، چې په بنسټیزه توګه د مراتبو د لړۍ د

---

۱ څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سیمه ییزو حکومتونو اداره، کندهار : عرفان خپرندویه ټولنه لومړی چاپ، ص ۸۶،۷۳

ketabton.com - The Digital Library

عمودي اړیکو د مخنیولۍ له مخې پر مخ ځي. په دې لیکنه کې زه د افغانستان د سیمه ییزې حکومتولۍ مدیریت او جوړښت ته کتنه کوم.

## څېړنیزه پوښتنه ( Research Question)

آیا د افغانستان د سیمه ییزې حکومتولۍ اوسنۍ وضعیت څرنګه ارزولای شو؟

## د څېړنې اهداف ( Research goals)

- څو په دې برخه کې ښه پوهه ترلاسه شي چې په اوسني وخت کې د افغانستان په سیمه ییزه کچه او په تیره بیا د حکومت تر نفوذ لاندې سیمو کې، حکومتداري څنګه کار کوي.
- د سیمه ییزې حکومتولۍ په تګلارې کې له اوسني سمون سره د سیمه ییزې حکومتولۍ د پلي کوونکو د کارونو، ونډو، بهیرونو، چوپړونو،مسوولیتونو او صلاحیتونو په اړه پوره وضاحت کول؛

## د څېړنې اهمیت او ضرورت:

د سیمه ییزې حکومتولۍ د سېستم کاري ډګر ډېر مهم دی. د عامه خدمتونو رسونه د اداري د سیمه ییزو واحدونو لخوا په ځایي کچه ترسره کېږي، خو د دغو چوپړونو په اړه مهمې پرېکړې د مرکزي حکومت لخوا کېږي، چې په بنسټیزه توګه د مراتبو د لړۍ د عمودي اړیکو د مخنیولۍ له مخې پر مخ ځي.

په ټولنه کې د سازمانونو خپله اداره کول د انسانانو له طبعي اړتیاوو څخه دي، خو د ټولنیزوالي ځانګړنې پربنسټ هیچاته هم اجازه نشته چې په وګړنیز شکل خپلې اړتیاوې په خپله پوره کړي یا په یوازېتوب ژوند وکړي؛ نو د ټولنیز ژوند د پرمخ بیولو په خاطر په ملي، ایالتي، او محلي کچه د سیستم موجودیت ته اړتیا ده؛ ترڅو د بشري ژوند بېلا بېلې برخې ترتیب او تنظیم کړي او دسپلین رامنځته کړي.

د همدغو برخو د ترتیب او تنظیم په پار دولت (نظام) رامنځته کېږي، د ملي ګټو د ساتنې او او امورو تنظیمولو لپاره ځانته بېلابېلې اداري او مدیریتونه جوړوي؛ څو په ملي او سیمه ییزه کچه دعوامو د ژوند سطحه لوړه کړي، ټولې ستونزې له منځه یوسي او یو هوسا او پرمختللې ټولنه رامنځته کړي.

افغانستان چې ۳۴ ولایتونه، کابو ۴۰۰ ولسوالی او زرګونه کلي لري. د سیمه ییزې حکومتولۍ کاري ډګر په دې مهم دی، چې د پلازمېنې کابل ښار له چارو پرته د پرېکړې کولو ټول بهیرونه پکې باید شامل وي.

ketabton.com - The Digital Library

## تېرو ليکنو ته کتنه (Literature Review)

ددې څېړني موضوع (په افغانستان کې د سيمه ييزې حکومتولۍ اوسني وضعيت ته کتنه) ده، دا ډول څېړنۍ په افغانستان کې د سيمه ييزې حکو متولۍ تر عنوان لاندې او دېته ورته موضوع ګانو په اړه ډيرې زياتې ليکنې او څېړنې ندي شوي تر اوسه پورې يې واکونه او مسوليتونه سم نه دي روښانه شوي، په اکثريت مواردو کې ګونګ پاتې دي خو بيا هم ځينې نړيوالو د افغانستان په سيمه ييزه حکومتولۍ کې ځينې ليکنې او څېړنې د افغان حکومت ســره په ګډه همکاري پدې برخه کې کړې دي ، چې ځينې يې په لاندې ډول دي.

د افغانستان د څېړنی او ارزونی اداره (AREU) ،او د جرمني د اقتصادي همکاريو او پراختيا فدرالي وزارت ترتمويل لاندې،آريا نجات، کرېستوف ګوستوني، بصير فدا، او يان کولر،۱۳۹۵ کال کې په (په افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولي) تر عنوان لاندې څېړنه ترسره کړې، چې هدف او نتيجه يې د شـورا ( د سـيمه ييزه پرمختيايي شـورا کاري فعاليت ، د شـورا بنـکيلتيا ، ټاکنې او د ملي پيوسـتون پروګرام تاديات ) د راتلونکي او د ولسـوالۍ او کلي په کچه د حکومتولۍ په اړه د برداشـتونو، ترمنځ اړيکې پيدا کول وو. کوم معلومات چې دوی په دې برخه کې وړاندې کړي، غواړم چې دې برخه کې نور معلومات هم ور اضـافه کړم، لکه : په اوس وخت کې د سيمه ييزو شوراګانو رول، د ولسـوالۍ او کلي د اړيکو ارزونه؛ هغه څه دي چې زه غواړم ورته کتنه وکړم.

هيمش نيکســن،۱۳۸۷ل، ددې عنوان لاندې ( په افغانســتان کې د ســيمه ييزحکومت جوړونه)، ژباړه، امان الله اتل، د ۱۳۸۸ل، څېړنه ترسـره کړې چې نتيجه او موخه ددغه څېړنې د ۲۰۰۲ م کال راپدې خوا په افغانستان کې په بيلابيلو سيمه ييزو کچو کې د حکومت جوړونې د نوښتونو د يوی لړۍ په هکله د شواهدو او ليدنو کتنو تشريح او انځورول و و. د لته زما هدف د ( ۲۰۰۲م ) کال را پدې خوا هغه بدلونونه جې د سيمه ييزې حکومتولۍ په جوړښت کې رامنځته شوي ددې څېړنې په اساس غواړم ورته کتنه وکړم. چې آيا تراوسه په سيمه ييزه حکومتولی کې هغه د ۲۰۰۲ م کال ستونزې حل شوي؟

د افغانسـتان د څيړنی او ارزونی اداره(AREU) ،او د جرمني د اقتصـادي همکاريو او پراختيا فدرالي وزارت ترتمويل لاندې، نعمت الله بېژن او فرحت اميل، ۱۳۹۵ل، (په افغانسـتان کی د پلان او بوديجی جوړولو بهيرغير مرکزی کول) تر عنوان لاندې څېړنه ترسره کړې، د دې څېړنې اصـلي هدف او نتيجه دا وه چې په افغانســتان کی د پلان او بوديجی جوړولو بهيرغير مرکزی کول څومره موثر او ګټور دي. زه غواړم معلوم کړم چې د افغانستان په سيمه ييزه حکومتولۍ کې د پلان او بوديجې په هغه اوســنی مېکانيزم چې ورڅخه اســتفاده کيږي څنګه دئ؟ ، او هم په اوس وخت کې د پلان او بوديجې د غير مرکزي کولو موثريت څومره ګټور دی؟ غواړم ورته کتنه وکړم.

همدارنګه د افغانستان د څېړنی او ارزونې ادارې په معلوماتي پاڼه کې د (سارا ليستر او هيمش نيکســن،۲۰۰۶م)، څېړنه (ژباړونکی: احمدالله امرخيل) چې عنوان يې (په افغانســتان کې د ولاياتو د حکومت جوړښتونه له ګډوډيا څخه د سمون په لور) تر سره شـوي ده داهميت وړ ده. غواړم معلوم کړم چې د ۲۰۰۶ م کال څخه تر اوسه دې ګډوډيو ته کومې د حل لارې وړاندې شوې؟

ketabton.com - The Digital Library

همدارنګه د په ایران کې د سیمه ییزې حکومتولی په باره کې د دکتر ابراهیم رومینا، څېړنه چې په (۱۳۹۵ل) کال کې ترسره کړې، د څېړنې موضوع، (تاثیر تخصص گرایی بر کارکرد دولت محلی، مورد: شورای اسلامی شهر ایران)، چې نتیجه یې په تهران کې په سیمه ییزه حکومتولی کې د ولایتي شورا لپاره د مسلکي اشخاصو د نشتون ، د دوی د تجربې نشتون او په سیاسي سلیقه د دوی انتخاب له وجې د دولت کارونو ته څنډ جوړ کړی. دلته زه غواړم معلوم کړم چې آیا دغه ستونزې د افغانستان په سیمه ییزه حکومتولۍ کې هم شته او کنه؟

## د څېړنې میتودولوژي (Research Methodology)

په دغه څېړنه کې ما د دوهم لاس معلوماتو (secondary data) څخه ګټه اخیستې ده، دغه دوهم لاس معلومات مې په سیستماتیکه توګه ، په افغانستان کې اړوند اداراتو څخه چې پدې برخه کې معیاري لیکنې کړې، همدارنګه د معیاري کتابونو، مقالو، څېړنو، قوانینو، ژورنالونو او انترنېټ څخه ترلاسه کړي.

هڅه مې کړې چې هغه معلوماتو ته ترجع ورکړم چې د قوي اعتبار څخه برخمن وي، تر څو په راتلونکي کې مو مونوګراف د اعتبار او استفادې وړ واوسي.

ketabton.com - The Digital Library

# لومړی څپرکی
# سیمه ییزه حکومتولي

## لومړی مبحث ـ د سیمه ییزو حکومتونو تاریخچه

په علمي لحاظ د سیمه ییزو حکومتونو رامنځته کېدل د دوه عمده فلسفي جریانونو د برخوردونو نتیجه ده چې دغه جریان عبارت دی له (چارې خپله اداره کول او مطلوب مدیریت)؛ نو چارې خپله تنظیمول یا اداره کول هم عملي اړتیا ده او هم فلسفي،ځکه چې چارې خپله اداره کول د انسان په فطرت کې نغښتي دي او ټول ورته ترجیع ورکوي؛ نو په دې اساس چارې په خپله اداره کول هغه انسانان پرمخ بیایي، چې په ګروپي فعالیتونو کې ګډون لري چې په خپل نوبت سره د خود مختاری او آزادئ ښکارندویي کوي. په خپله د اداره کولو انګېزه ځکه رامنځته شــوې چې وګړي خپل ځانونه د پرېکړو په نیولو کې شریک ګڼي؛ نو همدغه آمر د محلي ادارې سره د خلکو لیوالتیا زیاته کړې؛ څو د چارو په تنظیم او اداره کولو کې برخه واخلي. دا چې په خپله اداره کول (تنظیمول) هم حکومت اوهم خلکو لپاره مطلوبې پایلې لري؛ نو همدغه ځانګړنه بشـري ټولنه اړکړه، چې د سـیمه ییزو حکومتونو په تشـکیل کې په خپله اداره کولو روش اختیار کړئ؛ نو تاریخي شواهد ښايي چې دسیمه ییزو حکومتونو شکلونه د ډېر پخوا راهیسي موجود وو. د سیمه ییزو حکومتونو د تاریخي ریښـي زیاتې بېلګې شته. لکه، د انګلستان انګلوساکسون دنهمې (۹ز) پېړۍ په اوایلو کې د کلانتر (قبیله ای) سیمه ییز حکومت درلود، چې د نظم او ارامتیا (نظم او امنیت) خاصې چارې یې ترسره کولې. همدارنګه په نهمې (۹ز) پېړۍ کې د انګلستان په محلي مناطقو کې واکمنانو د پاچا له لوري د وضع شوي دستور په اجرا اقدام کاوه، چې کرار کرار یې قدرت زیات شو تردې چې د محکمې د اجرائیه رئیس تر سطحې پورې یې ارتقاء پیدا کړه. انګلستان چې کله په (۱۰۶۶ز) کال د نورمن لخوا فتح شو؛ نو په سیمو کې د پاچا د استازي په توګه د نظامي، پولیسـي او نظمیه امورو کې د پاچا استازی وټاکل شو؛ خو د نورمن قدرت ِغوښتنه او د خلکو نه رضایت د دې باعث شو چې پاچا ترې کرار کرار لاس واخلي؛ نو له دې وروسته پولیس او نظمیه چارو ته استازي د سیمې خلکو ټاکل، د امریکا په متحده ایالاتو کې د (۱۹۵۰ز) لســـیزې په اخرنیو کلونو کې همدا اتفاق رامنځ ته شـــو، ایالتي پولیسـو د محلي پولیسـو په عنوان په ښـاري حوزو (ښـاري پولیسـي واحدونو) کې هم خپل نقش له لاسـه ورکړ او پولیسـي چارې محلي واحدونو ته په واک کې ورکړل شـوې. د فیوډالي سیسـتم د زرګونو کلونو حاکمیت وروسته په یادو هېوادونو کې سلطنتي او دیموکراتیک سیستمونو سره محلي ادارې سیستم لوړو پړاوونو ته رسیدلی. تاریخي پېښـي ښايي چې په یو دوره کې سیمه ییزو حکومتونو فعالیتونه پیل کړل او فعال حضـــوریې درلود؛ خو بیا یې په یوه اوږد مهاله دوره کې خپل اهمیت دلاســـه ورکړ؛ البته په دوو وروستیو پېړیو کې یاد سازمانونه بیا جوړ شوي او تر دې دمه خپل حیات ته دوام ورکوي. په فرانسه کې سـیمه ییز حکومتونه د انګلسـتان نورمن حکومت څخه پخوا د فرانکیشـن په سـلطنت کې شـتون درلود او دسلسله مراتبو په اساس د روم جمهوري پورې تړاو درلود.[1]

پس ویلای شـو چې، سـیمه ییز حکومت د دوه عمده فلسـفي جریانونو په پایله کې رامنځته کېږي چې دغه دوه جریانات د مدیریت کوني او په کار اچوني څخه عبارت دي، د مدیریت کوني په اســـاس په

[1] ثاقب، نقیب الله او جعفر، حضرت . (۱۳۹۷ ل) . اداري حقوق . جلال آباد : مومند خپرندویه ټولنه، لومړی چاپ، ص (۳۲ -۳۳)

ketabton.com - The Digital Library

محلي کچه د مشر ټاکنه رامنځ ته شوه او د کاراچوني د فلسفې په اساس هغه فاصله چې په محلي کچه د ټولنې او دولت ترمنځ وجود درلوده له منځه ولاړه، يعنې په محلي سطحه ستونزې درک شوې.[1]

## دوهم مبحث ـ په افغانستان کې سيمه ييزه حکومتداري

د معاصر افغانستان بنسټ د احمد شاه بابا لخوا په (۱۷۴۷) ز کال کېښودل شو، چې په دې توګه يې د حکومتداري اساساتو بنسټونه رامنځته کړل. د افغانستان د حکومتدارۍ جوړښت له پيله د مرکزي سيستم په اصولو ولاړ رامنځته شوي دی، خو د وخت په تېرېدو يې د سيمه ييزې حکومتدارۍ د بنسټونو د تقويې او نويو جوړښتونو د رامنځ ته تګ د پاره زميني برابرې شوې. افغانستان په نولسمه او همدارنګه شلمه پېړۍ کې د بهرنيو يرغلونو تر تاثير لاندې ( چې په خپل وار د انګريز د استعمار او بيا د پخواني شــوروي د اســتعمار تر يرغل لاندې راغی) د حکومتدارۍ د بنســټونو په جوړښــت او ترتيب کې نوې اساسات رامنځته کړل. د افغانستان په سياسي تاريخ کې تر ډېره بريده د حکومتدارۍ اختياراتو او واکونو له مرکز ( امير او پاچا) سـره خوندي پاتې شـول، د حکومتدارۍ سـنتي يا دوديزې بڼې د وخت په تېرېدو پرمختګ وکړ. د افغانستان د کورني سياست پای د ثور د کودتا او بيا د پخواني شوروي له يرغل سره سم رامنځته شـو. د شـوروي يرغل له ماتې سـره سـم افغانسـتان د انارشـۍ خواته ټيل وهل شـو، سـيمه ييزه حکومتداري او مرکزي حکومتداري خپلـه ترټولو بـده بڼـه خپلـه کړه، چې بلاخره د طـالبـانو پـه ايجـاد او راتګ تمامه شـوه. د حکومتدارۍ معاصـره بڼه د طالبانو له ماتې سـره سـم د (۲۰۰۱) م کال څخه را په ديخوا پيل شـوه. افغانسـتان د لومړي ځل لپاره يو جامع او نسـبتاً ښـه اساسـي قانون په کال ( ۲۰۰۴) کې خپل کړ، نوی اساسـي قانون هم د حکومتدارۍ بڼه مرکزي (Centralized) تعريف کړه. د سيمه ييزې حکومتدارۍ د بنســـټونو جوړول او رغول پـه افغانســـتـان کې ډېر وخت او ظرفيتونو تـه اړتيا لري، د افغانستان په تاريخ کې په لومړي ځل په (۲۰۰۵) م کال کې ولايتي شوراګانې جوړې شوې. د ولسواکۍ د دورې له پيل سره په افغانستان کې سيمه ييزې حکومتدارۍ ته په لومړي ځل ځانګړې پاملرنه وشوه. په (۲۰۰۷) م کال کې د ســيمه ييزې حکومتدارۍ چارې او واکونه له کورنيو چارو وزارت څخه د ســيمه ييزې حکومتدارۍ خپلواک رياست ته منتقل يا محول شـول. د سيمه ييزې حکومتدارۍ د خپلواک رياست په جوړښت سره د سيمه ييزې حکومتدارۍ د اساسـاتو د رغولو او رامنځته کولو کار تخصـصـي شـو، نومړي اداره په مستقيمه توګه ولسمشر ته د خپلو کارونو او کړنو په اړه راپور ورکوي. د سيمه ييزې حکومتدارۍ په برخه کې په لومړي ځل په کال ( ۲۰۱۰) کې د سيمه ييزې حکومتدارۍ د پاليسۍ له مخې د سيمه ييزې حکومتدارۍ قوانين رامنځته شول،چې د ولاياتو د چارو قانون، د ولسواليو په کچه قانون، د کليو په کچه قانون او همدارنګه د ښاروالۍو قوانين رامنځته شول.[2]

د ســـيمـه ييزې حکومتـدارۍ پـه پيـاوړتيـا او تقويـه کې د کليو د پراختيـا د وزارت کردار هم ډېر ارزښـــتمن دی. د کليو د پراختيـا وزارت د ملي همبســـتګۍ يـا ( NSP_ National Solidarity Program) له لارې د کليو او بانډو په کچه د مشارکت، د پروژو مديريت، شفافيت او بلاخره د ولس د پياوړتيا او خونديتوب د ظرفيتونو ايجاد او جوړښت ته پام کړی دی. همدارنګه د کليو د پراختيا وزارت د

---

[1] همدرد ، نيازمحمد . (۱۳۹۶ل) . محلي اداره، جلال آباد، يار خپرندويه ټولنه، دوهم چاپ، ص(۴۲ـ ۴۳)
۲ څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سيمه ييزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندويه ټولنه لومړی چاپ، ص (۱۸۰ ـ۱۸۱)

ketabton.com - The Digital Library

کلیو په کچه انکشافي جرګې یا شوراګانې جوړې کړې، چې د سیمه ییزې حکومتدارۍ په ډیره ټیټه کچه د حکومتدارۍ کارونه په مخ بیایي.

## لومړی مطلب ـ په افغانستان کې د سیمه ییزو حکومتونو تحولات

په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتونه ډېرې تاریخي مخینې لري؛ خو درسمي نهادونو تاسیس چې د سیمې د اوسیدونکود پاره په اجرائیوي امورو کې د ګډون زمینه برابروي دنورو نویو سیاسي او حکومتي اداراتو په څېرد جریانونو پورې مشروط شوي دي؛ نو په افغانستان کې د سیمه ییزو حکومتونو تاریخچه څو مختلفو دورو کې د برسۍ وړ ده.

### لومړي جز ـ د امیر عبد الرحمن خان د واکمنۍ پرمهال دسیمه ییزو حکومتومو وضعیت

د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ پرمهال افغانستان په داسې هېواد بدل شو چې د ساده او بسیط مرکزي حکومت لخوا اداره کېده. کابل د هېواد د پایتخت او دسیاسي قدرت او اداري مرکزیت په ډول په رسمیت وپېژندل شو. امیر په خپلو اداري تشکیلاتو کې وزارتونه او کابینه نلرله. امیر افغانستان په جغرافیوي واحدونو ویشلی و چې د حکومت داستازو (والیانو) لخوا اداره کیده. البته په سیمه ییزه سطحه اداري واحدونو ته د صلاحیتونو سپارل د مرکزیت له منځه وړلو دلیل نه ؤ، بلکې دهغه کار موخه په موضوعاتو کې د سیمه ییزو حاکمانو د دخالت لپاره زمینه سازي او اسانتیا برابرول و.[1]

### دوهم جز ـ د امیر امان الله خان د واکمنۍ پرمهال د سیمه ییزو حکومتونو وضعیت

کله چې امیرامان الله خان واکمن شو دده ترمشرۍ لاندې د افغانستان د خپلواکۍ اعلان وشو. سره له دې چې په دې وخت کې افغانستان یو متمرکز هېواد ګڼل کیده؛ مګر دهغه سیمه ییزې ادارې له خپلواکۍ څخه برخمنې وې. (۱۹۲۳ز) کال د اساسي نظامنامې د (۶۳) مادې د لومړي بند په اساس ولایتي ادارو د درېو اصولو له مخې فعالیت درلود:

۱ـ د مرکزي قدرت ټینګښت

۲ـ د دندو وېشنه

۳ـ د څرګندو مسؤلیتونو ټاکل

سیمه ییزې ادارې د مرکزي حکومت لخوا کنترولیدې چې دا کار د فرانسې د نظام له کړنو سره مشابه دی. څرنګه چې مخکې هم وویل شول مرکزي حکومت له وزیرانو، لومړي وزیر او شاه څخه جوړ شوی یو له مهمو وزارتونو څخه د کورنیو چارو وزارت ؤ چې سیمه ییزې اداري واحدونه (مدیریتونه) او مقامات د دې وزارت له فرعي برخو څخه ګڼل کیده. دافغانستان سیمه ییزادارې په ولایتي اداراتو او اعلی حکومتونو وېشل شوې وې. اعلی حکومتونه د والیانو او ولایتونه د نایب الحکمو لخوا اداره کیدل. دنن په څېر د کابل نایب د والي په نامه یادېده. د (۱۹۲۳ز) کال د اساسي نظامنامې (۳۹)

---

[1] ثاقب، نقیب الله او جعفر، حضرت . (۱۳۹۸ ل) . د سیمه ییزو حکومتونو مدیریت، جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه، لومړی چاپ، ص (۳۴ ـ۳۵)

ketabton.com - The Digital Library

مادې پر اساس هر ولايت يو مشورتي مجلس درلود چې نوموړی مجلس به د ولايت د حساسو او مهمو مسائلو لکه دمالي، امنيتي او نورو موضوعاتو په تړاو فعاليت کاوه.[1]

هغه مهمې ادارې چې د ولايتي ادارو تر څنګ رامنځته شوي عبارت دي له:

۱ـــ مستوفيت (د دارايۍ اداره): د دې ادارې مشر ته مستوفي ويل کيده چې د شاه لخوا دې مقام ته ټاکل کيدل، د ولايت مالي څانګې په يو ولابت کې د هماغه ولايت د مستوفيت تر نظر لاندې کار کاوه، خو کله به چې د اړوندو ادارو کارمندان د نافذه مالي نظامنامې او لارښوونو مطابق عمل ونه کړ، مستوفي شخصاً د هغه په اړه څېړنې کولی شوې چې بيا به يې هغه والي ته وړاندې کولې، همدارنګه د والي په غياب کې مستوفي د ولايت د سرپرستۍ ورتيا درلوده.

۲ـ د پوهنې اداره.

۳ـ د کرنې اداره.

۴ـ د بهرنيو چارو اداره.

۵ـ د خزانه دارۍ اداره.

په دې دوره کې (لوی حکومت، حکومت، علاقه دارۍ او کلي) مهمې چارې ترسره کولې، چې په لاندې ډول روښانه کيږي:

۱ـ لوی حکومت: ولايتونه د فرعي واحدونو په توګه په لويو حکومتونو وېشل شوي وو چې دغه هر واحد لوی حکومت به د لوی حاکم له خوا اداره کېده، د ګڼو مديريتونو لکه مالي مديريت، بهرني مديريت او نورو ترڅنګ دغه هر فرعي واحد او لوی حکومت يو مشورتي مجلس هم درلود. دغه مشورتي مجلس د ولايت د مشورتي مجلس په څير صلاحيتونه لرل چې د لوی حکومت تر چارو پورې محدود وو.

۲ـــ حکومت: لوی حکومتونه خپله په داسې حکومتونو وېشل کيدل چې هر حکومت به د يو حاکم لخوا اداره کېده. د دندو او صـــلاحيتونو حدود به ورته د والي لخوا ټاکل کيدل. واليان به دهغه وخت د کورنيو چارو وزارت د مامورينو له خوا نومانـد او بيا بـه د کورنيو چارو د وزير لـه خوا د والي پـه توګه ټاکل کيدل.

۳ـــ علاقه داري: د سيمه ييزو حکومتونو څانګې او برخې علاقه دارۍ جوړوي چې د علاقه دار لخوا به اداره کيده.

۴ـــ کلي: علاقه دارۍ بيا په کليو وېشل شوې وه چې د هر کلي چارې به د همغه کلي د ملک لخوا اداره کيده.

[1] ثاقب، نقيب الله او جعفر، حضرت . (۱۳۹۸ ل) . د سيمه ييزو حکومتونو مديريت، جلال آباد : مومند خپرندويه ټولنه، لومړی چاپ، ص (۳۵ ـ۳۶)

ketabton.com - The Digital Library

### دریم جز- د امیر امان الله خان تر واکمنۍ وروسته د سیمه ییزو حکومتونو وضعیت

د امیر حبیب الله خان کلکاني د حکومت له سقوط څخه وروسته نادرشاه قدرت ورسید. نادرشاه په (۱۹۳۱ز) کال کې نوی اساسي قانون تصویب کړ او سیمه ییزې اداري یې له نهو (۹) ولایتونو او اعلی حکومتونو څخه جوړې شوې وې. ولایتونه په (۱۲) لویو حکومتونو، لوی حکومت پر (۱۰۲) حکومتونو او حکومت په (۱۶۳) علاقه داریو وېشل شوې وو. په دې وخت کې د محلي اداري جوړښت (۱۳۰۵ل) کال د اساسي نظامنامې له مخې د اداري جوړښت ته ډېر ورته و، سره له دې په دې دوره کې عمده فرق د ولایتي مشورتي مجلس نقش و، چې هر مشورتي مجلس له ټاکل شویو او استحقاقي غړو څخه جوړ و. ټاکل شوي غړي د پارلمان د غړو د استازو په توګه ګڼل کېدل او استحقاقي غړي د مرکزي ادارو د رئیسانو او وزیرانو د استازو په توګه نقش لاره او د لویو والیانو تر نظر لاندې یې دنده تر سره کوله. د یادونې وړ ده چې ولایتي مشورتي مجلس یوازې اداري ورتیا نلرله؛ بلکې قضایي ورتیا یې هم لرله چې په لاندې ډول یې ځینې اقدامات ترسره کول:[1]

### ۱- قضایي صلاحیتونه

۱) که چیرې یو کس د ذیصلاح محکمې له خوا مجرم ونه پیژندل شي،موضوع باید مشورتي مجلس ته راجع او هلته تر غور او برسۍ لاندې ونیول شي، وروسته تر دې اړونده محکمه کولی شي چې خپل تصمیم د تورن د برائت په بنا صادر او یا هغه په جزا محکوموي.
۲) د اداري کارمندانو او پرسونل څارنه.
۳) د حقوقو د نقض قضیو ته کتنه، چې په هغه نقض کوونکی له سلو (۱۰۰) افغانیو څخه په زیاتې نقدي جزاء محکوم شوي وي. یا کومه قضیه کې د استیناف غوښتنې صلاحیت موجود نه وي، یا په اصول نامه کې د جزاء د تطبیق لپاره قانوني دلیل وړاندې شوی نه وي.

### ۲- تقنني صلاحیتونه

د هغه مورد په اړه د نظر څرګندولو حق لرل چې د قانون په واسطه پیش بیني شوي نه وي.

### ۳- اداري صلاحیتونه

۱) د ولایتي نویو کارکوونکو د استخدام په اړه د نظر د څر ګندولو حق.
۲) د ولایتي بودیجې په اړه د نظر د څرګندولو حق.
۳) د احتکار[2] او د هغه د مخنیوي په اړه د خبرو کولو حق.
٤) هغه ټول موضوعات چې د اصولنامو او قوانینو له مخې د مجلس د صلاحیت په چوکاټ کې قرار لري.

---

۱ ثاقب، نقیب الله او جعفر، حضرت . (۱۳۹۸ ل) . د سیمه ییزو حکومتونو مدیریت، جلال آباد : مومند خپرندویه ټولنه، لومړی چاپ، ص ۳۲_۳٦

۲ **احتکار**: د قیمتونو د لوړتیا په موخه د خوراکي توکو پټول دي

ketabton.com - The Digital Library

## څلورم جز- د ظاهرشاه د واکمنۍ پرمهال د سیمه ییزو حکومتونو وضعیت

د نادر شاه له ترور څخه وروسته ظاهرشاه په (۱۹۳۳ز) کال د نومبر د میاشتې په (۸) نېټه هغه مهال چې خپله د ظاهرشـــاه عمر نولس (۱۹) کاله و، د افغانســـتان د پادشـــاه په توګه د واکمنۍ پر تخت کېناست. په (۱۹۶۴ز) کال کې نوی اساسـي قانون تصـویب شو. د افغانستان یو واحد او ساده هېواد و، اداري نظام يې د تمرکز ګرايي د اصـــل پربنیاد ولاړ و، د مملکت اداره په بې شـــمېره واحدونو ووېشـــل شوه، چې هر واحد دیو وزیر لخوا اداره کېده، د اساسي قانون د (۱۰۸) مادې له مخې سیمه ییزې ادارې په ولایتونو ووېشـل شـوې. د (۱۰۹) مادې له مخې هر ولایت د یو ولایتي حکومت او یوې ولایتي شـورا لرونکی و، ولایتي شـوراګانې د عمومي، ازادو، خپلواکو او سریع ټاکنو له لارې جوړېدې او سیمه ییزو ادارو ته يې د مشـورو دنده په غاړه وه، څو د مرکزي دولت د پرمختیايي موخو د تحقق په پروسـه کې د اړوند ولایت په خوا کې برخه ولري. سـرېېره پردې د ښـــاري چارو د تنظيم او ترســـره کيدو په خاطر ښاروالۍ رامنځته شوې.

## پنځم جز - د سردار محمد داوود خان د حکومت پرمهال دسیمه ییزو حکومتونو وضعیت

محمد داود خان چې په خپل وخت کې د اداري اصـلاحاتو یو پلوی ګڼل کېده. د هغه د ولسمشـرۍ دوره له (۱۹۷۳ز) کال څخه د هغه تر وژلو یعنې تر (۱۹۷۸ز) کال پورې وه، چې د افغانســـتان د خلق دیموکراتیک ګوند په کودتا منتج شوه، په (۱۹۷۶ز) کال کې نوی اساسـي قانون چې په افغانستان کې يې نوی جمهوري نظام اعلان کړ او په (۱۹۷۶ز) کال د اسـاسـي قانون د (۲۶) مادې پر اسـاس دافغانسـتان اداري نظام د تمرکز ګرايي په اصل راجوړ شو. حکومت تر ټولو لوړ ارګان و، د اساسي قانون د (۸۸) مادې له مخې محلي حکومت د مرکزي حکومت او ولسمشـر تر امر لاندې يې دندې ترسـره کولې، جوړ و.

## شپږم جز - د (۱۳۵۷ل) کال د ثور له انقلاب وروسته د سیمه ییزو حکومتونو وضعیت

د افغانســـتان د خلق دیموکراتیک ګوند په (۱۹۷۸ز) کال کې قدرت ته ورسـید، همدارنګه په دې دوران کې افغانســـتان د اداري متمرکز نظام او دســـیمه ییزو ادارو په توګه د ولایتونو لرونکی و. اداري جوړښـت کې کوم د پام وړ بدلون رانغی،سـره له دې چې دغه دوره تاريخ ليکونکو ته د زياتې علاقې او توجه وړ ده؛ د کمونستامو له زوال څخه وروسته د افغانستان د حکومت واکې په داسې حال کې مجاهدینو په لاس کې واخیسـتې چې تر هغه وخته په هېواد کې کومې اغېزمنې محلي اداري شـتون نه درلود. کابو ټول ولایتونه او ښـارونه په مختلفو واحدونو وېشـل شـوي وو، چې د مخالفو او شـورشـي ډلو لخوا اداره کېده، حتی تر دې چې کابل هم د هېواد د پلازمینې په توګه په څو برخو وېشـل شـوی و او د مجاهدینو د مختلفو ګروپونو لـه خوا ادراه کېده، نو پر همدې بنـا ســـتونزه ده، چې پـه دې دوره کې د محلي اداري د شـــتون او پرمختیا په اړه خبرې وکړو. همدارنګه کله چې طالبانو په (۱۹۹۶ز) کال کابل تر خپلې ولکې لاندې راوست چې په هغه وخت کې کوم منظم سیستم د سیمه ییزو حکومتونو لپاره شتون نه درلود. البته د سیمه ییز حکومت په اوسنۍ وضعیت په اړه به په راتلونکو برخو کې بحث وشي.[۱]

---

[۱] ثاقب، نقیب الله او جعفر، حضرت . (۱۳۹۷ ل) . د سیمه ییزو حکومتونو مدیریت، جلال آباد : مومند خپرندویه ټولنه، لومړی چاپ، ص ۳۸

ketabton.com - The Digital Library

## دوهم مطلب ـ په افغانستان کې اوسنی سیمه ییز حکومت

د سیمه ییزې حکومتولی د سېستم کاري ډگرډېر مهم دی. د عامه خدمتونو رسونه د اداري د سیمه ییزو واحدونو لخوا په ځايي کچه تر سره کېږي، خو د دغو چوپړونو په اړه مهمې پرېکړې د مرکزي حکومت لخوا کېږي، چې په بنسټیزه توگه د مراتبو د لړۍ د عمودي اړیکو د مخبېلگې له مخې پر مخ ځي. په افغانستان کې د سیمه ییزې حکومتولی سېستم پر ځلورو مهمو بنسټونه ولاړ دی. په دوی کې د وزارتونو ولایتي او د ولسوالیو څانگې، ښاروالی، والیان او ولسوالان، او ولایتي شوراگانې شاملې دي، او د سیمه ییزو اورگانونو خپلواکه اداره د والیانو، ټاکل شویو شوراگانو او ښاروالیو په چارو کې له کابله مرسته غواړي. د حکومت چلونې مهمه تگلاره د ۲۰۱۰م کال د سیمه ییزې حکومتولۍ تگلاره ده، چې اوسمهال د سیمه ییزو اورگانونو د خپلواکي اداري لخوا تر بیا کتنې لاندې ده. په دې وروستیو کې چې د ولایتي بودیجې جوړونې کومه تگلاره تایید شــوې، موخه یې د ولایتي بودیجې جوړونې د پرمختگ او څرنگوالي ټاکل دي. درې مهم قوانین چې عبارت دي له (د ســیمه ییزې اداري قانون، د ښاروالیو قانون، او د ولایتي شوراگانو قانون) له تېرو څو کلونو راهیسې د قانون جوړونې په بهیر کې پاتې دي. د سیمه ییزې حکومتولۍ سمون، چې مخینه یې ۲۰۰۷ کال ته رسي، د هېواد فکري او سیاسي بحث ته د سیمه ییزې حکومتولی د مفهوم په ور پېژندنې کې بریالی شوی دی. همداراز دې اړتیا ته یې هم پام را اړولی، چې د عامه چوپړونو د رسېدنې لپاره باید په کرار کرار یو څه واکونه سیمه ییزې کچې ته ولېږدول شــي .په دې موده کې په سیمه ییزې حکومتولۍ کې د متخصـصـو ملکي مامورینو ځواک رامنځته شوی دی. خو ځایي او بنسټي ننگونې پر ځای پاتې دي. په سېستمي ننگونو کې اداري فساد، د واسطو شبکې، ناامنی او پر تخنیکي سمون د سیاست لاسبري شامل دي. همداراز د مرکزي حکومت او ولایتونو په دندو کې د څرگند پېژند نشتون او د اغېزناکې سیمه ییزې حکومتولی په اړه د ټولیزې هوکړې یا غوښتنې نشتوالی د دې ستونزو په ډله کې راځي. بنسټي ننگونې د عامه، خصوصي او مدني ټولنې د اړوندانو د مسولیتونو تر منځ په ناڅرگند توپیر، د سیمه ییزې حکومتولی د اصلي برخو په اړه د وضاحت نشتوالي، د وزارتونو لخوا په اړوندو څانگو کې سیمه ییزې کچې ته د واک د نه لېږد له امله د والیانو او ولسوالانو کمزورې مشري او د ښاروالانو، ولسوالیو، کلیو او ښاروالی د شوراگانو د ټاکنو په اړه د اساسي قانون د احکامو په عملي کولو کې پرله پسې ځنډ پورې تړاو لري. په افغانستان کې د سیمه ییزې حکومتولی راتلونکې پرمختگ د هغو ژمنو د پلي کولو په اړه د دولتي بنسټونو له ارادې او وړتیا سره تړاو لري، چې په مهمو حکومتي سندونو کې یې یادونه شوې ده. همداراز، د ولسمشر د ستراتیژیک لید او د عملي چارو له یوه بل سره د اړخ لگولو باوري کول، له څرگندو تعریف شویو دندو او مسولیتونو سره د سیمه ییزې حکومتولۍ د مهمو اړوندانو په گوته کول، د اغېزناک او مناسب سیمه ییز سمون د توان لرونکي بنسټ په توگه ښاروالیو ته لومړیتوب ورکول، او له ښکته ـ پورته خوا ته د حساب ورکونې د پیاوړي کولو په موخه د ولایتي شوراگانو د څار د حق ملاتړ د پرله پسې متمرکز سمون لپاره مهمې برخې دي[1].

[1] نجات، آریا . (۱۳۹۵ل) . په افغانستان کي سیمه ییزه حکومتولی ، کابل : AREU، ژباړه ـ گلستان شینواري، ، لومړي چاپ، ص (۲-۳ )

ketabton.com - The Digital Library

## درېيم مطلب ـ د سيمه ييزې حکومتولۍ اوسنۍ وضعيت

افغانستان ۳۴ ولايتونه، کابو ۴۰۰ ولسوالۍ او زرگونه کلي لري. د سيمه ييزې حکومتولۍ کاري ډگر په دې مهم دی، چې د پلازمېنې کابل ښــار له چارو پرته د پرېکړې کولو ټول بهيرونه پکې بايد شـامل وي. د اسـاسـي قانون له مخې، افغانسـتان متمرکز يا مرکزواکی حکومت لري. مرکزي حکومت ولايتونو، ولسواليو او کليو ته د سيمه ييزې حکومتولۍ د واحدونو له لارې لاسرسی مومي، چې د واک د لېږدولو په اړه د اساسي قانون د ۱۳۷مې مادې له مخې تر سره کېږي.[1]

د افغانسـتان اسـلامي جمهوريت د اساسي قانون ۸ څپرکی د ادارې تر عنوان لاندې ليکلو اساسي قوانينو ته په تمايل ســره، ددولتي ادارو په اړه لږ معلومات وړاندې کوي. په اتم څپرکي کې نهادونه يوازې د اوو مادو په چوکاټ کې له مبهمو مسـوليتونو او محدودو واکونو سره طرح کېږي. لکه څرنگه چې د افغانسـتان اسـاسـي قانون يو مرکزي حکومت پيش بيني کوي چې قدرت په محدوده توگه لېږدوي. نو پر دې اســاس دا حيرانوونکې نده چې اســاســي قانون څواکمن ســيمه ييز او ولايتي بنسـتونه په ايجاد باندې تاکيد نه کوي بلکه پرځای يې کمزوري بنسـتونه چې له لږې خپلواکۍ او واک څخه برخمن وي ايجادوي او د دې يادو شــويو اداري واحدونو د تنظيم او کنترول په موخه د ملي حکومت لپاره پراخ واکونه په نظر کې نيسي. په يوه معنا د افغانستان ولايتي او ولسواليو ادارې په عادي توگه په کابل کې د شــته وزارتونو پراختيا او غځونه ده. لکه ۱۳۶ مه ماده: (د افغانســـتان د اســـلامي جمهوريت اداره د مرکزي او ســيمه ييزو اداري واحدونو پر اســاس له قانون ســره ســم تنظيمېږي. مرکزي اداره پر ځينو اداري واحدونو وېشل کېږي، چې د هر يوې په سر کې يو وزير وي. د محلي ادارې واحد ولايت دي. د ولايتونو او اړوندو ادارو شمېر، ساحه، برخې او تشـکيلات د نفوسـو د شمېر، ټولنيز او اقتصادي حالت او جغرافيايي موقعيت پر اساس د قانون له لارې تنظمېږي.) د جوړښـت له پلوه د افغانسـتان د اسـاسـي قانون ۸ څپرکی، په ملي کچه د وزارتونو په چوکات کې د اداري واحدونو او همدارنگه په سيمه ايزه يا ټيټه کچه د ولايتونو، ولسواليو، کليوالي شوراگانو او د ښاروالۍ د بنسټونو د ايجاد وړاندويونه کوی[2].

۱۳۶ ماده له مرکزي ادارې څخه يادونه کوي چې بايد په يو شمېر اداري واحدونو و وېشل شي او د هر اداري واحد په سر کې يو وزير وي. دا ماده همدارنگه زياتوی چې سيمه ييز اداری واحد، ولايت دی. ټول ولايتونه له هره پلوه د يو او بل سـره برابر نه دي. سـره له دې چې" شـمېر، سـاحه، د ولايتي او اړوندو ادارو وېش او تشکيلات او همدارنگه د دفترونو شمېر د نفوسو د شمېر، اقتصادي او ټولنيز حالت او جغرافيايي موقعيت له مخې د قانون په واسطه تنظيمېږي. "دا په دې معنا دي چې د ولايت ادارې يو له بل سـره توپير لري (د ټولنې اقتصـادي او ټولنيزو شـرايطو او جغرافيايي موقعيت د لاملونو په نظر کې نيولو سره د شمېر، ساحې، وېش، واحدونو، د دفترونو د شمېر او د اړوندو ولايتي سازمانونو له مخې.) بايد و ويل شي چې په اسـاسـي قانون کې هېڅ ډول داسـې صـراحت نشته چې پر اساس يې د دغو لاملونو څرنگوالی وسنجول شـي. لکه څرنگه چې لاندې ترې يادونه شوې، دا کار مقننه قوې ته پرېښـودل شـوی چې دا جوړښت په بشپړه توگه د تقنيني حکمونو له لارې تنظيم کړي. [3]

---

[1] نجات، آريا . (۱۳۹۵ل) . په افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولی، کابل : AREU، ژباړه ـ گلستان شينواري، ، لومړي چاپ، ص (۵ ـ۶)

[2] د افغانستان اساسي قانون (۱۳۸۲ل)

[3] جنسين، اريک . (۲۰۱۳م) . د افغانستان د اساسي حقوقو مبادي، پالو آلتوـ کاليفرنيا: د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه ALEP ( د سټانفورډ پوهنتون د حقوقو پوهنځی)، لومړی چاپ ، ص (۱۳۶ ـ۱۴۰)

ketabton.com - The Digital Library

۱۳۷ماده: (حکومت د مرکزیت د اصـل په ساتلو سره د اقتصـادي، ټولنیزو او کلتوري چارو ګرندي کولو او ښه والي او د ملي ژوند په پرمختګ کي د خلکو د لا زیاتي ونډي اخیستو په موخه لازم واکونه د قانون له حکومونو سره سم محلي اداري ته سپاري.) د دې مادې د لاربښـونی اصـول او د مرکزي حکومت د واک د لېږد اجازه محلي ارګانونو ته ټاکي. دا ماده په ډېره څرګنده توګه بیانوی چې د محلي ادارو اسـتقرار د مرکزي حکومت څخه د خپلواکي په معنا ندی. بر خلاف د مرکزیت اصـول د اداري سیستم اساس او بنسټ جوړوی. دی ته مو پام وي چې یوازی هغه واکونه چې اړین ګڼل کیږي د مرکزي حکومت له خوا محلي اداراتو ته ورکول کیږي تر څو ټاکلی موخی لاس ته راشـي لکه: په ملي چارو کی د ګډون د روحیي د پیاوړتیا لپاره هڅونه. سربېره پر دې د ولایت او حتی ولسـوالیو په کچه زیاتی ګمارني د مرکزي حکومت له لوري ترسـره کېږي. د ولایت او ولسـوالیو په ادارو کې د ملکي خدمتونو ټول کارکوونکي د اړونده وزیر او یا جمهور رئیس له لوري ټاکل کېږي. او تقریباً ټولي اداري او مالي پرېکړې د ولایتونو او ولسوالیو په کچه مرکزي حکومت کوي. د افغانستان د لاربښود تر عنوان لاندې یو کتاب دا موضـوع داسـې بیانوی:" د ولسـوالیو او ولایتي ادارو مسـولیتونه او واکونه د مرکزي حکومت له لارې ټاکل کېږي، په همدی ډول بیرته ترې اخستل کیږي. که څه هم ولایتونه او ولسوالی د سیمه ییزو اداري واحدونو په توګه د قانون پر اساس په رسمیت پیژندل شوي دي، له هغو اړینو انعطاف پذیریو څخه پرته چې د پروګرامونو په پلي کولو کې د مرکز له خوا ټاکل کېږي، دوئ په پرېکړه کولو کې خپلواک نه دي." ۱۳۷ماده د واک د لېږد په اړه په ځانګړو معیارونو ټینګار لري چې یو مرکزي حکومت ته د اساسي قانون ژمنتیا او له مرکزي حکومت څخه سیمه ییزو ادارو ته د قدرت د لېږد په اړه بې میلي څرګندوی. دغه ژمنتیا د ملي حکومت په چوکاټ کې د ځواک په ساتنه، د اسـاسـي قانون په حکمونو کې د اداري سـیسـتم په تنظیم او د قانون جوړوني د مرکزي رول په اړه چې په ۸ څپرکي کې یې یادونه شوې، په څرګند ډول سره لیدل کېږي ۱۳۶ماده وایي، د افغانستان د اسلامي جمهوریت اداره د محلي او مرکزي ادارو د واحدونو پر اساس د قانون له حکمونو سره سم تنظیمېږي.[۱]

محلي ادارو ته د واک ورکولو موخه خلکو ته له ښـکته - پورته خوا ته د عامه چوپړونو د رسـوني د پرېکړې کولو په بهیر کې د ګډون لپاره د لارو چارو برابرول دي. نو، که څه هم په سـیمه ییزه کچه د عامه چوپړونو رسونه د سیمه ییزو اداري واحدونو له لارې تر سره کېږي، د دغو خدماتو په اړه مهمې پرېکړې د مرکزي حکومت لخوا کېږي. په نورو ټکو، د سـیمه ییزې حکومتولی سـېسـتم د داسې یوه ماشین په توګه کار کوي، چې په مټ یې د عامه چوپړونو د رسوني په اړه د مرکزي حکومت پرېکړې پلي کېږي. د مرکزي حکومت او سـیمه ییزو واحدونو تر منځ د مراتبو اړیکي د یوې داسـې مخبېلګې له مخې ځانګړې کېږي، چې په بنسـټیزه توګه عمودي بڼه لري. د عامه خدمتونو د رسـوني د پرله پسـې کمزورۍ بنې له کبله حکومتي چارواکي، تګلاره جوړوونکي، شـنونکي، څېړونکي د مدني ټولنو ډلې او پر ټولو سربېره د افغانستان خلک اړ شوي چې پر دغه بهیر نیوکې وکړي، چې له مخې یې په سیمه ییزې حکومتولی کې د سمون لپاره بحث پیل شوی دی. د سیمه ییزې حکومتولی د سمون مفهوم پر دې را څرخي چې د سـیمه ییزې حکومتولی اوسـني سـېسـتم کې بدلون راشـي.دا بدلون به د ټول افغانسـتان په اړه د یوې کړنلارې په مټ عملي کېږي، چې د ټول حکومت د پرېکړې کولو په افقي بهیر

[۱] جنسین، اریک . (۲۰۱۳م) . د افغانستان د اساسي حقوقو مبادي، پالو آلتوـ کالیفرنیا: د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه ALEP ( د سټانفورډ پوهنتون د حقوقو پوهنځی)، لومړی چاپ ، ص (۱۳۶ ـ۱۴۰)

ketabton.com - The Digital Library

کې د بدلون له لارې باید منعکس شي، چې وروستۍ موخه يې د عمودي او افقي بهيرونو د يوه ګټور ګډون رامنځته کول دي. د سيمه ييزې حکومتولۍ د سمون په اړه بحث پر دوو مهمو پوښتنو تمرکز کوي. يوه يې دا چې د ټول افغانستان دغه ګډون به څنګه رامنځته کېږي او دويمه دا چې د سيمه ييزې حکومتولۍ سېستم د مراتبو د لړۍ د عمودي بهير، چې پلې کول باوري کوي، او افقي همکارۍ، چې د خدماتو په رسولو کې د ټول حکومت د ګډون کړنلارې ته پايښت ورکوي، تر منځ انډول څنګه رامنځته کولای شي. [1]

## څلورم مطلب ـ جوړښت

افغانستان د ۸ اقتصادي حوزو، ۳۴ ولايتونه، ۳۸۷ ولسوالۍ، ۱۶۵ ښاروالۍ او ۴۵۵۳۸ کلي لري. دا چې د هیواد د حکومتولۍ سیستم متمرکز دی؛ د کورنیو چارو وزارت د پولیسو او ځایي بنسټونه په ګډون، ټولې کورنۍ چارې اداره کولې. په (۲۰۰۷) کال کې د سیمه ییزه ادارو ملکي برخه، د کورنیو وزارته را بېله او په پایله کې د سیمه ییزه ارګانونو خپلواکه اداره رامنځته شوه. اوسمهال ټول واليان او ښاروالان خپل کارې ګزارشونه د سیمه ییزه ارګانونو خپلواکې ادارې له لارې جمهور رئيس ته وړاندې کوي. د سیمه ییزه ارګانونو خپلواکه اداره د سیمه ییزه ادارو د مدیریت په موخه، واليان، ولسوالان او ښاروالان د مقررۍ لپاره جمهور رئيس ته وړاندېز کوي. هره يوه له دغو ادارو څخه د هیوادوالو د يوې ارتباطي برخې په توګه فعالیت کوي. [2]

په افغانستان کې د سيمه ييزې حکومتولۍ سېستم له څلورو مهمو بنسټونو جوړ دی. د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکه اداره د مشر اجرايي واحد په توګه د واليانو، ټاکل شويو شوراګانو او ښارواليو کارونه چلوي، چې په کابل کې مېشته ده او د مرکز او سيمه ييزو واحدونو تر منځ د يوه پول په توګه کار کوي. د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکه اداره د وزارتونو په څېر ټاکل شوي پارلمان ته حساب ورکوونکې نه ده، ځکه چې په ۲۰۰۷ کال کې د يوه شوي ولسمشريز فرمان پر بنسټ کار کوي.

لومړی، د وزارتونو ولايتي او د ولسواليو څانګې د سيمه ييزې حکومتولۍ تر ټولو مهمو جوړښتونو کې راځي. وزارتونه، چې بنسټيزه دنده يې د عامه چوپړونو رسونه ده، په مرکز کې پرېکړې کوي او د ولايتي او ولسواليو د څانګو له لارې او يا د ملي او نړيوالو نادولتي ټولنو له لارې يې سيمه ييزو کچو ته رسوي. د سيمه ييزو څانګو له لارې د چوپړونو د رسونې په موخه له وزارتونه تمه کېږي، چې ځينې ځانګړې مسولیتونه دغو څانګو ته وسپاري او د دغو کارونو د سر ته رسولو لپاره ورته اړينې مالي سرچينې برابرې کړي او لارښوونې ورته وکړي.

دويم، ښاروالۍ په ولايتي او د ولسواليو په کچه د سيمه ييزې حکومتولۍ د واحدونو له ډلې دويمه مهمه ټولګه ده. د دوی د عايداتو د راټولو وړتيا په بنسټيزه توګه په ښاري سيمو کې د ښارواليو د چوپړونو له لارې پر مخ ځي. ښاروالۍ پر خپلو مالي سرچينو د کنټرول د کچې له پلوه په دويم لوړ ځای کې راځي، خو په خپله رامنځته کړو مالي سرچينو ته دا لاسرسی يو رنګي بڼه نه لري او د دغه لاسرسي کچه او څرنګوالۍ په هرې ښاروالۍ کې توپير لري.

---

[1] جنسين، اريک . (۲۰۱۳م) . د افغانستان د اساسي حقوقو مبادي، پالو آلتو- کاليفرنيا: د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه ALEP ( د سټانفورډ پوهنتون د حقوقو پوهنځی)، لومړی چاپ ، ص (۱۳۸-۱۴۲)

۲ د افغانستان د سیمه ییزو ارګانونو پالیسي، ۱۳۹۷ ل

ketabton.com - The Digital Library

درېيم، واليان او ولسوالان د سيمه ييزې حکومتولی د هغه پوړ استازيتوب کوي، چې له مرکز سره تر ټولو نژدې تړاو لري. دوی په ولايتي او د ولسواليو په کچه د ولسمشر د استازو په توګه دندې پر مخ وړي. واليان د ولسمشر لخوا ګومارل کېږي، خو د ولسوالانو ټاکنه د وړتيا-بنسټي ګومارنې د سېستم له لارې کېږي، چې د سيمه ييزو اورګانونو د خپلواکې ادارې او د اداري سمون او ملکي چوپړونو د کمېسون لخوا په ګډه پر مخ وړل کېږي. د واليانو او ولسوالانو دنده دا ده چې په اړوندو کچو د مشرتوب د کولو له لارې د مرکزي حکومت چوپړ وکړي.

څلورم او وروستی، د اساسي قانون ۱۳۸ - ۱۴۰ مادې په ولايتي، ولسواليو، کليو او ښاروالیو په کچو د ټاکل شويو شوراګانو د جوړولو حکم کوي، خو د سيمه ييزې حکومتولی اوسنی سېستم يوازې پر دې توانېدلی چې د ټاکنو له لارې د ولايتونو په کچه شوراګانې جوړې کړي. د کليوالي شوراګانو د ټاکنو لپاره پلانونه تر اوسه نه ښکاري، خو ولسمشر غني په خپله تېره دوره کې اعلان کړی وو، چې د ولسواليو د شوراګانو ټاکنې به ترسره کوي اما ترسره نشوې ، دا چې منتخبې شوراګانې د ولسي رايو په مټ واک تر لاسه کوي، دنده يې د خلکو استازيتوب، د پرېکړې کولو په بهير کې د هغوی د ګډون باوري کول او د ولايت د چارو څارنه ده، چې موخه يې په ولايتي او د ولسواليو په چارو کې د ښه والي د راوستو لپاره حکومت ته مشورې ورکول دي[1].

افغانستان په تاريخي لحاظ د قوي مرکزي حکومتدارۍ د سيستم لرونکی هيواد ګڼل کيږي. چې د حکومتدارۍ ټولې اداري د ځانګړو کورنيو لخوا رهبري کېدې او په دې توګه مقننه، قضــــايه او اجرائيه قوه د مرکزي حکومت تر کنترول او اداري لاندې په مخ بيول کېده. په تاريخي لحاظ په افغانســـتان کې ســـيمه ييزه حکومتداری د مرکزي حکومت تر ولکې او اداري لاندې وه او د ځانګړو ميکانيزمونو يا منځګړو جوړښتونو لخوا به مرکزي حکومت د سيمه ييزې حکومتدارۍ چارې په مخ بېولې. د وخت په تېرېدو سره د سيمه ييز حکومت جوړښتونه له علاقه دارۍ، نايب الحکمه او زونونو څخه د ولاياتو او ولسواليو په اداري واحدونو بدل شول. د معاصرې حکومتدارۍ بڼه په (۲۰۰۱) م کال کې د بدلونونو سره يوځای رامنځته شوه. موږ اوس په افغانستان کې د سيمه ييزې حکومتدارۍ لاندې اداري واحدونه لرو:

۱- ولايت

۲- ولايتي شورا

۳- ولسوالی او د ولسوالی شورا

۴- ښاروالي[2]

---

[1] نجات، آريا . (۱۳۹۵ل) . په افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولی، کابل : AREU، ژباړه ـ ګلستان شينواري، ، لومړي چاپ، ص (۶ ـ ۷)

[2] څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سيمه ييزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندويه ټولنه، لومړی چاپ، ص (۱۸۲)

ketabton.com - The Digital Library

## الف ـ ولايتي اداره

افغانستان ټول ۳۴ ولايتونه لري، چې د هر ولايت سيمه ييزه اداري د مرکزي دولت استازيتوب کوي. د سيمه ييزه ادارو د قانون مطابق، هر ولايت د وګړيو(نفوس) د شمير په تناسب او اقتصادي پراختيا پر بنسټ په لومړيو، دويمو او درېيمو درجو سره درجه بندي شوي دي. له دغې دلبندۍ څخه به د اساسي سرچينو د تخصيص لپاره استفاده وشي. په همدې حال، د سيمه ييزه ارګانونو اداره په پام کې لري، چې د نفوسو د انډول رامنځته کولو په موخه، د ولايتونو او ولسواليو دپولو د بيا ځلي سنجولو لپاره يو بهير پيل کړي، چې بو دجوي او د سرچينو د تخصيص اغيزې به له ځان سره ولري.

دسيمه ييزه ارګانونو خپلواکه اداره به د درجه بندۍ پر دغه سيستم سربيره، په لاندې درېيو کټه ګوريو کې ځينې معيارونه طرحه کړي:

(۱) سياسي شاخصونه : دبېلګې په ډول، دولايتي شوراى ټاکني ترسره شوى دي،

(۲) اقتصادي شاخصونه: د ملي ناخالص توليد کچه، د ودې نرخ، د سوداګريز وضعيت اقتصادي سروې ګانې.

(۳) ټولنيز شاخصونه: په ښونځيو کې د ماشومانو سلنه، په ښونځيو کې دکال د شموليت منځنۍ کچه، روغتيايي شاخصونه او داسې نور. د معيارونو دغه د امتياز ورکوني کارتونه به د هڅوني مالي مرستې د تخصيص لپاره د ارزوني ديوې برخې په توګه و کارول شي.

په ولايتي مديريت کې، د ولايتي حکومتولۍ له اړخه ، په پراخه کچه توپير ليدل کيږي. له بل لوري، د ځينو ولايتونو واليانو د واکمنو حاکمانو او ځينې نور د بيلا بيلو بنسټونو ترمنځ د همغږي کوونکيو په توګه عمل کوي. د ولايتي شوراګانو قانون په پام کې ده، چې د واليانو او نورو اجرائيوي چارواکو د فعاليتونو قانونيت او مشروعيت لپاره د سيمه ييزه ادارو پرقانون بيا کتنه وشي او د ۲۰۱۹ کال تر پايه پلې شي. دغه قانون به د واليانو، ولسوالانو او ملکانو، کليدي مسئوليتونه او دندې مشخصې کړي او د شوراګانو قانون ترڅنګ به ديو حمايوي يا ملاتړي سند په توګه تطبيق شي.[۱]

## ب ـ واليان

د واليانو دندې، مسووليتونه او رسمي کاري لايحې د سيمه ييزې حکومتولۍ د پخواني قانون پر بنسټ ټاکل شوې، ولې بيا هم د واليانو د واکونو او مسووليتونو خبره، د سيمه ييزې حکومتولۍ په قانون پورې اړه لري. په دې قانون کې د واليانو د چارو د اجراتو او مسووليتونو په اړه دومره اوږد او مفصل ليست موجود دى، چې دغه اوږدوالى په خپله د والي رول له ابهام سره مخ کوي، لاندې يې کټلاى شئ:

- د واليانو مسووليتونه او واکونه د قانون په (۱۴) ماده کې داسې راغلي دي، دندې ډېرې زياتې دي، چې ځينې مهمې يې په لاندې ډول دي:[۲]
- د قانون د حکمونو له مخې ترخپل واک لاندې ادارو او دفترونو مشري کول.

---

۱ د افغانستان د سيمه ييزو ارګانونو پاليسي، د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکه اداره،۱۳۹۷ ل

۲ د سيمه ييزو ادارو قانون، د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکه اداره، ۱۳۸۹ ل

ketabton.com - The Digital Library

- د قانون پربنسټ د امنیت ټینګول اود ولایت د اوسېدونکودحقونو ډاډګېرنه.
- د ولایت د اسېدونکو لپاره د عدالت او برارۍ د اصل برابرول او پلي کول.
- لـه قومي او مـذهبي ننګې او پلوي څخـه پـه اداره کې ډډه کول او دملي یووالي د پیـاوړتیـا لپـاره کارکول.
- په ولایت کې د سازمانونو او ادارو دمؤسسو او تصدیق د مطرحه پلانونو دپلي کولو لپاره شرایط اواسانتیاوې برابرول.
- د ولایت د ادارو د پرمختیا او رغونې اړوند وړاندیزونو او پرپوزلونو اړوند ادارو ته سپارل ؛ او د قانون له مخې دپیرودنې دامرونوصـــــادرول؛ د داوطلبی د مســــوولینو؛ دادارې دتدارکاتو او د پیرودنې دسپارنې څارل.
- د ولایت او ولسوالۍ د ښاروالیو د نظر او وړاندویز پر بنسټ بدلونونه راوستل او د هوکړې لپاره یې اړوند څانګو او اداروته استول.
- د دولتي ملکیتونو، ځمکو، ځنګلونو، څړځایونو، د لوبو د زیرمو او نورو طبعي شـتمنیو څارنه، ساتنه او له هغو څخه معقوله او پرځای ګټه اخیستل.
- حکومتي موخو ته د رسیدلو په منظور د عمومي سفرونو منل او په هغې کې برخه اخیستل.
- د ولایت اړوند سندونو څارنه اوساتل.
- په ولایت کې د حکومت ادارو د لګښتونو منظورول د هغوی د جوړولو واک د حکومتي ادارو د بودیجې او تخصـیص د بدلون په اړه هوکړه، د قراردادیانو د تحقق، د هغوی د تاویلۍ اویا هم له قرارداد څخه د سرغړونې په اړه د جبران او جریمې په هکله د پرېکړې صلاحیت لري.
- په ولایت کې د بودیجې د لګښت څارل او په ولایت کې د بانک او خزانو ساتل او خوندي کول؛ د ولایتي پرمختیایي شـوراګانو اجراات او کارونه هم یو له بل سـره توپیر لري، دا شـوراګاني له والیانو سره مرسته کوي چې له نورو ادارو سره په ګډه د ولایت په پرمختیایي پلانونواو دهغو په تحقق باندې بحث وکړي اوهغه وڅېړي، د سیمه بیزو ادارو قانون په دې ټینګارکوي ،چې والیان لږترلږه په میاشت کې یوځل له نورو ادارو/څانګو سره مجلس کې برخه واخلي. د ولایت اداري مجلسونه (PAAS).
- د قانون دغوښـتنو پربنســټ د مالیاتو راټولول او د ښــاري عوایدو راټولول او بانکي حســاب ته سپارل.

همدا راز والي د نورو مختلفو اړخونو او محورو له طریقه په سیمه بیزه اداره کې د دولت یو بانفوذه شخص بلل کېږي، چې د پورتنیو وظایفو ترڅنګ په اداري، سیاسي، اقتصادي، تشریفاتي، او امنیتي برخو کې هم ډېری وظایف لري ، چې دلته د لیکنې د اوږدوالي په اساس ځنې تېرېږو.[1]

د والیانو دندې په روښانه توګه په دغو حکمونو کې ندي ډلبندي شوي. له دغو نیمګړتیاوو سره سره، د والیانو له دغو دندو څخه ځینې یې لغوه شوي دي. والیان په ولایت کې د اجرائیوي برخې استازي دي، نو هغوی له مرکز څخه د دولت لخوا د صادرو شویو فرمانونو او لارښونو په عملي کولو او سرته رسولو

[1] ثاقب، نقیب الله او جعفر، حضرت . (۱۳۹۷ ل) . اداري حقوق . جلال آباد، مومند خپرندویه ټولنه، لومړی چاپ، ص (۱۲۱)

ketabton.com - The Digital Library

کې مکلف دي. والیان د خپل واک په ساحه کې په همږغی او د اداري مسوولیتونو په سرته رسولو مکلف دي.

ولایتي پرمختیایي کمېټې د والیانو لپاره د اجرااتو او پروګرامونو د څار او نظارت د ښو وسیلو په توګه کار کوي. سره له دې چې والیان په رسمي توګه د ولایتي ادارو د ورځینیو چارو د کنټرول واک نلري، خو په دغو ادارو د پام وړ اغېز درلودلای شي. همدا شان د ادارو د ورځنیو چارو د کنټرول واک نه لري،خو دغو ادارو د پام وړ اغیز در لودلای شي. همداشان د ادارو هر ډول لګښت چې له زرو (۱۰۰۰) افغانیو زیات وي، والي یې لاسلیک کوي. نړیواله ټولنه په دې اړه شک لري، چې د والي دا واکونه قانوني بڼه لري او که څنګه، خو په ولایتونو کې د والیانو دا واک او نفوذ منل شوی، او له بلې خوا د سیمه ییزې حکومتولی قانون هم دا د والیانو دنده بولي. په ولایتي کچه د لګښت د منظورۍ دا ډول واک، د سکتوري وزارتونو له عمودي جوړښت سره په ټکر کې دی. سره له دې چې والیان نه شي کولای سکتوري ریاستونه د خپلو امرونو تابع وګرځوي، خو والیان د مالي لګښت په اړه د خپلو واکونو له مخې له مخې د دغو ادارو په کارونو کې ځنډ رامنځ ته کوي. همدا راز والیان دا تمایل لري، چې د سکتوري ریاستونو لخوا د پلان جوړولو، لګښت، تهیې او تدارکاتو، د لانجو حل، د ښاروالۍ چارې او همدارنګه په ولایت باندې نورې اړوندې چارې تر خپل اغېز لاندې راولي. والیان په رسمي ډول ولسمشر او د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکې ادرای ته مسول او حساب ورکوونکي دي. د جمهوري ریاست مقام هغه فرمان، چې د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې د رامنځ ته شوی دی، د سیمه ییزې حکومتولی د کار په اړه وایي:

"دغه نوې اداره د والیانو او ولسوالانو او د کابل له ښاروالۍ پرته د نورو ټولو ښاروالیو د کارونو نه څارنه کوي او د جمهوري ریاست مقام د فتر ته په دې اړه راپور ورکوي" والي د داسې سیاسي مقام په توګه، چې ولسمشر یې ټاکي، د ولسمشر د استازي په توګه مخامخ ولسمشر ته مسول او حساب ورکوونکی دی. په رسمي توګه والي پرته له ولسمشر څخه بل چاته مسؤلیت نلري، د دې یو علت هم دا دی، که چیرې والي نورو خلکو ته هم مسؤلیت درلودلای، نو بیا به والي دا وخت نه درلود، چې د خپل ولایت د خلکو پر ستونزو فکر وکړي، بلکې تل به یې کوښښ دا وو، چې اجرائیه یې لوړ پوړي چارواکي خوښ وساتي. د ولایتي شوراګانو د وروستیو تعدیلاتو پر بنسټ والیان د خپلو اجرااتو په اړه ولایتي شورا ته مسؤل دي، ولې عملاً تر اوسه داسې ندي شوي، همدا ډول په ولایتي کچه د خلکو او حکومت ترمنځ کومې اړیکې نه تر سترګو کیږي.[1]

ولسوالان مخامخ د والیانو تر واک لاندې دي او والیان د دوی په ټاکلو کې لوی لاس لري، که څه هم دا دوی رسمي دنده نه ده. د ولسوالانو پر ټاکنو باندې د والیانو اغېز، پر شخصي اړیکه ولاړ حکومت منځته راوړي او دا جوتوي، چې شخصي اړیکې، پر قانون ولاړ حکومت منځته راوړي او دا جوتوي چې شخصي اړیکې، پر قانون ولاړ سیستم په پرتله د حکومتولۍ په کارونو کې زیات رول لري.

په ولایتونو کې د والیانو او د پولیسو د قومندانانو ترمنځ اړیکې ګونګې دي. د پولیسو د قانون (۴) ماده وایي: " پولیس خپلې دندې په مرکز کې د کورنیو چارو د وزیر او په ولایتونو کې د والیانو او

[1] ځرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سیمه ییزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه لومړی چاپ، ص (۱۸۶ -۱۸۷)

ketabton.com - The Digital Library

په ولسواليو کې د ولسوالانو په لارښوونه او رهبرۍ سرته رسوي" په قانون کې دا دوه ډوله ګونګوالی موجود دی، په دې باب پوښتني رامنځته کيږي، چې والي پر پوليسو باندې څومره واک لري او يا يې بايد ولري. د کورنيو چارو وزارت دايرکتيف ( لارښود) د پوليسو په تاکتيکي او عملياتي چارو کې د واليانو د مداخلې مخه ډب کوي. واليان يوازې پوليسو ته اجرائيوي امرونه ليږدولای شي، چې دا کار د والي او پوليسو ترمنځ په اړيکو کې مغشوشتيا نوره هم زياتوي. په لنډه توګه ويلای شو چې واليان له حالاتو سره سم او د قانون پربنسټ رولونه لري. واليان د خپل حاکميت په سيمه کې د اداري مسؤليتونو ترڅنګ، د ادارو د همغږي دنده هم لري. دوی دمرکزي حکومت استازي دي او د مرکز په استازيتوب فرمانونه رواج او عملي کوي او ترڅنګ يې د محل او سيمي د پيښو راپور مرکز ته ورکوي. واليان د لګښتونو، همږغی، مقرريو، تهيې او تدارکاتو، د مخالفتونو او کشالو حل او ښاروالۍ په چارو کې له رسمي او غير رسمي واکونو څخه يوګډ ځواک لري. واليان لګښتونه منظوروي او په مقرريو کې هم د واک څښتن دي. په اوسنيو شرايطو کې واليان نه خلکو ته حساب ورکوي او نه هم ولايتي شوراګانو ته.[1]

## ج - په ولايت کې د سکتوري وزارتونو واحدونه

د وزارتونو اوسني اداري چوکاټ تر ډېره حده کمزوری دی. که څه هم زياتره وزارتونه په ولايتونو کې خپل استازي لري، خوهلته بيا د وزارتونو د حکومتوالۍ او هم د خدمتونو د برابرولو سيستم ډېر مرکزي دی. ولايتونه د ادارې، بوديجې او يا هم د خپلو پرمختيايي پروګرامونو په اړه لږ واک لري. د داسې پر مرکزيت ولاړ جوړښت له کبله وزارتونه هغه چارې، چې په ډېره ښه توګه د ولايت په کچه سرته رسيدلای شي، په مرکز کې له ځان سره ساتي. د ولايت د ادارو سرچينې او امکانات، نه د ولايت د اړتيا او ارزونې پر بنسټ او نه هم د ولايت د اداري د اړتياوو د څېړلو له مخې ټاکل کيږي. د ولايت اداري خپل امکانات د تخصيص په توګه له خپل اړوند وزارت څخه په هرو دريو مياشتو کې يوځل ترلاسه کوي. دوی په خپلو تخصيصونو باندې له سره نظر يا د ډېرولو واک نه لري. په ولايتونو کې د نفوس پر سر د وزارتونو د کلنيو لګښتونو ترمنځ توپيرونه موجود دي. د ماليې وزارت د ولايتي بوديجې نوښت له مخې په بوديجوي پرېکړو کې د ولايتي ادارو د واک ونډه د مرکز په پرتله يوڅه ډېره شوې ده. ولايتي ادارې د مقرريو په برخه کې ټولې پريکړې په خپله نه شي نيولای. د لومړيو او دويم بست پرېکړه د اداري اصلاحاتو خپلواک کميسون کوي، د (۳-۵) بستونو صلاحيت د وزارتونو او د (۶،۷) رتبې مقررۍ دولايت د والي او ولسوالانو واک او صلاحيت بلل کيږي. د ولايتونو واحدونه له يوې خوا په مرکز کې خپل اړوند وزارتونه ته مسووليت لري او له بلې خوا په ولايت کې والي ته هم مسووليت لري. والي د ولايتي شورا له اداري څخه هم د هغې د اجرااتو په هکله پوښتني کولای شي. ولايتي شورا هم په ولايت کې د ادارو د اجرااتو په هکله پوښتني کولای شي. ولايتي شورا د ادارو د اجرااتو راپور راټولولای شي، ولې د ادارو په اړه پرېکړه نيول د شورا صلاحيت ندي. سره له دې چې د ولايتي شوراګانو قانون د ولايتي شورا د رول په اړه وايي: "ولايتي شورا د ولايتي ادارو د پلان د پلي کېدلو په اړوند معلومات راټولوي او د معلومات پارلمان او ولسمشر ته د ليکلي راپور په بڼه وړاندې کوي" ولې په قانون کې دا

[1] څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سيمه ييزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندويه ټولنه لومړی چاپ، ص (۱۸۸)

ketabton.com - The Digital Library

وضاحت نشته، که چیرې کومې ادارې یا واحد ولایتي شورا ته معلومات ور نه کړل؛ نو له ادارې سره به څه کیږي؟

دا هغه څه دي چې قانون یې په اړه چوپ پاتې دئ. دا ستونزې هغه وخت حل کېدای شي چې یو واضح قانون ولرو. د سیمه ییزو ارگانونو په اړه اکثریت قوانین چې جوړ شوي گونګ دي، د دې ادارو رولونه او دندې یې په واضح توگه ندي تشریح کړې، بل ستونزه په دې قوانینو کې د مرکز او محلي ادارو ترمنځ د واکونو او مسوولیتونو گونګ چاوکاټ دی.[1]

## د ـ ولایتي پرمختیایي کمېټه

ولایتي پرمختیایي کمېټې د هغه فرمان پر بنسټ، چې (۱۳۸۴ل) کال د تلې په میاشت کې ملي شورا منظور کړ، جوړې شوي دي دولایتي پرمختیا یې کمېټې دندې عبارت دي له:

- په ولایت کې د وزارتونو د استازو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کول.
- د ولایت د پرمختیایي پلان جوړول.
- د مرسته کوونکو ترمنځ د همغږۍ د کچې لوړول.
- د پرمختیایي پرژو د کارڅارنه.
- د ښې ولسي ادارې د جوړښت او ولس ته د ښو خدمتونو د تر سره کولو په خاطر د ولایت ادارو د کاري ظرفیت یا وړتیاوو لوړول.

د نورو ولایتي ادارو په څیر د ولا یتونو د پرمختیـایي کمېټو د رول او کړنو ترمنځ هم توپیرونه موجود دي. د ولایت په اداري مجلس سربېره د ولایت پرمختیایي کمېټه هم د ولایت د پرمختیایي پلان په پلي کولو کې د سکتوري ادارو ترمنځ همغږي رامنځته کوي. که څه هم د ولایت پرمختیایي کمېټه او بودیجوي بهیر ترمنځ کوم ډول تړاو نشته، نو له همدې کبله پرمختیایي پلان جوړونه، د ولایت پر چارو څرگنده اغېزه نه لري. د بودیجې پرېکړه نیولو صلاحیت یوازې په مرکز پورې تړلي دي، چې په دې ډول د ولایت د ولایتي شورا او پرمختیایي پلان جوړول او پلي کول له خنډ سره مخ کیږي. د ولایتي بودیجې د پرگرام چوکاټ ډېر محدود دی، دا ځکه چې د بودیجې جوړلو دا کار د مرکزي وزارت له خوا یوازې له ولایتي پرمختیایي کمېټې سره په مشوره تر سره کیږي. د پروژې او پلان د څار او نظارت په برخو کې هم د ولایتي شورا او ولایتي پرمختیایي کمېټې د کارونو ترمنځ تداخل تر سترگو کیږي، او د دې ترڅنگ د ولایتي شورا او د ولایتي پرمختیایي کمېټې خپل منځي اړیکې هم روښانه نه دي.

په لنډه توگه داسې ویلای شو، چې په ولایت کې د اقتصاد د وزارت د اړوندې څانگې له خوا د ولایتي پرمختیایي کمیټي لپاره اسانتیاوې برابروي، والي او یا هم د هغه استازي د ولایتي پرمختیایي کمېټې ریاست په غاړه لري. ولایتي پرمختیایي کمېټه په ولایت کې د ریاستونو او واحدونو ترمنځ همغږي را منځته کوي، له ولایتي شورا او نا حکومتي مؤسسو، نړیوالو سازمانونو او د ولایتي بیا رغونې له ډلې سره تفاهم کوي. د دې کمېټې دنده د ولایت د پرمختیایي پلانونو جوړول او حتا د ولایت د بودیجې ترتیبول دي. له ولایتي پرمختیایي کمېټې څخه هیله کیږي، چې د ولایت پرمختیایي پلان منظور کړي، په

[1] څرگند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سیمه ییزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه لومړی چاپ، ص ۱۸۹

ketabton.com - The Digital Library

عامه او خصوصي سکتور کې د پانګې اچونې ستراتیژۍ جوړه کړي او د نشه يي توکو پرضد د مبارزې څارنه وکړي. د ولايتي پرمختيايي کمېټې او د ولايتي شـورا په دندو کې بالقوه تداخل ليدل کيږي. ولايتي پرمختيايي کمېټې تر ډېره د والي په همکاري پورې تړلې دي او د پلان او بوديجې په جوړولو کې د دوی ونډه، پرته له همغږۍ جوړولو نا څرګنده پاتې ده. د پلان او بوديجې جوړولو د بهير ترمنځ؛ چې واک يې لـه مرکز ســـره دی، پيوند نـه ليدل کيږي. د ولايتي بوديجې جوړولو کـار، چې د مـاليې وزارت او نور مرکزي وزارتونه يې له ولايتي اړوندو غاړو سره په سلا مشوره ترسره کوي، له سرچينو سره د سيمه ييزو لومړيتوبونو د همغږۍ کولو په لاره کې لومړي ګام دی.[1]

### ٥ ـ د ولايت اداري مجلس

د ولايت ادراي مجلس له نن څخه (٤٥) کاله د مخه د (١٣٤٤ل) کال د لينډۍ په مياشـــت کې، د دې لپاره جوړ شو، چې له والي سره د ولايتي ادارو په همغږۍ کولو کې مرسته وکړي. له قانون سره سم د دې مجلس غړي په لاندې ډول سره دي:

والي

د والي مرستيال

مستوفي

د ولايت د امنيت مسول

د ولايت څارنوال او د نورو ادارو مشران

دغـه مجلس پـه اونـۍ کې يو ځـل غونـډه کوي. د نيمو غړو حـاضـــريدلو ســـره د مجلس غونـډه جوړيږي. پرېکړه د حاضـــر غړو په اکثريت ســـره نيول کيږي. که چيرې د دواړو خواوو د رايو شـــمېر مســـاوي وي، نو بيا وروســـتۍ پرېکړه د مجلس رئيس کوي. د جلســـي ســـکرتريت د والي د دفتر اداري رياست پورې تړاو لري. د ښاروالۍ د قانون د (٤، ١٤، ٤٢) او (٥٠) مادو او د مالدارۍ د قانون د (١٢) مادې له مخې هغه دندې، چې د ولايت اداري مشورتي شـورا تـه ورکړل شـوې، ولايتي اداري مجلس يې اجرا کوي. دا دندې عبارت دي له: په ولايت کې د حکومتي ځمکو پلورل او په اجاره ورکول، د حکومت پور په قسطونو بدلول، هغه قراردادونه، چې د کار د قانون غوښتې له پامه غورځولې وي ماتولی شي او د ولايتي ادارو په هغو ستونزو باندې بحث کولای شي، چې د دغو ادارو د چاراواکو له خوا ورته وړاندې کيږي.[2]

---

[1] څرګند، نور علي . (١٣٩٥ل) . د سيمه ييزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندويه ټولنه لومړی چاپ، ص ١٩٠

[2] څرګند، نور علي . (١٣٩٥ل) . د سيمه ييزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندويه ټولنه لومړی چاپ، ص ١٩١

ketabton.com - The Digital Library

**درېيم مبحث ـ ولايتي شورا**

ولايتي شوراګانې د اساسي قانون د (۱۳۸) مادې د حکم پر اساس چې ( په هر ولايت کې يوه ولايتي شوراى جوړېږي.) ولايت په هېواد کې تر ټولو لوى سيمه ييز حکومتي واحد دى، ولايتي شورا د ولايت په کچه يوازينى مرجع ده، چې د ولايت د اداري مجلس د کارونو او اجرااتو حساب اخيستلاى شي. په ځينو مواردو کې د ولايتي شورا رول او ونډه څرګنده نه ده، ولې په هغو برخو کې، چې شورا ته د قانون له مخې واک په روښانه توګه بيان شوى دى، بيا هم دغو شورا ګانو ته عملاً تر اوسه صلاحيتونه نه دي ورسپارل شوي.

لکه څنګه چې د مخه ورته ګوته ونيول شوه، د اساسي قانون د حکمونو له مخې ولايتي شوراګانې بايد خپلې دندې له ولايتي ادارې سره په همکاري کې تر سره کړي، ولې د ولايتي شوراګانو قانون دا نه ده په ګوته کړې، چې ولايتي اداره به له ولايتي شوارګانو سره څه ډول همکاري کوي؟ ولايتي شورا بايد د څارنې او مشورې چارې تر سره کړي، ولې قانون په دې لړ کې د ولايتي شورا لپاره د واک څه يادونه نه ده کړې، چې د نورو ولايتي ادارو همکاري په دې اړه لازمي او حتمي کړي.[1]

ولايتي شورا د قانون د ځلورمې مادې (۱۴) فقره وايي، چې ولايتي شورا بايد د ولايت له اوسيدونکو سره په هرو درېيو مياشتو کې او له والي او نورو ادارو سره په مياشت کې لږ ترلږه يو ځل ليدنه او کتنه ولري. له بلې خوا څخه دغه حکمونه يا سيمه ييز چارواکي ولايتي شورا ته حساب ورکوونکي نه ګرځوي، يا په بله ژبه په قانوني توګه د ولايتي شورا د نظر په پام کې نيولو سره په قانوني توګه نه دي مکلف شوي. د همدې قانون (۱۸) ماده وايي، چې په ولايت کې د سکتوري وزارتونو ادارې بايد ولايتي شورا ته د خپلو کارونو په اړه معلومات ورکړي، ولې دا نه دي په ګوته شوي که چيرې چا دا کار ونه کړ، نو څه به ورسره کيږي، چې دا کار د دغه قانون عملي کېدل له ستونزو سره مخامخ کوي او د ولايتي شورا په دندو کې، چې څارنه او نظارت کول دي، ځنډ رامنځته کوي. د ولايتي شورا دوهمه ماده وايي، چې ولايتي شورا بايد د يو منتخب جوړښت په توګه کار وکړي او خلک، مدني ټولنه او حکومتي ادارې له ځان سره را شريکې کړي. او د ولايتي ادارو د چارو څارنه وکړي، تر څو په قانون کې داسې مواد ډېر نشي، چې د هغو له مخې ولايتي شورا له والي او ولايتي ادارې څخه حساب واخلي، د غسې څار او نظارت به په عملي توګه کومه معنا ونه لري. د ولايتي شورا د څارنې د کار نور وضاحت به ولايتي شورا ته دا امکان وربخښي، چې خپلې د څارنې دندې په سمه توګه سرته ورسوي. د شورا قانون همدا راز ډېر ګونګ دى او دشورا رسالت يې، چې د دولت د پرمختيايي موخو برابرول دي، له خنډ سره مخامخ کړى دى. د ولايت د شورا د اجرااتو د عملي کولو لپاره بايد د پلان په عملي کولو کې د ولايتي شورا رول د ولايتي شورا په قانون کې روښان او واضح شي. (۴) ماده وايي چې، تر دې د مخه چې پرمختيايي پلان او د وړاندوينو په برخه کې پلان دولت ته وړاندې شي، ولايتي شورا په پلان جوړولو کې ځومره برخه لري. د ولايتي پرمختيايي کمېټې او ولايتي شورا په کارونو کې تداخل موجود دى. د ولسمشر (۴۱۱۶) ګڼه فرمان حکم کوي: ( واليان دې له ولايتي شورا سره همکاري کې اجراات

---

۱ جنسين، اريک . (۲۰۱۳م) . د افغانستان د اساسي حقوقو مبادي، پالو آلتو ـ کاليفرنيا: د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه ALEP (د ستانفورډ پوهنتون د حقوقو پوهنځى) ، ص (۱۴۳ ـ۱۴۵)

ketabton.com - The Digital Library

وکړي، پروګرامونه د طرحه، تنظیم او پلي کړي)، له اجرائیوي مکانیزم څخه پرته ولایتي شورا په ډېره اسانۍ څنډې ته کېدلای شي.[1]

دا څرګنده نه ده، چې ولایتي شورا د ورځینیو لګښتونو لپاره له کومې ځانګې یا ارګان څخه باید پیسې ترلاسه کړي، دا په خپله د ولایتي شورا اجرائیوي واک له پوښتنې سره مخ کوي. د قانون (۱۷) ماده حکم کوي چې، د ولایتي شورا اداري چارې او خدمتونه دې ولایت تر سره کړي، قانون په دې باب بیا هم پټه خوله دی، چې ولایت د ولایتي شورا اړین خدمتونه او اداري چارې ترسره کړي. ولایتي شورا د خدمتونو د لګښتونو په ډګر کې پر والي پورې تړلې ده. د ولایتي شورا د بودیجې او اړوندانو د ګمارنې چارې هم له هغه ولایتي ادارې څخه، چې دوی یې باید څارنه وکړي، خپلواکې نه دي، نو له دې کبله ولایتي شورا ډېر ځله د ورځنیو خدمتونو د سرته رسولو امکانات هم نه لري. دا چې په ولایتي کچه دا ټاکل شوې شورا د استازیتوب لپاره عمومي چوکاټ وجود نه لري، نو له امله یې د افغانستان خلک خپلې ګیلې او شکایتونه د حکومتي ادارو له لارې اړوندو مراجعو ته نه شي رسولای.

د ولایتي شورا له دندو څخه یوه اساسي دنده هم د ولایت په چوکاټ کې له خلکو او مدني ټولنو سره په ګډه خدمت او یا ګډون دی. پوښتنه دا ده چې ایا ولایتي شورا خپل اغېزمن منتخب موقف ساتلای شي؟ د خلکو او استازو ترمنځ اړیکې کمزورې دي. د انتخاب له دې طریقې سره، چې یو تن د خپلې نه لیږدیدونکې رایې په وسیله د ولایتي شورا لپاره څو تنه استازي غوره کوي، په مشخص ډول د ولسوالۍ استازیتوب له منځه ځي. نو د دې سیستم پر اساس د ولایتي شورا په غړیتوب کې د دې پټه نه لګیږي، چې په شورا کې د ټولو ولسوالیو استازي موجود دي او که څنګه. نن ورځ د شورا غړي یوازې د یوې محدودې ډلې استازیتوب کوي، نو د ټول ولایت د اوسیدونکو، د شورا د استازي هر یو په مجموع کې د انتخابي حوزې، چې ولایت دی، په پرتله ډېر د خپلې ځانګړې ولسوالۍ استازیتوب کوي، یعنې د ولایتي شورا استازي د ټول ولایت له استوګنو سره دومره تړون نه لري، لکه د خپلې ولسوالۍ له اوسیدونکو سره چې لري. په لنډه سره ویلای شو، چې ولایتي شورا ټولو خلکو ته مسؤله ده، دا ځکه چې یو منتخب مجلس دی، او د دوی رول او ونډه عبارت ده له: د ولایت په پرمختیایي پروګرامونو کې برخه اخیستل، د ولایتي او په ولایت کې د حکومتي مؤسسو څارنه، د ستونزو هوارول، د هغو دو دونو له منځه وړل، چې له قانون، شریعت او د بشري حقوقو له معیارونو سره په ټکر کې وي. چاپېریال ساتنه او د غیر قانوني، نشه یي توکو د قاچاق په مخنیوي کې هلې ځلې کول. د ولایتي شورا ، د ولایت د پرمختیایي کمېټې او د والي ترمنځ خپل منځي اړیکې روښانه دي. اوسنی قانون د ولایتي اداري همکاري نه شي باروي کولای. په موجوده قانون کې په ادارو او د قانون د تنفیذ په ادارو باندې داسې بندیزونه نه دي لګول شوي، چې د ولایتي شورا په مجلسونو کې برخه واخلي او یا هغوی ته د اړتیا وړ معلومات ورکړي او په همدې ډول داسې کوم ځانګړی میکانیزم هم نشته، چې ولایتي شورا د ولایتي پلان جوړلو په بهیر کې څومره شامله ده او څه ونډه لري. ولایتي شورا نشي کولای، چې له ولایتي ادارو څخه حساب و غواړي. د ولایتي شورا په اړوند یو څه ستونزې موجودې دي او هغه دا چې دې ادارو ته څومره امکانات په واک ورکړل شوي. نو له همدې کبله دوی نه شي کولای، چې خپلو رایو ورکونکو ته ولایتي ادارو سره د اړیکو په هکله او د ولایتي پلان جوړونې په هکله د قناعت وړ ځوابونه ورکړي. ولایتي شورا د خپلې انتخابي

---

۱- څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سیمه ییزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه لومړی چاپ، ص ۱۹۳

ketabton.com - The Digital Library

حوزې د اسـتازيتوب اسـاسـي ونډه په غاړه لري، په پرمختايي پلان جوړونه کې برخه اخلي او د ولايتي ادارو د چارو او کړنو د څارنې دنده لري لري، خو موجوده قانون دوی ته نه دا واک ورکړی او نه يې دا زمينه برابره کړې، چې خپلې دندې په سمه توګه سرته ورسوي.[1]

## څلورم مبحث ـ ولايتي محکمې

په اوس وخت کې قانون د محکمو د جوړښـــت او په ولايتي کچه د دوی د کارونو او دندو د لاربښوونې لپاره کومې مشخصې لاربښوونې نه لري، چې د هيوادوالو د شکايتونو او دعوو د حل په اړه څه وکړي او خپل کارونه څنګه پر مخ بوځي؟ ولايتي محکمې په روانو حالاتو کې د واليانو، ولايتي ادارو او ولايتي شورا د غير قانوني پرېکړو او غير قانوني کړنو د څار او کنټرول وس نه لري.

## پينځم مبحث ـ د ولسوالۍ اداره

د ولسوالۍ اداري واحدونه له څو کليو څخه جوړ شوي دي چې د ولسوال تر حکمونو لاندې اداره کېږي، همدا راز د ولسوالۍ مرکز د اقتصادي، اجتماعي، فرهنګي، او جغرافيايي موقعيت په اساس ټاکل کېږي.[2]

افغانستان په ټوله کې ۳۸۷ ولسوالۍ لري. د سيمه ييزه ادارو له قانون سره سم ، دغه ولسوالۍ د نفوسو، چاپيريالي او ټولنيزو جوړښتونو پربنسټ، په لومړيو، دويمو او دريمو کټه ګوريو باندې وېشل شوي دي. دغه صنف بندي به د اساسي سرچينو د تخصيص په توګه د استفادې وړ وګرځي. خو د ولسواليو د فعاليتونو د سنجش او همدارنګه د هغوي لپاره د تشويقي بودجې د تخصيص په هدف بايد د ولايتونو په څېر له همغو معيارونولکه (اقتصادي، سياسي او ټولنيزو شاخصونو) څخه استفاده وشي. سربيره پر دې، د هيواد ټولې ولسوالۍ په لاندې ډلبندی ويشل شوي: (۱) ښاري (۲) نيمه ښاري (۳) ترانزيتي (۴) د طبيعي سرچينو لروونکې (۵) سرحدي. همدارنګه کولی شو له دغې صنف بندۍ څخه د ولسواليو د فعاليتونو د سنجولو لړۍ، د يوې برخې په توګه ګټه پورته کړو. د بيلګې په توګه ، سره له دې، چې يو ولسوالۍ کولې شي هر ډول ولسوالۍ رهبري کړي، خو د هرې ولسوالۍ لپاره ستراتيژۍ توپير کوي. د ښاري ولسواليو اړتياوې د طبيعي سرچينو لرونکو له اړتياوو څخه توپير لري. اړوندې شوراګانې د ولسواليو د سيمه ييزه ادارو د څارنې مسئوليت پرغاړه لري، چې په هغوکې ولسوالان، د دريمو واحدونو مسئولين او د ولسواليو امنيتي او دفاعي مسئولان شامليږي. لاندې د پورتنۍ کټه ګورۍ له مخې د هرې يوې لنډه يادونه شوې:[3]

- ښاري: هغه ولسوالۍ، چې تر ټولو ډير نفوس لري او د سرچينو تر ټولو ډير تخصيص ته اړتيا لري.
- نيمه ښاري: دغه ولسوالۍ د ښاري ولسواليو په شاوخواکې موقعيت لري او تر ډېره د خپلو نيږدې ښاري ولسوالۍ فعاليتونو پورې تړلې دي.

---

۱ څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سيمه ييزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندويه ټولنه لومړی چاپ، ص ( ۱۹۲ ـ ۱۹۵)

[2] ثاقب، نقيب الله . (۱۳۹۷ ه ش) . اداري حقوق، جلال آباد : مومند خپرندويه ټولنه، لومړی چاپ ، ص (۱۲۳)

[3] د افغانستان د سيمه ييزو ارګانونو پاليسي، ( ۱۳۹۷) د سيمه ييزو ارګانونو اداره، مخ (۶ ـ۷)

ketabton.com - The Digital Library

- ترانيتي: له دغو ولسواليو څخه عموماً د ترانزيت لپاره استفاده کيږي او د زيات نفوس لرونکي نه دي.
- دطبيعي سرچينو لرونکي: دغه ولسوالۍ د طبيعي سرچينو پراخې زيرمې لري او دکانونو او پټروليم، کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارتونو او چاپيريال ساتنې ادارې له لوري اضافي سرچينوته اړتيا لري.
- سرحدي: دغه ولسوالۍ دنفوسو د راټوليدو له مرکزونو څخه لرې دي او له پولو سره په ګاونډ کې موقعيت لري، چې کولی شي د ترانزيتي د هليزونو په توګه ښه رول ولوبوي. بعضې وختونه دغه ولسوالۍ د سر شاره طبيعي منابعو لرونکې وي، د ملي انسجام لپاره اړتيا ده دغو ولسواليو ته ځانګړې پاملرنه وشي.

موږ لږ تر لږه د ولسوالۍ په کچه د اداري مسئولينو دندې په پام کې نيسو. اوس مهال دېرى ولسوالانو خپل رول او نقش ته اداري رول په توګه فکر کوي. خو د هغوی په دندو کې لاندې موارد هم شامل دي:

- اداري دندې: چې د سيمې د خلکو اړيکو او ارتباطاتوته شامليږي؛
- د امنيت ټينګښت: اړتياوې سنجول او له امنيتي بنسټونو سره همغږي؛
- دعدالت ټينګښت: داډ حاصلول چې په هره ولسوالۍ کې بايد د محکمې سيستم او د لويې څارنوالۍ استازولي موجوده وي؛
- د خدماتو وړاندې کول: د رو غتيايي او تعليمي خدماتو وړاندې کوکو په چاره کې د همغږي کوونکو په توګه عمل کوي.

ولسـوالي په افغانسـتان کې د اداري تشـکيل تر ټولو ټيټ اداري واحد دی. د ولسـوالۍ په تشـکيل کې ولسـوال او د سـکټوري وزارتونو درېيمه درجه واحدونه شـامل دي. په ولسـوالۍ کې پر ابتدايه محکمې سربيره د پوليسو ځانګه او څارنوال هم شته. په ولسوالي کې له حکومتي، رسمي تشکيل سره سره بيا هم د حکومتولۍ کوم رسمي اداري چوکاټ شتون نه لري.[1]

## لمړی مطلب ـ ولسوال

ولسوال د ولسمشر لخوا ټاکل کيږي. ولسوال يوازې د حکومت اجرايوي استازی نه، بلکې په ولسوالۍ کې د دولت لومړی درجه اســتازی هم دی. حکومت په ټولنه او ولس کې له ولســوالۍ څخه نور ښــکته تشـکيلات نه لري، نو له دې کبله ولسوال او ولسوالي د دولت له خوا له ولس سره پر کېدونکي چلند ډېر اغېزه لري. دوی کولای شــي، چې د خلکو عرضــونه واخلي او يا يې لوړو چارواکو ته وړاندې کړي. ولســـوال والي ته راپور ورکوي، ولې په يوه وخت کې په ولســـواليو کې فزيکي جلاوالی د دوی اړيکي کموي، نو همدې خنډونو د ولســوال حســاب ورکونه يا مســؤليت له خنډ ســره مخ کړی. د ســيمه ييزې حکومتولۍ د قانون څلورمې مادې د دوهمې فقرې د حکم له مخې د مســـؤليت او واک په ســـيمو کې د

[1] د افغانستان د سيمه ييزو ارګانونو پاليسي، ( ۱۳۹۷) د سيمه ييزو ارګانونو اداره، مخ (۷ _۸)

ketabton.com - The Digital Library

ولسوال تشریفاتي ځواک محدود دی، ولې په حکومتي تشکیل کې د ولسوالۍ په کچه مرکزي شخص بلل کیږي. ولسوال یو لړ اداري دندې لري، چې عبارت دي له:[1]

- د پېژند پاڼو یا تذکرو ورکول
- د مړینو او ودونو ثبتول

ولسوالان په ولسوالیو کې په پولیسو باندې مستقیم اغېز او واک نه لري، ځکه چې پولیس د خپلو کړنو راپور د ولایت امنیه قومندان ته ورکوي، نو له دې کبله ولسوالان د امنیت په اړه نېغ په نېغه او ستر مسؤلیت نه لري.

ولسوالان د خپلو مامورینو په کړو وړو باندې په عمل کې ډېر نفوذ او اغېز لري، په خپلو مامورینو د همدغه ډېر واک او اغېزې له مخې ولسوالان په ولسوالیو کې د فعالیتونو په څار او کنټرول کې ډېر رول لري. ولسوالان د مخالفتونو او ستونزو په حل کولو کې لوی لاس لري. ولسوالان د ولسوالۍ مشران او سپین ږیري راغواړي د ولسوالۍ اړوند ستونزې ورسره تر بحث او څېړنې لاندې نیسي. په ډېرو ولسوالیو کې ولسوالان شوراګانې جوړوي، چې ده ته د چارو په سرته رسولو کې مشوره ورکړي او په پرېکړو کې ورسره مرسته وکړي.

د ولسوال د خدمت موده د یوې ولسوالۍ پر چوکۍ مشخصه نه ده، ولې په منځنې ډول د (۱۹) میاشتو په شاوخوا کې اټکل کېدلای شي. ولسوالي په حکومتي تشکیل کې تر ټولو ټیټه یا کوچنۍ متشکله اداره ده. ولسوال په رسمي ډول په دې تشکیل کې دهمغږۍ رول لري. ولسوال په ولسوالیو کې تر ټولو مهم مامور ګڼل کیږي. د ولسوالیو غیر رسمي ونډه او رولونه عبارت دي: د مخالفتونو او ستونزو حل چې دا کار له ولایت او سیمه ییزه غیررسمي مشرانو سره د دوی د اړیکو په څرنګوالي پورې اړه لري. ولسوال په خپل ځنګ کې نیمه غیر رسمي شوراګانې هم لري، ددې ترځنګ ولسوال له ملکانو، اربابانو، د کلي د مشرانو سره هم اړیکه ساتي. دغه شوراګانې د اهمیت وړ ګڼل کیږي. په ولسوالۍ کې د ولسوال رول په ولایت کې د والي د رول سره ورته والی لري، سره له دې چې رسمي صلاحیتونه یې محدود دي. د ولسوالیو په تشکیل کې ولسوال تر ټولو مهم او اساسي شخص ګڼل کیږي. ولسوال سربیره په خپلو رسمي دندو، چې د تذکرو ورکول او د ودونو او مړینو ثبتول دي، د مخالفتونو او کشالو په حل، د ولسوالیو اړوندو مسلو او ستونزو پر سر د بحث لپاره د ولسوالۍ د استازو او مشرانو راغوښتل او د مجلسونو دایرول او د ولسوالۍ له اوسیدونکو څخه د عریضو اخیستل هم د نوموړي په دندو کې شمیرل کیږي.۲

ولسوال په خپله ولسوالۍ کې د حکومت په استازیتوب له خلکو او ولس سره د سیاسي اړیکو په ټینګښت کې هم اساسي ونډه لري. ولسوال د خلکو او حکومت په منځ کې د پیوستون او نښلولو اساسي کړۍ ده. که چیرې خلک د ولسوالۍ په هره اداره کې کار ولري، غوښتنپانه د ولسوال په نامه ورکوي، چې ولسوال ورته د مناسب ځواب ورکولو واک لري. دولت ته د لاسرسي په کنټرولولو سره ولسوال له خکلو سره د دولت د چلند په پر څه ډول والي لویه اغېزه لري. ولسوال پر د ې چارې هم ډېره اغېزه او کنټرول لري، چې دولت او بهرني جوړښتونه دي له سیمه ییزې مسایلو سره څرنګه او څه ډول چلند

---

۱ ـ څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سیمه ییزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه لومړی چاپ، ص (۱۹۵ ـ۱۹۶)

[2] دګلاس سالت مارش و ابهیلاش مدهی ، (۱۳۸۷ه ش)، حکومتداری محلی در افغانستان، ترجمه :عارف عمار، واحد تحقیق و ارزیابی افغانستان، کابل ـ افغانستان

ketabton.com - The Digital Library

ولري. په دې چارو کې د مخالفينو پاڅون، سيمه ييزې لانجې، د نشه يي توکو توليد او قاچاق شامل دي. پردغو مسلو باندې د اغېز په درلودلو سره ، د ولسوال واک تر هغه څه ډېر زياتيږي، چې په رسمي ډول ده ته ورکول شوی دی. واليان د ولسوالانو په مقررۍ کې اغېزه لري. د ولسوالانو په اړه دا تصور هم موجود دی، چې دوی مادي امکاناتو او بډو ته هم لاسرسی لري، نو له همدې کبله زياتره د ولسوالۍ پر چوکۍ کې بدلونونه ژر ژر رامنځته کيږي. د ولسوالانو بدلول رابدلول او مقررۍ، د يو سيمه ييز ځواکمن شخص د ملاتړ د ترلاسه کولو په خاطر کيږي. په ولسوالۍ کې د ولسوال کې د ولسوال د خدمت موده په منځني ډول تقريباً نولس (۱۹) مياشتې ده. د ولسوالانو په بدلون کې د اړيکو او ارتباطاتوسياست ډېره ونډه لري. په ولسوالۍ کې خلکو ته د خدمتونو په برابرولو کې د ولسوال رول د پام وړ دی، د دې لپاره چې د ولسوالۍ په کچه د ولس او حکومت تړيکې سمې او باوري شي، نو ولسوالان بايد خلکو ته د خدمت په روحيه سمبال او ځان خلکوته مسؤل وبولي. خلکو ته د ولسوال مسؤليت، د حکومت لخوا خلکو ته د خدمتونو برابرول او د حکومت او خلکو ترمنځ پيوستون پياوړی کوي. و لسوال د کشالو په حل او د سيمه ييزو لانجو او کشالو په اوارولو کې مهم رول لري. هڅه کيږي، چې ډېر اختلافونه او لانجې خپله په ولس کې حل شي. کله چې د جرمونو او شخړو راپور ولسوالۍ ته رسيږي، لومړی شخړې کوونکي ولسوال ته مراجعه کوي، ولسوال په دې باب پرېکړه کوي، چې وړاندې شوې عريضه بېرته د شخړې د حل په خاطر د کلي مخورو ته واستوي، پخپله يې حل کوي او که يې پوليسو، څارنوالۍ او يا محکمې ته ليږي، د شخړو په حل کې د دوديزو ولسي جوړښتونو او دولتي ادارو ترمنځ تړاو لري او ولسوال د دې دواړو ډولونو اړيکو کړې دي. د شخړو په حل کې پوليس څارنوالۍ او محکمې ته د خلکو مراجعه د ولسوال په نفوذ پورژې تړاو مومي.[1]

## دوهم مطلب ـ د ولسوالۍ شورا

د اساسي قانون له مخې د ولسوالۍ شورا د دې لپاره جوړه شوې، چې د خلکو فعاليتونه او چارې سره منظمې کړي او خلکو ته د دې زمينه برابره کړي، چې په خپله سيمه ييزه اداره کې فعاليتونه او چارې سره منظمې کړي، او همدارنګه په خپله سيمه ييزه اداره کې فعاله ونډه واخلي. د ولسواليو شوراګانې لا تر دې دمه نه دي انتخاب شوې، د ولسواليو شوراګانې په هرو درې کلونو کې د انتخاباتو د خپلواک کميسيون له لوري د پټو، ازادو او مستقيمو رايو په پايله کې جوړيږي. د اساسي قانون (۸۴) ماده حکم کوي، چې د هر ولايت د ټولو ولسواليو د شوراګانو له غړو څخه يو تن مشرانو جرګې ته د درېيو کلونو لپاره، د ولايت د استازي په توګه ليږل کيږي.

## درېيم مطلب ـ په ولسوالۍ کې د وزارتونو دريمه درجه واحدونه

د بېلا بېلو لاملونو لـه کبلـه د کورنيو چـارو وزارت، د کليو د بيـارغونې او پراختيـا وزارت، د پوهنې وزارت او د کرهنې او مالدارۍ وزارت، د ولسوالۍ په کچه خپلې څانګې او تشکيلات لري. د وزارتونو دا څانګې لږ اجرائيوي مسؤليتونه لري، او د پرېکړو کولو د صلاحيت کچه يې هم لوړه نه ده. په هغو ولسواليو کې، چې هلته د پوهنې او د روغتيا وزارت مسؤل پرسونل نه وي، نو د کلينيکونو او ښوونځيو راپور مخامخ د ولايت په مرکز کې خپلو اړوندو رياستونو او څانګو ته استوي. په ولسوالۍ کې

[1] څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سيمه ييزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندويه ټولنه لومړی چاپ، ص۱۹۷

ketabton.com - The Digital Library

د ادارو ترمنځ همغږي لږ تر سترګو کيږي او په ولسوالۍ کې د ادارو د مشرانو د کار موده، د دوه کلونو په شاوخوا کې ده.

## څلورم مطلب ـ د ولسوالۍ پرمختيايي اسامبله

د ولسوالۍ پرمختيايي اسامبله د کليو د بيارغونې او پراختيا د وزارت د سيمه ييزو ملي پرمختيايي پروګرام په بنسټ جوړه شوې، په هغو ولسواليو کې، چې د کليو پرمخيتايي شوراګانې وجود لري، نو د ولسوالۍ پرمختيايي اسامبله (D.D.A) د کليو د پرمختايي اسامبلې نشته، د ټولنې غير منتخب مشران د ولسوالۍ پرمختيايي اسامبلې لپاره ټاکنې کوي. له دې کبله د ولسوالۍ پرمختيايي اسامبلې ټاکنې بشپړه ولسواکه بڼه نه لري،و د ولسوالۍ پرمختيايي اسامبله، په ولسوالۍ کې د کليو د پرمختيايي شوراګانو استازيتوب کوي. د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د ولسوالۍ د پرمختيايي اسامبلې او د کليو لپاره د يو هر اړخيزه پرمختيايي پلان جوړولو په هکله اجرائيوي لارښوونې لري. د دغو لارښوونو له مخې د ولسوالۍ د پرمختيايي شورا اساسي دندې دا دي. "له ولسوالۍ سره په پلان جوړولو، اداري، د پلان په تحقيق، د پروژو په پلي کولو، د پروژو په پرمختګ، د پروژو په ارزونه او د سرچينو د انسجام به چارو کې مرسته کول." د ولسوالۍ پرمختيايي اسامبلې د پلان جوړولو، همغږي او د مشورې ورکولو په برخو کې يو لړ دندې او وظايف لري. په د غه دندو کې د ولسواليو لپاره د داسې لومړيتوبونو او ستراتيژيو په ګوته کول دي، چې د خلکو او کليو ګټو ته انعکاس ورکړي، او د ولايتي پلان جوړولو له بهير سره په سمون کې وي، بله دنده يې دا ده، چې د ولسواليو اسامبلې د ولسواليو لپاره د پرمختيايي پلانونو مشري وکړي، د دغې اسامبلې د کار لايحه هم دا په ګوته کوي، چې د ولسوالۍ په کچه د ټولو پرمختيايي مؤسسو، پروګرامونو او پروژو ترمنځ اغېزناکه انسجام منځ ته راولي. له همدې امله نو د ولسوالۍ پرمختيايي اسامبله بايد د ولسوالۍ په کچه د پلان جوړولو، سرچينو څخه د ګټې اخيستلو، پلي کولو، څارنې او ارزونې په کارونو کې پوره مرسته او هکاري وکړي.[1]

## شپږم مبحث ـ د کلي اداره

دا چې کلی د هېواد د اساسي قانون له مخې د هېواد په اداري جوړښت کې منظور شوی دی، خو د رسمي ځای څخه خالي دی، د قانون په رڼا کې په هر کلي کې صالح او وړ شخص د خلکو لخوا د قريه دار (ملک) تر عنوان لاندې انتخابيږي. د هغه مهم او اړين کار دادی چې د خلکو اړيکې د ولسوالۍ له مرکز سره برقرار او هم د محلي مقامونو دستورونه د کلي اوسيدونکو ته ابلاغ کړي.[2]

افغانستان د کليو او محلاتو په کچه د ولسونو د پراخه ګډون په برخه کې ډيرې برياوې لري، دغه برياوې د ملي پيوستون پروګرام او دهغه د بديل ولسي تړون پروګرام په پايله کې ترلاسه شوې، د دغو پروګرامونو په ترڅ کې حکومت وکولای شول ، چې د هيواد په ۳۴ ولايتونوکې له ۴۵۵۳۸ څخه زياتو کليو ته يونيم ميليارد ډالر بلاعوضه مرسته چمتو کړي. دولسي تړون نوی پروګرام د دولت اوټولنې ترمنځ يوه ګډه ژمنه ده، چې په واقعيت کې د دولت د پرمختيايي ليد لوري د تحقق لپاره د بنسټ ډبره ګڼل کيږي. په ټوليز ډول ، دغه پروګرام د مشروعيت او د څو ټوټو څخه د مخنيوي لپاره د دولت

[1] څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سيمه ييزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندويه ټولنه لومړی چاپ، ص (۱۹۵ـ۲۰۰)
[2] ثاقب، نقيب الله . (۱۳۹۷ ه ش) . اداري حقوق، جلال آباد: مومند خپرندويه ټولنه، لومړی چاپ ، ص ۱۲۴

ketabton.com - The Digital Library

هڅه اوهاند دی. ولسي ترون د ټولنيزو لومړيتوبونو پربنسټ هر هيوادوال ته د اساسي خدمتونو وړاندې کولو لپاره يوه ژمنه ده، د لمړي ځل لپاره به د افغانستان ښاري اوکليوالي پرمختيايي پروګرامونه تر يوه چتر لاندې پلي شي. د افغانستان د ولسي ترون پروژه، د ولسي ترون لومړيتوب لرونکي سترملي پروګرام يوه برخه ده. له همدې امله لازه ده ، چې د افغانستان له اقتصادي اوسياسي پرمختيا سره د مرستې لپاره ، د ولسي ترون پروګرام جوړښت کې بدلون راشي. لومړی دا، چې که د ولسي ترون پروګرام پريو دوامداره پروګرام بدل شي، بايد ولسي ترون چوکاټ، مالي ګټې د پروژو ارزونې بهيرديوې برخې په توګه په پام کې ونيول شي. [1]

دويم دغه پروګرام بايد دهرکلي په سترو ګروپونو کې مدغم او دغو سترو ګروپونو لپاره لويې بلاعوضه مرستې چمتوګړي. دغه بهير د ولسي ترون د پروګرام سره مرسته کوي چې تر څو د ولسواليو، ولايتونو او د زون لوی پروګرامونه سره همغږي ګړي.

دريم دغه پروګرامونه بايد د کرنې سکتور په ملاتړي طريقې کې بدلون راولي. دلته بايد پروګرام له هغو پروژو څخه ملاتړ کړي، چې د حبوباتو لکه غنم له کښت سره مرسته کوي، د امکان په صورت کې دې د تخمونو توليد پرښه والي، دهغو پرحاصل او همدارنګه دکرنيزو کوپراتيفونو پرجوړولو او ملاتړ تمرکزوکړي.[2]

## لومړی جز ـ د کلي شورا

که څه هم اساسي قانون د کلي شورا د جوړښت په اړه وايي، چې د کلي شورا کار دخلکو د فعاليتونو د تنظيم او هغوی ته د دې زمينه برابرول دي، چې په کليوالـه اداره کې فعالـه برخـه واخلي په کليو کې شورا بايد انتخاب شي، خو په کليو کې دغه شوراګانې لا تر اوسه نه دي انتخاب شوې.

## دوهم جز ـ د کلي پرمختيايي شورا

د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت په (۱۳۸۲ل) کال کې هڅه وکړه، چې د ملي پيوستون د پروګرام د يوې برخې په توګه د کليو پرمختيايي شوراګانې جوړې کړي، له دې کار څخه د ملي پيوستون دغه دوې موخې درلودې:

۱) د پروژو پر بنسټ د کليو د پرمختيايي پروګرام

۲) د ولس د اداره کولو د ظرفيت لوړول، د کلي د پرمختيايي شورا تر شپېتو زرو (۶۰) ډالرو پورې بوديجه ترلاسه کولای شي، ترڅو په دې بوديجې باندې خپلې د اړتيا وړ پروژې پلي کړي، چې په دې پروژو کې د انساني سرچينو د پرمختيا پروګرامونه هم شاميلېدای شي. په لومړيو دوو کلونو کې د کليو د بيارغونې او پرمختيا وزارت د ملي پيوستون د پروګرام پر بنسټ په هيواد کې (۱۰۴۰۰) کليوالي شورا ګانې جوړې کړي دي. همد ې وزارت په دريم کال هم د شوراګانو جوړولو ته دوام ورکړ، چې (۴۹۰۰) نورې شوراګانې يې جوړې کړې. په دې توګه په هيواد کې له (۱۷۰۰۰) څخه ډېرې کليوالي شوراګانې د

---

[1] څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سيمه ييزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندويه ټولنه لومړی چاپ، ص (۲۰۱)

۲ د افغانستان د سيمه ييزو ارګانونو پاليسی، د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکه اداره، ۱۳۹۷ ه ش ، مخ (۹ـ ۱۰)

ketabton.com - The Digital Library

درېيو کلونو په موده کې جوړې شوې دي. په دې وروستيو وختونو کې تقرياً د افغانستان په نيمايي برخه کې کليوالي پرمختيايي شوراګانې جوړې شوې او په کار يې پيل کړی دی. دغه کليوالي شوراګانې دا دنده لري، چې د ولسونو لپاره د هغوی د لومړيتوبونو پر بنسټ ټولنيز پرمختيايي پلانونه جوړ کړي. کليوالي پرمختيايي شوراګانې د ملي پيوستون د پروګرام له لارې د منظورو شويو پروژو د پلي کولو لپاره پيسې ترلاسه کوي. د ملي پيوستون د پروګرام لارې کليوالي پرمختيايي شوراګانو ته يوازې يوځل پيسې ورکول کيږي او دايمي بڼه نه لري. د ملي پيوســـتون پروګرام کليوال دې ته هڅوي، چې د پروژو په انتخاب او پلي کولو کې برخه واخلي. د ملي پيوستون پروګرام د ولسي وګړو لخوا د پروژو د پلي کولو په برخه کې يو شـمير پرمختللي معيارونه لري. د دغو معيارونو پلي کول د هيواد په بېلا بېلو برخو او کليو کې يو له بل سـره توپير لري. نا دولتي مؤسـســي د اســانتياوو برابروونکو په توګه په کليو کې د ملي پيوســتون پروګرام پلي کوي، دغه مؤسسې د کليوالي شوراګانو په ټاکنو کې مرسته کوي. د کليوالو لخوا ټاکل شوې پرمختيايي شوراګانې د کليوالو لومړيتوبونه په ګوته کوي، او د دغو پروژو د پلي کولو لپاره د قسطونو له لارې پيسې ترلاسه  کوي. د ملي پيوستون پروګرام د سيمه ييزې پرمختيا په برخه کې يو نوښت دی، بله خبره چې دا پروګرام  په کليو کيې د خلکو د حکومتوالۍ د بنسټ ايښودلو په لاره کې  يو نوښت هم دی، د هېواد په ډېرو برخو کې د کليوالي شـوراګانو په څېر انتخابي جوړښـتونه ليدل کيږي. په ډېرو حالاتو کې د اسـانتياوو برابروونکو مؤسسو لخوا د ټاکنو بهير په داسې ډول برابر شـوي وي، چې په شوراګانو کې د ښځو ګډون زيات کړي. د کليو د پرمختيايي شوراګانو د مشرتابه په ټاکنو کې توپيرونه ليدل کيږي. کليوالي پرمختيايي شـورا ګاني پردې بريالۍ  او ټاکل شـوې، چې د کلي په کچه د موجودو ســـرچينو په پرمختيا کې لوې ګام پورته کړي، چيرې چې دغه ســـرچينې د کليو په کچه په برياليو پرمختيايي پروژو اوښـتې دي، هلته د حکومت د مشـروعيت او محبوبيت سـتنې لا ځواکمنې شـوې دي. کليوالي پرمختيايي شوراګانې د هېواد په کچه داسې جوړښتونه دي، چې په ولسي ستنو ولاړ دي. د ملي پيوستون پروګرام په بېلا بېلو پړاوونو کې پلی او تر سره شوې دي. ځينې له دې پړاوونو څخه دا دي :

- د کليوالي پرمختيايي شوراګانو ټاکنې
- ددغو شوراګانو ترکيب او جوړښت
- د کليوالي پرمختيايي شـورا ګانو پرمختيايي او د پروژو پر غوره کولو او پلي کولو سـربېره د نورو فعاليتونو سرته رسول.

په داســي حال کې، چې د کليوالي پرمختيايي شــوراګانو ډېر شــمېر غړي دا دعوه لري، چې په حکومتي فعاليتونو او د شخړو په حل کې بوخت دي، خو دا کارونه په ټولو ځايونو کې يو شانته نه دي. د شوراګانو دغه غړي دا ډول کارونه له دوديزو جوړښتونو سره په همغږۍ  کې سرته رسوي د کليو په پرمختيايي شوراګانو او د ولسي حکومتوالۍ  په کارونو کې د ښځو ريښتينې ګډون له ډېرو ستونزو سره مخ دی، د ښـځو ګډون ډېر د اسـانتياوو په شـتون پورې اړه  لري. د ښـځو ګډون د پروژو د انتخاب په پرتله په ولسـي اداره کې ډېر کم دی. اکثره ټولنې، کليوالي پرمختيايي شـورا ګانې له پروګرام جوړولو څخه پرته د نورو موخو لپاره کاروي، د راپورونو له مخې کليوالي پرمختيايي شورا ګانې حشرونه او د خپلې خوښې ډله ييز کارونه هم تنظيموي، له دغو شوراګانو څخه ځينې يې د ناورين ځپلو لپاره مرستې

ketabton.com - The Digital Library

او اســانتیاوې برابروي او ځیني یې بیا د ټولنیزو خیر ښــېګڼې پروګرامونه، لکه تر ګواښ لاندې خلکو لپاره د کارونو پیدا کول او اړو کورنیو ته د پیسو راټولول هم پرمخ وړي[1].

کلیوالي پرمختیایي شورا ګانې د ټولنې د سوکالۍ په لاره کې د یادونې وړ کارونه سرته رسولي دي. دې شــــوراګانو د هېواد په ډېرو برخو کې هیوادوال هڅولي دي، چې د پرمختیا په باب خپل لومړیتوبونه په ګوته کړي. د کلیوالي پرمختیایي شــوراګانو مشــروعیت او د خلکو لخوا د دوی منل، د کلیوالي پرمختیایي شوراګانو لخوا خلکو ته د سرچینو له برابرولو سره تړاو لري.

په سـیمه ییزه حکومتوالۍ کې د شـوراګانو د اوږد مهال موجودیت او فعالیت په خاطر د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت قانوني زمینه برابره کړې ده. اوږد مهال موجودیت د کلیوالي پرمختیایي شوراګانو د فعالیت لپاره د همدې وزارت لخوا یوځانګړی قانون جوړ سوی، چې دغه قانون په ( ۱۳۸۵ه ش) کال کې د ولسمشر لخوا توشیح شو. دغه قانون د یوې اداري مقررې په توګه، په ولسونو او کلیو کې، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت فعالیتونه تنظیموي، خو بل وزارت د دغه قانون په اجرا باندې ملزم نه دی. دغه ځانګړې مقرره د کلیوالي پرمختیایي شوراګانو ونډه او رول نور هم پراخوي او له اصـــلي فعالیتونو څخه بهر د همغږۍ او اداري نور فعالیتونه او دندې هم ورســـپاري. د کلیوالي پرمختیایي شوراګانو په باب په دغه مقرره کې یو شمېر نورې موضوعګانې نه دي روښـانه شوې، چې دا پته نه معلومیږي، چې کلیوالي پرمختیایي شورا د مدني ټولنې یو سازمان دی او که سیمه ییزه اداره؟ دغه راز په دې ځانګړې مقرره کې دا نه ده روښـانه شوې، چې آیا کلیوالي پرمختیایي شـوراګانې خپلې دندې او فعالیتونه له نورو کلیوالي شوراګانو، ولسوالانو او یا هم د ولسوالۍ له شوراګانو سره تنظیم او همغږې کړي؟، د دې تر څنګ په کلیو کې د شــخړو اوارول، چې کلیوالي پرمختیایي شــوراګانو ته سپارل شوي هم په مقرره کې نه دي واضـح شوي. په هېواد کې د کلیوالي پرمختیایي شوراګانو د وړتیا په هکله هم یو لړ پوښـتنې موجودې دي، دا پوښـتنې را ولاړیږي، چې د کلیوالي پرمختیایي شـوراګانو ظرفیتونه او وړتیاوي څه ډول لوړولای شـو، تر څو هغوی وکولای شـي، د حکومتولۍ فعالیتونه سـرته ورسـوي. یوه بله پوښـتنه چې په دې اړوند شـته، هغه دا ده، چې د ملي پیوسـتون پروګرام د بودیجې د درېدلو په وخت کې به د دې شـوراګانو دوام څومره وي. د واک ځینو دودیزه جوړښـتونو، چې په هغو کې ملکان، عنعنوي شورا ګانې او ولسوالان شامل دي، د کلیوالي پرمختیایي شوراګانو له موجودیت سره مخالفت څرګند کړی دی[2].

---

[1] څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سیمه ییزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه لومړی چاپ، (۲۰۱ -۲۰۳)
[2] څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سیمه ییزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه لومړی چاپ، ص ۲۰۴

ketabton.com - The Digital Library

## دريم جز - د کليو په کچه غير رسمي اداري

### الف ـ ملک، ارباب، قريه دار

دا خلک د حکومت او ټولنې ترمنځ رابطه جوړوي، هغوی ستونزي حلولای شي، دوی د کلي د عامه ملکيت ساتنه کوي.

ملک يا قريه دار د خلکو او د ولسوالۍ د ادارې ترمنځ يوه غوره اړيکه جوړوونکی دی. ملک اصطلاح د عربي له ژبې څخه اخيستل شوې، چې د واک، کنټرول او حکمرانی معنا لري. د ملک دنده، واک او ټاکنه او د هېواد په بېلا بېلو برخو کې يو ډول نه ده. په ځينو سيمو دا نظام کمزوری شوی دی. په نورو سيمو کې ملک په کليوالو ادارو کې مرکزي حيثيت لري.

ملکان د ټولنې او د ولسوالۍ د ادارې ترمنځ د پل حيثيت لري. هغوی په جرګو، مرکو، د ودونو او زيږدنې په ثبتولو او په ودونو کې د کورنيو اسـتازيتوب کول او داسـي نورو چارو کې خپل رول لوبوي. ملکان يا خو د خلکو په وسيله ټاکل کيږي او يا هم ورته ملکي په ميراث پاتې وي. نوي ملکان د کورنيو د مشـرانو د خوښـي او جوړجاړي په ترڅ کې ټاکل کيږي، ملکان د زيات او يا کم نفوذ درلودونکي وي، ملک کېدلای شي د يوه کلي يا څو وړو کليو لپاره غوره شوی وي. په ځينو سيمو کې د فرعي ولسواليو په ډول يو نظام پيژندل شـوی، چې (منطقه) ورته ويل کميږي. دغه منطقې يو شـمېر ملکان لري، ملکان د خپلې چوکۍ لپاره نه له دولت او نه له خلکو څخه مادي ملاتړ ترلاسـه کوي. په ځينو ولايتونو کې د ارباب د اصطلاح اطلاق د ټولنې په با نفوذه خلکو کيږي. د اربابانو نفوذ د هغوی د زياتو ځمکو له کبله دی. په هېواد کې د کليو د حکومتولۍ په نظام کې لوي توپير شته.

### ب ـ خان

خان هغه لوی ځمکوال دی، چې د کليوالي ټولنې سـرچينې کنټرولوي، د کلي خواريکښـو ته د کار زمينې او بزګرو ته د کښت لپاره ځمکې ورکوي اوهم په شخړو کې د منځګړي رول لوبوي.

### ج ـ سپين ږيري، ګذر ملک

سپين ږيري د ټولنې هغه نارينه مشران دي، چې زياتره د خپل ګاوند يا خپلې قبيلې مشري کوي.

### د ـ ميراو (ميراب)

په کليو کې د ويالو د اوبو وېش او کنترول د دوی په غاړه دی.

### ه ـ علماء، ملايان

عالمان د ټولنې مذهبي لارښوونکي دي، دوی د شريعت د قانون له مخې د امامت، خطبو ويلو او په ټولنه کې د اخلاقي چارو په اړه د قضـاوت واک لري، علماء د شـريعت له نظره شـخړې هم حل او فصل کوي.

ketabton.com - The Digital Library

### و- اربکیان

اربکي د هېواد په جنوب ختیځ کې سیمه ییزې ملیشــي ته ویل کیږي، چې یو ډول قبیله یی بڼه او جوړښت لري، اربکي ځواک له سیمه ییزو قبیلو څخه جوړ شوی. د سیمې خلک یې مرسته کوي، دوی هم په سیمه کې خلک پیژني اربکي د اړتیا په وخت کې د سیمه ییزو جرګو د پرېکړو د پلي کولو دنده په غاړه اخلي. د اربکیو نظام پر قبیلو ولاړ دی، او د ټولنې د دفاع چارې پر مخ وړي، دوی د هغو ســـیمو لپاره اغیزمن دي، چیرې چې د یوې قبیلې خلک اوسي.[1]

## اووم مبحث ـ ښاروالي

### لومړی مطلب ــ د ښاروالۍ رامنځته کول، ادغام او له مینځه وړل

افغانستان ۱۶۵ ښاروالۍ لري، چې په ۱۳۷۹ ه ش کال کې د ښاروالیو د تصویب شوي قانون له مخې اداره کېږي همدارنګه ښاروالۍ یوازینې سیمه ییز بنسټونه دي، چې د عواید راټولولو حق ورکړل شوی دی. مونږ د ښاروالیو په کچه د ډیرو مثبتو بدلونونو شاهدان اوسو.[2]

« ښــاروالي یوځانګړی قانوني، سیاســي اواداری واحد دی، چې په پیژندل شــوي او ټاکل شــوي جغرافیایي یا ځمکنۍ سیمه کې حاکمیت ولري، او د خلکو د عامې ښېګڼې په موخه منځته راځي. »

- د اداري او حکومتي مراتبو د لړۍ له پلوه " ښاروالي" یو داسې اداري واحد دی، چې له ولایت وروسته په دوهمه درجه کې راځي.

- ښــاري ولســوالۍ له ښــاروالیو څخه جوړې دي او کلیواله ولســوالۍ له کلیو څخه ټول دغه راز اداري واحدونه ټاکل شوي جغرافیایي پولې او سیاسي او اداري حدود لري.

- ښاروالي شرکت ته ورته حالت لري. ښــاروالي کولای شــي شــرکت ته ورته ځینې فعالیتونه ترسره کړي، لکه د جایداد پیرول او پلورل، قراداد کول، د بل چا پر ضــد د دعوې اقامه کول او یا یې پر ضــد اقامه د دعوې کېدل، د قانوني نومونو کارول، او د عامه اقتصادي شرکتونو تنظیمول.

- ښاروالي دیو شمیر معیارونو د ټاکلو په وخت کې رامنځته کیدای شي.
- ښــاروالي کېدای شــي د قانوني پړاونو د بشپړولو په وخت کې رامنځته ، مدغم او له منځه ولاړه شي.
- ښاروالي کېدای شي د قانوني پړاونو د بشپړولو په وخت کې مدغمه شي.
- ښاروالي کېدای شي د ځینو ځانګړو شرایطو په وخت کې له مینځه ولاړه شي.

[1] ځرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سیمه ییزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه لومړی چاپ، ص ۲۰۵
[2] د افغانستان د سیمه ییزو ارګانونو پالیسي، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره، ۱۳۹۷ ه ش ، مخ (۸)

ketabton.com - The Digital Library

**دوهم مطلب ـ د ښاروالیو د رامنځته کولو لپاره معیارونه**

- ښه پیژندل شوي یا تاکل شوي جغرافیایي حدود ولري، چې د افغانستان د جیودیزي او کارتوگرافي د لویې ادارې د معیار له مخې لږ تر لږه (۵۰) کیلو متره مربع پیراخوالی ولري.
- د احصایې د مرکزي ادارې د معیار له مخې لږ تر لږه (۲۰۰۰۰۰) تنه نفوس ولري.
- له مالي پلوه پر ځان ډېره ولگوي، تر څو وکولای شي خلکو ته لومړني خدمتونه او اسانتیاوې برابرې کړي.

**درېیم مطلب ـ د ښاروالیو د رامنځته کولو، یوځای کولو، او له منځه وړلو پړاوونه**

خلک د خپل کلي د شورا له لارې لومړی په خپلو کې مشوره کوي او بیا خپل وړاندیز وړاندي کوي.

- خلک خپل وړاندیز د خپل کلي د شورا د پرېکړه لیک په ډول د ښاروالۍ شورا ته سپاري، چې دا شورا د تاکل شوو معیارونو له مخې وړاندیز تر غور او څېړنې لاندې نیسي. د ښاروالۍ شورا د مشورې له تر سره کولو وروسته، وړاندیز د پرېکړه لیک په ډول د ولایتي اداري مجلس له لارې د تایید په موخه ولایتي شورا ته سپاري.
- ولایتي شورا وړاندیز د یوه پرېکړه لیک په ډول له تایید وروسته د منظورۍ لپاره د سیمه ییزو ارگانونو خپلواکه ادارې ته سپاري.
- د سیمه ییزو ارگانونو خپلواکه اداره د وړاندیز څېړنه کوي او ډاډ تر لاسه کوي، چې وړاندیز د نوي ښاروالۍ د منځه راتلو په برخه کې له حقوقي او قانوني معیارونو سره سمون لري. وروسته بیا دغه وړاندیز ولسي جرگې ته سپارل کیږي. ولسي جرگه د نظرونو له اورېدلو او راټولولو وروسته د وړاندیز په اړه پرېکړه کوي.[1]

**څلورم مطلب ـ د ښاروالۍ د ادغام لپاره شرایط**

- هغه ښاروالۍ ، چې د قانوني بهیر له بشپړولو او د مرکزي دولت له منظورۍ پرته منځته راغلي وي.
- هغه ښاروالي، چې پایښت یې تر پوښتني لاندې وي، یعنې هغه ښاروالۍ ، چې د ښاروالیو اړین معیارونه پوره نشي کړای.
- هغه ښاروالۍ چې پایښت یې تر پوښتني لاندې وي ، کېدای شي له یوې داسې گاونډۍ ښاروالۍ سره یوځاي شي، چې د پایښت قابلیت ولري. دغه راز دا ډول ښاروالۍ کولای شي له هغو پایښت موندونکو ښاروالیو سره یو ځای شي، چې په گاوند کې یې دي.
- د پاته کېدو وړ لویه ښاروالي کولای شي یوه داسې چې د پاتې کېدو وړ نه ده، له شتمنۍ او مالي سرچینو سره په ځان کې مدغم کړي.

[1] ځرگند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سیمه ییزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندویه تولنه لومړی چاپ، ص ۲۰۶ـ ۲۰۷

ketabton.com - The Digital Library

## پینځم مطلب ـ د ښاروالیو د له منځه وړلو لپاره شرایط

- هغه ښــاروالۍ چې د قانوني بهیر له بشــپړولو او د مرکزي دولت له منظورۍ پرته منځته راغلي دي.
- هغه ښــاروالۍ، چې ښــایي د پاتې کېدو وړ نه وي او د ښــاروالیو اړین معیارونو ونه لري. لغوه شوې ښاروالۍ کولای شي له ګاونډۍ ښاروالۍ سره، چې یا تر نن پورې د پاتې کېدلو وړ وي او یا له لغوه شوې ګاونډۍ ښاروالۍ سره له یو ځای کېدو وروسته په یوه د پاتې کېدلو وړ ښاروالۍ واوړي.
- هغه ښاروالۍ، چې ټول قانوني، سیاسي، سازماني او اداري ماهیت یې له لاسه ورکړی وي.
- د پاتې کېدو وړ او لویه ښاروالۍ کولای شي ، یوه داسې ښاروالۍ ، چې د پاتې کېدو وړ نه ده په خپل تشکیل کې له شتمنۍ او مالي سرچینو سره مدغم کړي.[1]

## اتم مبحث ـ د ښاروالیو ډلبندي

ښاروالي باید د بېلابېلو فکتورونو له مخې ډلبندي شي. د ښاروالۍ د ډلبندۍ لپاره باید یو معیاري نومېنود وکارول شي، د ښاروالیو ډلبندي باید په منظمه توګه د مرکزي دولت لخوا د ښاروالیو په ټولنیز، اقتصــادي، ســیاســي او اداري شــرایطو کې د اړینو بدلونونو د راوســتلو په موخه تر غور او کتنې لاندې ونیول شي.

## لمړی مطلب ـ د ښاروالۍ د ډلبندۍ لپاره فکتورونه

- عواید، چې د مالیې وزارت لخوا منل کیږي.
- نفوس یا د وګړو شمېر، چې د احصایې د مرکزي ادارې لخوا تصدیق کیږي.
- پراخوالی، چې د جیودیزی او کارتوګرافی د لویې ادارې لخوا تصدیق کیږي.

## دوهم مطلب ـ دنوم ایښودلو لپاره معیارونه

- د عوایدو پر بنسټ
- د ښاري کېدو د کچې پر بنسټ
- د بېلا بېلو فکتورونو د یوځای کېدو پر بنسټ

## دریېیم مطلب ـ د ښاروالۍ دندې

- قانون په ښکاره توګه د ښاروالیو حتمي او اختیاري دندې په ګوته کړي.
- د ښاروالیو حتمي یا جبري دندې هغه اساسي دندې دي، چې ښاروالي دهغو د ترسره کولو لپاره ګمارل شــوې ده او اختیاري هغه دندې دي، چې ښــاروالي یې له خپلو حتمي دندو پرته، له خپل کاري ظرفیت سره سم ترسره کوي.

---

[1] د افغانستان د سیمه ییزو ارګانونو پالیسي، ( ۱۳۹۷) د سیمه ییزو ارګانونو اداره، ۸ ـ ۹

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالی اساسي یا حتمي دندې په لاندي ډول دي:[1]

- دیو اغېزمني، مسوليت لرونکي، او شفافي اداري د رامنځته کولو لپاره د یوښه اداري تشکیل جوړول.
- د مرکزي دولت له پرمختیایي لارښود سره سم د ښاروالیو لپاره د اوږد مهاله ټولنیزو او اقتصادي پرمختیایي پلانونو جوړول، څارل او څېړل، او د ټولنې د ځانګړو ډلو، لکه ځوانانو، ښځو، بوډاګانو، اوکوچیانو ځانګړو غوښتنو ته ځواب ورکول.
- د ښاروالی له ټولنیزو او اقتصادي پرمختیایي پلانونو سره سم د ښاروالی په واک کې د موجودو ځمکو څخه د ګټې اخیستنې د څرنګوالي ټاکل.
- د مرکزي دولت له ادارو سره د زده کړې، روغتیا، کور جوړولو، د بیوزلی د کچې راټیټولو ، کرهنې، چاپېریال ساتنې، زیرینا جوړولو او داسې نورو پلانونو او پروګرامونو په پلي کولو کې مرسته کول، په ځانګړې توګه په هغو برخو کې، چې ښاروالي یې په یوازې توګه د کار پوره وړتیا ونه لري.
- له مرکزي دولت سره د پرمختیایي پروژو په پلي کولو کې له خپلو ظرفیتونو سره سم مرسته کول.
- هغو خصوصي شرکتونو ته، چې غواړي د ښاروالی د ادارې حدونو په د ننه کې فعالیت وکړي، د کار کولو د اجازې ورکړه.
- له ملي او سیمه ییزو قانون سره سم د مالیې، ټکس او فیس راټولول.
- د ښار له ماستر پلان او ورځني نرخ له مخې د جایدادونو د حقیقي ارزښت ټاکل.
- خلک دې ته هڅول، چې د ښاروالی په چارو کې ګډون وکړي، لکه پرمختیایي اړتیاو لپاره د لومړیتوبونو په ګوته کول، د پلان او پروګرام جوړولو په کار کې برخه اخیستل ، او د پرمختیایي موخو سره سم د ښاروالی د کړونو او اجراتو څارنه او ارزونه.

## څلورم مطلب ـ د خدمتونو وړاندې کول

مرکزي دولت لخوا د پرګرامونو او پروژو په پلي کولو کې مرسته کول.

د ښاري او ټولنیزو اساسي خدمتونو وړاندي کول، لکه څښاک د اوبو برابرول، د برېښنا وېش، د ناروغیو مخنیوی ، د ناپاکیو او چټلیو ټولول او سمسورول، د ښاري سړکونو جوړول، د ترانسپورتي اسانتیاوو برابرول او داسي نور.

[1] څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سیمه ییزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه لومړی چاپ، ص ۲۰۹

ketabton.com - The Digital Library

### پينځم مطلب ـ اداري او پرمختايي دندې

- د اداري تشکيلاتو از ميکانيزم جوړول، چې کولای شي خلک په ښاري فعاليتونو او چاروکې برخې اخيستنې ته وهڅوي او له خصوصي سکتور سره د ښاري اقتصادي پر مختياوو په برخه کې مرسته وکړي.
- د دولت له مرکزي ادارو سره د پلانونو او پروژو د پلي کولو په برخه کې مرسته کول او له دې لارې ښاروالي سکتوري لومړيتوبونو ته انعکاس ورکول.
- د پرمختايي پروژو د پلي کولو په موخه له مرکزي دولت سره همغږي.
- دمقرراتو او هڅولو د يوه روښانه چوکاټ له لارې په ښارواليو کې خصوصي سکتور مسولين پانګې اچولو ته هڅول.
- په عامه اقتصادي برخو کې د خدمتونو د ښه وړاندي کولو په موخه له خصوصي سکتور سره ګډون.
- له ملي پر مختيايي پلانونو سره سم او سيمه ييزو اړتياوو ته ځواب ويلو په موخه، ضروري او بنسټيز ټولنيز او اقتصادي خدمتونه وړاندې کول، دغه خدمتونو د ټولنيزو اقتصادي ، امنيتي، چاپيريال ساتني او د نيستی د کمولو له پروګرامونو او پروژو څخه، چې موخه يې د ټولني او خلکو هوساينه ده ، عبارت دي.
- د ټولنيزو او اقتصادي پرمختيا لپاره د ښاري زيربنايي پروژو تنظيم او پلي کول، لکه د اوبو رسول، بريښنا، روغتيا پالنه، لوړې او مسلکي زده کړې، د چاپيريال د روغتيا ساتلو آسانتياوې، ښاري سرکونه، تفريحي ځايونه او داسې نور..
- د ښو خدمتونو د وړاندي کولو او مناسبي ګټي ترلاسه کولو په موخه د ښاري اقتصادي شرکتونو جوړول.
- په ښاري چارو کې د خصوصي سکټور د فعالې ونډې اخيستنې، په تېره بيا د ښو عامه خدمتونو د وړاندې کولو سيمه يزو اقتصادي پرمختياوو وړاندې د هڅونې او تشويقي مقرراتو او کړنلارو جوړول.
- د ښاروالی له واکونو او قانون سره د مرتبې په موخه د ځانګړو مقرراتو جوړول لکه قرارداد کول، د شرکتونو جوړول او په اقتصادي معاملو کې ګډون.[1]

### شپږم مطلب ـ د ښاروالیو لپاره اداري جوړښت او ميکانيزم

- له ښاروالیو سره به د اداري جوړښت او ميکانيزمونو په جوړولو او چمتو کولو کې مرسته وشي.
- ښاروالي به د اداري جوړښت په مطرحه کولو کې د مرکزي دولت له لارښونو سره سم بشپړ واک ولري.
- د ښاروالیو د دلبندی لپاره تشکيلاتي موډلونو به د اداري جوړښتونو د طرحو او ډيزاين لپاره اصلاح شي.

---

١ ـ څرګند، نور علي . (١٣٩٥ل) . د سيمه ييزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندويه ټولنه لومړی چاپ، ص ٢١١ ـ٢١٢

ketabton.com - The Digital Library

- د یوه واحد یا زیاتو موډلونو د جوړولو لپاره چمتوکول، ترڅو ښاروالي وکولای شي له هغې ډلې څخه یو غوره موډل انتخاب کړي.
- د بسـتونو او نومونو معیاري ډلبندي، د امتیازاتو طرحه، او د دندو لایحه به چمتو شـي، ترڅو له ښـاروالیو سـره د اداري جوړښت، او بشـري سـرچینو د پرمختیا او سـمون په برخه کې مرسـته وکړي.
- د مقرراتو او کړنلارو رامنځتـه کول، د پرمختیـایي او پـانګي اچونې د پلانونو جوړول، بودیجـه جوړول، د لوجیستیکي مدیریت رامنځته کول، او د ثابتو پانګو تنظیمول.
- د پورته سیستمونو د پلي کولو لپاره د مرکزي دولت د مرستي راجلبول.
- د نویو سیستمونو تر بشپړې رامنځته کېدو پورې د انتقالي دورې او فعالیتونو پلي کول.
- د سرغړونو د پېښو او د ښو دندو د ترسره کولو لپاره د مجازاتو او مکافاتو د مقرراتو او کړنلارو رامنځته کول.

## اووم مطلب ـ د پالیسۍ موخې

- د ښـاروالیو لپاره د پرمختللي اداري سیستم رامنځته کول، ترڅو وکولای شي سیمه ییزو غوښتنو او اړتیاوو ته ځواب ووایي.
- په ښاروالیو کې د پرمختیایي بهیرونو رامنځته کول، ترڅو د خلکو په وړاندې د ښاروالیو مسؤلیت لرل د پام وړ وګرځي.

## اتم مطلب ـ د ښاروالۍ خدمتونه

ښــاروالۍ د ډېرو اســاســي خدمتونو پر کیفیت او څرنګوالي کنټرول نه لري، لکه روغتیا، زده کړه، بریښـنا، سـړکونه او داسـې نور، دغه راز خدمتونه د خپلواکه او ځانګړو وزارتونو د ولایتي واحدونو او ادارو لـه خوا وړانـدې کیږي، ښــــاروالي یوازې د دغو پرګرامونو د پلي کېدو د څرنګوالي پـه اړه کوم مسؤلیت نه مني.

له بله پلوه، د ښــــاروالۍ د خدمتونو وړاندې کول، لکه د اوبو او د یوې وړې ټولنې د اســــانتیاوو برابرول، د ناکافي مالي سرچینو او کمځواکه کاري وړتیاوو له امله له ستونزو سره مخ دي.

مرکزي حکومت د خپلو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره هیڅ راز اشخاص نه دي وړاندې کړي او همدا شـان د پروګرامونو د پلي کولو لپاره کمه مالي مرسته په پام کې نیسي. له بلې خوا ټولنه هم د خدمتونو د وړاندي کولو په پروګرام جوړونه، د اړتیاوو او لومړیتوب لرونکو پروګرامونو په ټاکلو، او پانګې اچونې په پروګرامونو کې لږ لاس لري.

په اصل کې د ښاروالیو اساسي دنده او ماموریت خلکو ته د عامه هوساینې د خدمتونو وړاندې کول دي. پـه داســـې حـال کې، چې د خدمتونو پر کیفیت بـاندې د ښـــاروالۍ کمزوری کنټرول لرل، د دغه

ketabton.com - The Digital Library

ماموریت خلاف بلل کیږي. ټول دغه لاملونه هغه څه دي، چې په پای کې په ټولنه باندې اغېزه پرېباسي. پر پالیسی پورې اړوندې ستړې موضوعگانې په لاندې ډول دي:[1]

- د ښاروالۍ خدمتونه ناکافي، نا اغېزمن او د کیفیت او څرنګوالي له مخې کمزوري دي.
- د سکتوري خدمتونو پلان او بودیجه جوړونه په ملي کچه ترسره شوې، چې دا د ټولني د اساسي اړتیاوو او هغو خدمتونو تر منځ، چې وړاندې کیږي، یو واټن رامنځته کړی.
- د خدمتونو د وړاندې کولو پلان جوړونه داسې ترسره شوې، چې د ټولنې د حقیقي اړتیاوو او طرحه شوو پروګرامونو ترمنځ لږ نیږدیوالی لیدل کیږي.
- ښاروالي باید د مالي سرچینو په کار اچولو، او خدمتونو د کیفیت د لوړولو په برخه کې له نورو دولتي ادارو، خصوصي سکټورو د ټولنې سره د ګډون په لاره کې بشپړ واک ولري.
- د مرکزي خدمتونو وړاندې کول به د ټاکل شوو مسؤلیتونو او معیارونو په چوکاټ کې تر سره کیږي.
- مرکزي ادارې به په ټاکل شوې کچه مالي سرچینې د اړینو وړتیاوو د رامنځته کولو په ګډون د پرمختیایي پروګرامونو د پلي کولو لپاره دې ښاروالیو ته ولیږدوي.
- د ښاروالیو د سکټوري خدمتونو په برخه کې د همغږۍ رامنځته کولو لپاره به یو لړ سیستمونه او کړنلارې رامنځته شي، ترڅو په دندو کي د ستونزو او نیمګړتیاوو له نه پېښېدو ډاډ رامنځته شي.
- د خدمتونو د وړاندي کولو لپاره تر ټولو ښه اصل د خدمتونو غوره والی او د کیفیت لوړوالی دی.

د لاندې اساسي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د رسمي خبرتیا خپرول.

- لومړنی روغتیایي پاملرنې، لکه مور او ماشوم ته پاملرنه، د تغذیې سیستم اصلاح او سمون، د ناروغیو وقایه او داسې نور.
- د ښاري اسانتیاوو د سیستمونو جوړول او ساتنه، لکه د اوبو رسولو سیستم، برېښنا ، ښاري سړکونه ، پارکونه او داسې نور.
- د چاپېریال ساتنې له اصولو سره سم دککړو اوبو ایستل.
- د ښاروالیو په ادارې پورې اړونده طبعي سرچینو ساتنه.
- د طبعي پېښو او ناورینونو په وړاندې چمتووالی.
- د اړینو وړتیاوو او ظرفیتونو د ترلاسه کولو په موخه د مرکزي دولت له خوا د اغېزمنو لارښودونو په واک کې ورکول.
- د ښاروالیو په کچه د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د معیارونو او ملي لار ښودونو چمتو کول.
- د هغو خدمتونو لپاره ، چې د ښاروالیو له خوا په قرارداد ورکړل شوي، د ملي لارښود چمتو کول.

---

[1] څرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سیمه ییزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه لومړی چاپ، ص ۲۱۳

ketabton.com - The Digital Library

## نـهم مطلب ـ د ښاروالیو اقتصادي تشبثات

ښـاروالۍ تر اوس مهاله په دې نه دي بریالۍ شوې، چې خپل اقتصادي تشبثات وړاندې کړي، په دې اړه لویې ستونزي په لاندي ډول دي.

- د ښـــاروالیو اوســـنی قانون او مقررات ښـــاروالیو ته په دې اړه بشـــپړ واک اوصـــلاحیت نه دی ورکړی.
- د ښـاروالیو اوسنۍ هڅي د اقتصـادي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره په نېغه توگه له سـکتور سره رواني دي (د بېلگې په توگه هوټلونه او د ودونو تالارونه)
- دغه راز هڅي په لومړني گام کې د ګټي د لاسته راوړلو او په دوهم گام کې د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره تر سره کیږي.[1]

## لسم مطلب ـ په دې برخه کې د پالیسۍ موخي

- د ښاروالۍ په اداره کې اغېزمنه رهبري رامنځته کوي.
- د اساسي عامه خدمتونو د وړاندي کولو لپاره د اقتصادي شرکتونو او ادارو پیاوړي کول.
- د ســمیه ییزو ســرچینو د کارولو او ســمبالولو لپاره د ښــاروالیو د اقتصــادي شــرکتونو او ادارو پرانستل.
- ښـاروالي بشـپړ واک لري، ترڅو د اقتصـادي شـرکتونو له لارې د خدمتونو د وړاندې کولو څخه گټه تر لاسه کړي.
- ښـــاروالي به په لومړي گام کې اقتصـــادي نشـــان د لومړیو عامه خدمتونو د وړاندې کولو لپاره پرانیزي.
- له اقتصادي تشبثانو سره د ښاروالیو اړیکي باید د خصوصـي سکتور سره اړیکې له گواښ سره مخ نه کړي.

## نـهم مبحث ـ د سیمه ییزه اورگانونو خپلواکه اداره

د سیمه ییزه اورگانونو خپلواکه اداره، د جمهوری ریاست د عالی مقام د ۱۳۸۶ لمریز لېږدیز کال د وږی د اتمې نېټې د (۱۰۴۷) گڼه حکم له مخې جوړه شوه.

## لومړی مطلب ـ د سیمه ایزو ارگانونو د خپلواکه اداري اهداف

- د دې ټکی ډاډمنتیا چې په افغانستان کې د محلی اداري چوکاټ د ښې اداري د اصولو څخه ملاتړ وکړی په شمول د پرانیسـتي او روښـانه، مسئوله، گډې، اغیزناکې، منطقی او پراخ بنسـته اداري کوم چې په محلی کچه د گډو توافقاتو او د قانون د واکمنی پربنسټ رامنځته شوی وی.
- په محلی کچه د دولتی اداراتو پیاوړی کول تر څو د خلکو برخه اخیسـته په اداره کې ډاډه شـی او د خدمتونو په وړاندې کولو او د ټولو افغانانو د حقوقو په سـاتنه کې د پام وړ اصـلاحات ترلاسـه شی.

---

[1] ځرګند، نور علي . (۱۳۹۵ل) . د سیمه ییزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه لومړی چاپ، ص ۲۱۳ـ ۲۱۴

ketabton.com - The Digital Library

- د اتباعو او وندې لرونکو لپاره د فرصـــتونو رامنځته کول او د هغوی ځخه ملاتړ کول ترڅو په محلی کچه په اداره کې برخه واخلی.
- د دې ټکی ډاډمنتیا چې د محلی ادارې مؤســـســـات د ملی فعالیتونو او پروګرامونو اجرا کولو په آسانتیا کې فعال رول ولوبوی تر څو د افغانانو دخیر ښیګڼې چارې اصلاح شی.
- امنیت، انکشـــاف، حکومتوالی (د عدلی او قضـــایی څانګو په ګډون، چې د همغږئ چارې به یې مخته وړل کیږی[1].

## دوهم مطلب ـ د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکه ادارې موخې

- د پرانیســتې او روښــانه، مســئولې، ګډې، اغیزناکې، منطقی او پراخ بنســته ســیمه ییزې ادارې چوکاټ رامینځته کول
- په اداره کې د خلکو برخې اخیستنې، خدمتونو وړاندې کولو او د ټولو افغانانو د حقونو د ساتنې په کار کې د ســمونونو رامینځته کېدلو په خاطر، په ســیمه ییزه کچه د دولتی ادارو رامنځته کول او پیاوړی کول،
- په ســیمه ییزه کچه په اداره کې هیوادواولو او وندوالو ته د برخې اخیســتلو د فرصــتونو رامنځته کول او ملاتړ کول،
- د ملی فعالیتونو او پروګرامونو د پلی کولو د چارې په آسانه کولو کې فعاله ونده اخیستل.

## درېیم مطلب ـ د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې تشکیلات

د سیمه ییزه اورګانونو خپلواکه اداره، په مجموعی ډول (۶۸۲۱) تنه رسمی تشکیل لری. له دې ډلې (۴۹۵) تنه مرکزی اړوندان او (۶۳۲۶) ولایتی او سیمه ییز اړوندان دی. ددغې ادارې د شته اړوندانو شمېر (۵۸۶۶) تنو ته رسېږي.

د سیمه ییزه اورګانونو خپلواکه اداره، (۱۷) د ریاست مرکزی او (۱۲۱) ولایتي بستونه لري.

افغانستان په سیمه ییزه اداری ویش کی (۳۶۴) رسمی او (۱۱) نارسمی ولسوالئ لري.

له کابل ښاروالئ پرته، د افغانستان د سیمه ییزه ښاروالیو شمېر (۱۵۶) ته رسېږي.

## ځلورم مطلب ـ اداري اصلاحات

د سیمه ییزه اورګانونو د خپلواکه اداري، د مرکزی تشکیل له (۴۹۵) تنو ځخه په سلو کې شپږ اویا او د ولایتی او سیمه ییزه تشکیل (له ۶۳۲۶ تنو ځخه) په سلو کې یو نوي سلنه، د آزاد رقابت د بهیر له لارې استخدام او معرفی شوي دي.

د افغانستان له ۳۶۴ رسمی ولسوالیو څخه، د ۲۳۳ ولسوالیو لپاره ولسوالان د آزاد رقابت د بهیر له لارې استخدام او دندو ته معرفی شوي دي.

په مجموعی ډول، ددغې اداري د مرکزی تشکیل، (۷۶٪) سلنه او د سیمه ییزه تشکیل، (۹۱٪) سلنه، د اداری اصلاحاتو او ملکی خدمتونو د خپلواک کمیسیون په مرسته، د آزاد رقابت له پروسې تېر شوي دي.

---

۱. https://idlg.gov.af/ps/history-idlg/ (۱۳۹۸ل)

ketabton.com - The Digital Library

د سیمه ییزه اورګانونو د خپلواکه اداري له اوولسو مرکزی ریاستو څخه دولس او له (۱۲۱) ولایتی ریاستونو څخه (۹۴) رییسان او چاروالکی، د ازاد رقابت د بهیر له لارې استخدام او مربوطه برخو او ولایتونو ته معرفی شوي دي.

## پینځم مطلب ـ مرستیال والیان او ولسوالان

د ولسمشر د (۲۱۱۳) ګڼه حکم له مخې، د مرستیال والیانو او ولسوالانو بستونه له سیاسی حالت څخه، د ملکی خدمتونو بســتونو ته واووښــتل. د اداري د معلوماتو له مخې، تر دې مهاله د ســیمه ییزو اورګانونو د خپلواکه اداري، له اتیا سلنه زیات بستونه، د رتبو او معاشونو د نوی سیستم له لارې تکمیل شوی. د ۳۲ ولایتونو مرستیالان او د (۲۳۳) ولسوالیو لپاره ولسوالان، د آزاد رقابت د پروسې له لارې، د اداري اصلاحاتو د کمیسیون په مرسته استخدام او وظیفو ته معرفی شوي دي[۱].

## شپږم مطلب ـ لومړیتوبونه

۱ـ ریفورم، د اداری اصلاحاتو او ملکی خدمتونو د کمیسیون په مرسته، د اصلاحاتو مخته وړل؛
۲ـ د ولسوالیو د شوراګانو جوړول؛
۳ـ د ښاروالیو پراختیایی کارونه او ښاری حکومتوالی؛
۴ـ قوانین، مقررات او پالیسی؛
۵ـ پرمختیا او د حکومتوالی او ددغو پروګرامونو وړاندې کول: (ښار، اسلا، سیکا، سی سی ای، یې اس جی پی او نور)
۶ـ وړتیاوو لوړول؛
۷ـ ګډ کارونه : د سولې، نشه یی توکو ضد مبارزې، لېږد بهیر، ټاکنو، بشری حقوو، بېړنیو مرستو او ثبات په برخو کې ګډ کارونه مخته وړل.

## اووم مطلب ـ د سیمه ییزه اداراتو پالیسي

د اساسی قانون له یوسلو اووه دېرشمې مادې سره سم، د افغانستان اسلامی جمهوریت د عالی مقام د ۱۳۸۹ لېږدیز کال د غوایی میاشتې د ۲۲ مې نېټې (۱۰۴۷) ګڼه حکم له مخې، د پنځه وېشتو وزارتونو او خپلواکو ادارو په مرســته، د ســیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداري د پالیســی او انســجام د معینیت تر مشــرۍ لاندې، د پالیســۍ د جوړولو او تدقیق کمېټې هڅې برېالۍ راووتې او په لومړی ځل د افغانســتان د سیمه ییزو ادارو لپاره پالیسی چمتو شوه. تیرو وختونو ته په کتو سره افغانستان د سیمه ییزو ادارو لپاره د یو مناسب کاري چوکات رامنځته کیدو لپاره پالیسي او اساسي اصول نه وو موجود چې تر څو د هغه په واسطه وکولای شــي ټولې چارې منسجم او مخ ته یوســي. د یادولو وړ ده چې کومې سیمه ییزې اداري چې رامنځته شــوی د جوړښــت له پلوه د افغانســتان د خلکو لپاره مثمرې او ګټورې ندي ځکه چې د دوی مسؤلیتونه او صــلاحیتونه په سم شــکل سره ندي معلوم شوي چې دخلکو مشکلات حل کړي. ځینې داسې دوه اداري هم شته چې یو وخت کې یوه وظیفه سرته رسوي ددې سره سره د ولایت او ولسوالیو ترمنځ

---

۲. https://idlg.gov.af/ps/history-idlg/ (۱۳۹۸ل)

ketabton.com - The Digital Library

اړيکې درست واضح ندي، او همدارنګه د افغانستان په سيمه ييزو ادارو کې د غيرې مسوله وسوالو ډلو، قمندانانو نفوذ او قوت لاتر دې دمه په خپل حال پاتې دی. په سيمه ييزو ادارو او ښاروالیو کې د خلکو ونډه ډېره کمه ده، ښځې او ځوانان د سيمه ييزې ادارې او ښاروالیو په مديريت کې ونډه نلري سربېره پردې د ناحيو، ښاروالیو او ولسواليو په کچه د يموکراتيک او مدني ټولنې شتون نلري. په سمه ييز حکومت کې د خصوصي سکتور د ونډې په اړه هيڅ پاليسي او قانون شتون نلري کوم خدمات چې د سيمه ييز حکومت لخوا خلکو ته وړاندې کيږي کيفيت يې ډېر ټيټ دی، او همدارنګه د سيمه ييز حکومت واک ،صلاحيتونه او منابع لږ دي، په دې برخه کې جوړ شوي قوانين هم پيچلي او ګونګ دي، دغه وضعيت او حالت ته په پام سره د افغانستان حکومت د سيمه ييزو ادارو دپاليسي په نامه يوه پاليسي جوړه کړې تر څو يادې شوی ستونزې او نواقص له منځه يوسي. ددغه پاليسی اصلي موخه د سيمه ييزو ادارو لپاره د يو پراخ چوکات ټاکل دي تر څو په سيمه ييزه کچه د حکومت پاليسياني او پروګرامونه عملي کړي او په سيمه ييزه کچه د خلکو په اقتصادي ،سياسي ،ټولنيز او کلتوري ژوند کې ښه والي راشي.[1]

## اتم مطلب ـ د سيمه ييزو ادارو د پاليسۍ بنسټونه

د افغانستان اساسي قانون،د افغانستان د ملي انکشاف ستراتيژی، د ښځو لپاره د افغانستان ملي برنامه، دافغانستان د سيمه ييزو ادارو په اړه د څېړنو پايله او د افغانستان د سيمه ييزو ادارو د اوسني قانون د چوکات تحليل ددغه پاليسۍ اساس او بنسټ تشکيلوي او دفغانستان اساسي قانون چې په ۱۳۸۲ ل کال کې تصويب او د سيمه ايېزي حکومتولي په اړه ځيني احکام وړاندې کوي.

## لسم مبحث ـ د افغانستان دسيمه ايېزو ادارو تګلاره (پاليسۍ ) موخې

د سيمه ييزو ادارو د پاليسۍ جوړولو څخه موخه په دغو ادارو کې د شته ستونزو له منځه وړل او د سيمه ييزو ادارو لپاره د يو منظمې کړنلارې جوړول دي ترڅو د هغه پر بنسټ خپلي کړني او فعاليتونه اجرا کړي سربېره پردې د سيمه ييزو ادارو پاليسي لاندې موخې لري.

۱ . د سيمه ييزو ادارو په اړه د اساسي قانون د احکامو تطبيق

۲ . په سيمه ييزو ادارو کې زياته هماهنګي راوستل

۳ . په يو وخت کي په اقتصادي امنيتي او اجتماعي برخو کې پرمختګ

۴ . د حکومت او جمهوري رياست د ژمنو عملي کول

کله چې په سيمه ييزه کچه حکومتولي ښه واوسيږي دلاندي کارونو پرمختګ به رامنځنته شوی وي؛

- شفافيت
- خلکو ته حساب ورکونه
- د خلکو مشارکت او ګډون
- ديموکراسي

[1] نجات، آريا . (۱۳۹۵ل) . په افغانستان کي سيمه ييزه حکومتولی، کابل : AREU، ژباړه ـ ګلستان شينواري، ، لومړي چاپ، ص (۷)

ketabton.com - The Digital Library

- موثریت او ګټورتوب
- ټولنیز عدالت
- په ټولو اداراتو کې د قانون پر بنسټ د یو سیستم رامنځته کول
- د عامه خدماتو په وړاندې کولو کې ښه والی
- د فقر او بې وزلۍ کمول

## لومړی مطلب ـ خلکو ته حساب ورکول

د ولایت، ولسوالۍ ، ښاروالۍ او کلیو په کچه اداري او سیمه ییزې شوراګانې به په خپلو اړوندو سیمو کې خلکو ته، د خپلو کړنو په اړه حساب ورکوی. دولت خلکو ته د خدمت په موخه په ټولو برخو کې حاضر او چمتو دی. د خلکو شوراګانې؛ د ولس د نظرونو او غوښتنو له استازیتوب سره؛ د سیمو د حکومتوالۍ په ټولو پوړیو کې؛ له خلکو وروسته ځای لری. د سیمه ییزو حکومتوالیو جوړښتونه، د سیمه ییزو شوراګانو له لارې، خلکو ته حساب ورکوونکی دی. د سیمه ییزو ادارو او شوراګانو له خوا د ناوړه استفادو د مخنیوی په موخه، قضایه قوه د هغوی کاری چارې تل تر څار لاندې نیسی.[1]

## یوولسم مبحث ـ د سیمه ییزې حکومتولۍ سمون

د ملي یووالي حکومت د کار له پیل وروسته د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې د نوي مشرتابه له ګومارل کېدو راهیسې، دغې ادارې د مرکزي او ولایتي ادارو تر منځ د همکارۍ د رول د پرمختیا لپاره یو شمېر چټکې چارې پیل کړې دي. د سیمه ییزې حکومتولۍ د تګلارې د سمون پر بهیر سربېره، د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکې ادارې د والیانو او ولسمشر تر منځ میاشتني ویډیو کنفرانسونه پیل کړی چې موخه یې د ولایتونو او د ولسمشر د دفتر تر منځ د اړیکو د یوې سیده لیکې رامنځته کول دي. همداراز شپږ والیان هره میاشت کابل ته ځي، له وزارتونو، ملي امنیت شورا، او قضایه قوې سره اړینې ناستې کوي او د کابینې غونډې کې هم ګډون کوي او په خپلو ولایتونو کې د وضعیت او د هغو برخو په اړه لنډ معلوماتي پرېزنټېشن هم ورکوي، چې د کابینې همکارۍ ته پکې اړتیا وي. د والیانو او رسنیو او ولس تر منځ د اړیکو د پرمختګ لپاره د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکې ادارې سلګونه خبري غونډې جوړې کړې دي. دغو بدلونونو والیانو ته د کار په اړه د ځوابي مالوماتو د یوه مېکانېزم جوړېدو ته هم لاره اواره کړې. د سـیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره اوس د وګړو میثاق ملي لومړیتوب پروګرام یوه مهمه برخواله ده او د ښـاري برخې مشـري یې کوي. د سـیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې تشـکیل کې اصـلاحات راوسـتل شوي، چې له مخې یې د هر والي په دفتر کې د جنسیتي انډول یو افسـر شـته، چې د جنسـیتي چارو پر همغږۍ تمرکز کوي. د مېرمنو د ملاتړ لپاره د یوه بل ګام په توګه، په ښـاري سیمو کې به ټول نارسمي جایدادونه ثبت شـي، چې د مالکیت اسناد به یې خاوندانو او مېرمنو دواړو ته ورکول کېږي، چې له مخې یې دا باوري کېږي، چې ښــځې به د جایداد ملکیت لري. د افغانستان د پرمختګ اوسني پړاو ته په کتو او د بدلون په اړه د غور کولو او د راوستو د مهارت د اړتیا په نظر کې نیولو سره یې، د مهمو معلومات ورکوونکو مرکه ورکوونکو یوې غوره شوې ډلې نه پوښتنه

[1] ـ د محلي ارګانونو خپلواکه اداره، https://idlg.gov.af/ps/history-idlg/ (۱۳۹۸ل)

ketabton.com - The Digital Library

وشوه، چې تر اوسه د شوي پرمختګ، شته ننګونو، او د سمون د فرصتونو په اړه خپل نظرونه او معلومات راسره شريک کړي. له دغو معلومات ورکوونکو سره له مرکو د لاس ته راغلو مهمو مالوماتو په اړه يوه شننه لاندې وړاندې کېږي[1].

## لومړی مطلب ـ شوی پرمختګ

افغان حکومت د سيمه ييزې حکومتولۍ د بنسټونو له لارې د هېواد په فکري او سياسي بحث کې د سيمه ييزې حکومتولۍ د مفهوم ور ګډولو کې بريالی شوی دی. دا چې افغانستان له ډېره وخته د حکومتولۍ يو متمرکز سېستم لري، په محتوا او د فکر لارو کې بدلون راوستل اسان نه دي ثابت شوي او د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکې ادارې ته يوه سخته چاره تمامه شوې ده، چې له تېرو اتو کلونو راهيسې د سيمه ييزې حکومتولۍ د سمون سرلاری بنسټ دی. په بنسټيزه توګه د سيمه ييزو اورګانونو د خپلواکې ادارې د هڅو په پايله کې، د واليانو د رول په اړه يو څه نور وضاحت هم شوی دی، او د افغانستان په تاريخ کې په لومړي ځل ولايتي شوراګانې وټاکل شوې. د پرمختګ يوه بله نښه په سيمه ييزه کچه د عامه چوپړ رسونې د ښه والي لپاره د واک د يوې برخې د لېږد لپاره زياته شوې لېوالتيا ده. د واک د لېږد د مفهوم په اړه د توافق د کچې له نظر کې نيولو پرته، د ولسمشر غني په هغې ژمنتيا کې پياوړې سياسي اراده منعکسه شوې، چې له مخې به يې ګام په ګام، ولايتونو ته د پلان جوړونې او اجرايي واک ۴۰ سلنه ولېږدول شي همداراز د دې موضوع په تړاو بحث لا هم روان دی، چې له مخې يې د معرفي کېدو په صورت کې د سيمه ييزې حکومتولۍ د سمون ملي مالکيت رامنځته کوي. اته کاله وړاندې افغانستان د ملکي مامورينو داسې ځواک نه درلود چې په سيمه ييزې حکومتولۍ کې يې تخصص درلود او آن د سيمه ييزې حکومتولۍ د مفهوم په اړه پوهاوی هم پکې نه و. خو نن په ځانګړې توګه د سيمه ييزو اورګانونو د خپلواکې ادارې، ماليې وزارت، کليو پراختيا او بيا رغونې وزارت، او د اقتصاد وزارت په څېر بنسټونه د سيمه ييزې حکومتولۍ د مسلکي کارپوهانو پراخېدونکې ډلې لري، چې په حکومت کې دننه او بهر کار کوي چې په افغانستان کې د ريښتينې سيمه ييزې حکومتولۍ د رامنځته کولو لپاره د چمتوالي د تخنيکي پوهې او مهارت استازيتوب کوي[2].

## دوهم مطلب ـ ننګونې

### لومړی جز ـ بيخ بنسټيزې ننګونې

**۱ـ د حکومتولۍ بيخ بنا (زيربناء):** دولت بايد د ټول هيواد په کچه په هر ولايت کې د امنيت او عدالت د ټينګښت او د خدمتونو وړاندې کولو په موخه خپل حضور وساتي. له همدې امله به مونږ د دغې چارې د تحقق په موخه، د سيمه ييز جوړښت پروګرام ( sub national construction program) طرحه کړي. د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکه اداره بايد په دې برخه کې د اړتيا سنجونې يوه ارزونه ترسره کړي؛ خو د لازمو بيخ بناوو پلې کېدل د ښار او کورجوړونې وزارت پرغاړه وي.

---

[1] نجات، آريا . (۱۳۹۵ل) . په افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولی، کابل : AREU، ژباړه ـ ګلستان شينواري، ، لومړي چاپ، ص (۱۱ـ۱۲)

[2] نجات، آريا . (۱۳۹۵ل) . په افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولی، کابل : AREU، ژباړه ـ ګلستان شينواري، ، لومړي چاپ، ص (۱۱)

ketabton.com - The Digital Library

**۲- بیخ بنسټیزې پانګې:** حکومت باید په دې برخه کې هر ولایت ته اساسي بیخ بنسټیزې پانګې چمتوکړي. چې په دغه چاره کې به د افغانستان له برېښنا شبکې سره د هر ولایت نښلول او یوه لویه لاره وي، چې پر مټ یې یو ولایت له بل سره ونښلول شي.

**۳- د طبیعي سرچینو مدیریت:** د طبیعي سرچینو اغیزناک مدیریت له دغه ډول سرچینو څخه د پوهاوي او د هغو د مدیریت په اړه د سیمه ییزه ادارو د دفتررونو وړتیاوو ته اړتیا لري. د افغانستان د ځمکې خپلواکه اداره باید ژر تر ژره د ولایتونو او ولسوالیو د پولو ټاکلو او نښه کولو کار ترسره کړي. د اوبو او برېښنا او د کانونو او پترولیم وزارتونه باید د طبیعي سرچینو (کان کیندنه او کرنه) په برخه کې لازیاتې سرچینو ولسوالیو ته ځانګړې کړي. د کرنې او اوبو لګولو وزارت باید د هېواد د ځنګلي شتمنیو د مدیریت په بڼه کې ښه والي راولي. په لومړي ګام کې، شته ننګونې دغه ټکي بیانوي، چې افغان حکومت تر اوسه په دې ندې توانېدلی،چې په ځینو ولسوالیو کې حکومتولي عملي کړي. په نتیجه کې د قانون حاکمیت، د امنیت ټینګښت، دخدماتو وړاندې کولو او ټولنیز ګډون موضوګانې د افغانستان په ډېرو ولایتونو کې ندي پلې شوي. نادولتي لوبغاړي هڅه کوي، چې د قدرت خلا چې دولت ندي توانېدلی ډکه کړي.په پام کې لرو، چې په تدریجي ډول د حکومتولی او دبیخ بنایي چارو پر وړاندې ټولې ننګونې له منځه یوسو.

**۴- د سیمه ییزې حکومتولی حقوقي چوکاټ:** د سیمه ییزې حکومتولی په برخه کې د ټولو مسؤلو بنسټونو او ادارو د دندو او مقررو تشخیص لپاره یو ټولیز حقوقي چوکاټ ته اړتیا ده. اوس مهال افغانستان د سیمه ییزې حکومتولی په برخه کې درې قانونه لري، چې سیمه ییزه حکومتولي تعریفوي. لومړي قانون د سیمه ییزې اداري قانون دي ،چې دســـیمه ییزې حکومتولی پر وړاندې د مرکزي اداري او نورو ســـیمه ییزه ادارو مسـؤلیتونه تعریفوي. دا چې دغه قانون څولسـیزې مخکې تدوین شـوي، بیا کتنې ته اړتیا لري. دویم قانون، د ولایتي شـوراګانو قانون دي، چې په دې ورسـتیو کې تصـویب شـوي دي او د دغو شـوراګانو د چوکاټ څرنګوالي تشریح کوي. دریم قانون هم د ښاروالیو د ۱۳۷۹ه ش کال قانون دي، چې د ښاروالیو دندې او مسؤلیتونه تشـریح کوي. دغه قوانین به تر بیا کتنې وروسـته نوي شـي. دوه وروسـتي قانونونه د بیاکتنې او نوي کیدو په حال کې دي.[1]

د ولایتونو او ولسـوالیو په کچه، د بېلا بېلو اداري واحدونو د مسـؤلیتونو او دندو د تعریف په اړه کوم ترتیب شوي قانون یا مقرره نشته، ددغې عمده لامل د افغان حکومت د متمرکزوالي تاریخي جوړښت دي، چې پربنسټ یې پخوا سیمه ییزې حکومتي اداري یوازې د کورنیو چارو وزات له خوا اداره کیدې.[2]

## دوهم جز - ٰقرینوي او سېستمي ننګونې

د سـیمه ییزې حکومتولی د پلي کولو پر وړاندې د اداري فســاد، پلویان پالنې او پر تخنیکي سمون د سیاست د لاسبري مهمې سېستمي ننګونې موجودې دي، چې هر یوه به یې د اواري لپاره اوږد وخت ونیسـي، چې ځواکمنې سیاسـي ارادې او په ځانګړې توګه د قانون د پلي کولو او حاکمیت د ادارو په ګډون پیاوړو دولتي بنسـټونو ته اړتیا لري. یوه بله ننګونه دا ده، چې د یو شـمېر مهمو مسـلو په اړه وضـاحت او همغږي نشـته لکه د ولسـوالیو او کلیو اسـتازیتوب، د مرکز او ولایتونو او د مدني ټولنو په

[1] د افغانستان د سیمه ییزو ارګانونو پالیسي، ( ۱۳۹۷) د سیمه ییزو ارګانونو اداره، مخ (۱۴)
[2] د افغانستان د سیمه ییزو ارګانونو پالیسی، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره، ۱۳۹۷ ه ش ، مخ (۱۲ - ۱۳)

ketabton.com - The Digital Library

ګډون د دولتي او خصوصي واحدونو ترمنځ د واک وېش او د دولتي - خصوصي برخوالۍ په نامه نوی مفهوم. افغانســـتان د نورو هغو هېوادونو په څېر نه دی ( چې فدرالي دولتونه بلل کېږي)، چې د نوملړونو په بنه د مرکزي او ولايتي واحدونو د مهمو دندو څرګند پوهاوی پکې موجود وي. افغانستان نه د مرکز او ولايتونو لپاره په څرګنده تعريف شوې دندې او د پرېکړې کولو چلندلارې لري او نه هم د دندو داسي کوم موازي لړليک لري، چې د کړکېچ پر مهال پکې د دواړو خواو پرېکړه پرېکنده وبلل شي. يوه لويه قرينوي ننګونه دا ده چې افغانستان په ملي کچه سره تړلې مدني ټولنه او وګړ ټولنه نه لري، چې له همدې امله د اغېزناکې سيمه ييزې حکومتولۍ په اړه همغږې او غوښتنه نه ده رامنځته شوې. لکه څنګه چې د سيمه ييزې حکومتولۍ په اړه د مرستندويانو په يوه مرکزي ټکي کې تشرېح شوې " د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکه اداره د سـمون بهير پر مخ وړي، خو دا په ګاونډ کې د يوه يوازني وګړي په څېر ده، نور برخوال يې نه ښکاري" په دې ډګر کې د ښاروالانو، ولايتي شوراګانو يا د واليانو په څېر د اړوندو ډلو د اغېزناکې او فعالې دلچسـپۍ تشـه ليدل کېږي، چې پکار دي، د سـيمه ييزې حکومتولۍ د سمون په برخه کې د سيمه ييزو اورګانونو د خپلواکې ادارې د هڅو ملاتړ وکړي. دا کار د سيمه ييزې حکومتولۍ د سمون په بحث کې د پلوۍ د عنصر د کمزورۍ او بې اهميتۍ لامل ګرځي. دا تر يوه بريده په افغانستان کې د شـخصـي واک د کلتور له امله ده، چې د حکومتولۍ په سېستم کې د رسـمي مرکزيت لپاره لويه قرينه برابروي. بل لامل يې دا دی، چې خلک دخوځنده ټوليزو ځواکونو په جوړولوکې کومه ګټه نه ويني او يا نه غواړي چې برخه يې شي، ځکه چې سېستم د همکاريو رضاکارانه کار ته مکافات نه ورکوي. د سـيمه ييزې حکومتولۍ د سـمون په اړه د همغږۍ د نشـتوالي په صـورت کې د سـمون د کړنلارې لپاره هڅې نتيجه نه ورکوي، بلکې خنډونه هم پيدا کوي. د سـمون په اړه د عمومي پوهاي او خوځښت د رامنځته کولو لپاره د ملي همغږۍ د رامنځته کولو او هڅولو اړتيا تر بل هر وخت اوس ډېره اړينه ده. د سيمه ييزې حکومتولۍ سمون که څه هم يوه بېړنۍ اړتيا ده، که د عمل ډګر ته وليدل شي، په ټوله کې د حکومت يا د افغانسـتان لومړيتوب نه دی. د حکومتولۍ فعال جوړښـتونه له ټيکاو او امنيت راوسـتو سره مرسته کوي، خو دا چې افغانسـتان په جګړه کې ښـکېل هېواد دی، له همدې امله ټيکاو او امنيت يې د سر لومړيتوبونه دي. د وزارتونو د مرستيالانو په کچه د سيمه ييزې حکومتولۍ لوړپوړي چارواکي يوه مهمه اندازه وخت په دفاع وزارت او ملي امنيت شـــورا کې په غونډو کې تېروي. دا وضـعيت د تصـادف يا د تمرکز د نشتوالي له امله نه دی، بلکې دا د قرينوي اړتيا يو انعکاس دی او بايد همداسې ومنل شي. خو بيا هم دا کار د سيمه ييزې حکومتولۍ نورو همدومره مهمو چارو ته د کم پامۍ لامل ګرځي.[1]

## دريم جز - بنسټي او جوړښتي ننګونې

په افغانستان کې د سيمه ييزې حکومتولۍ سېستم دوه بڼې لري: لومړی کاغذي بڼه لکه د تګلارې په اسنادو کې چې يې يادونه شوې او دوهم عملي بڼه، که عملي ډګر ته وګورو، وزارتونو تر اوسه خپلو ولايتي څانګو ته د عامه چوپړ رسوني واک نه دی لېږدولی او د هغو مهمو پروګرامونو په اړه پرېکړې په مرکز کې د ملي کچې د دفترونو له لارې کېږي، چې په بنسـټيزه توګه د مرستندويانو لخوا تمويلېږي.

[1] نجات، آريا . (۱۳۹۵ل) . په افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولی، کابل : AREU، ژباړه ـ ګلستان شينواري، ، لومړي چاپ، ص (۱۲)

ketabton.com - The Digital Library

کابینې د ولایتي بودیجې جوړوني تګلاره تایید کړي، خو د وزارتونو ولایتي څانګو ته د ورکول کېدونکو دندو په اړه وضاحت نشته، چې هغوی وکولای شي پلان یې کړي او بودیجې ورته وټاکي. د دغه وضعیت پایله دا ده، چې ولایتي څانګې، د امنیتي او عدلي سکتور په استثنا، له اداري، عملیاتي او حفظ و مراقبت له چارو پرته ډېر څه نه کوي. د فعالیتونو هغې کچې ته په کتو چې د مرکز لخوا تر سره کېږي او یا یې په اړه پرېکړه کېږي، ولایتي څانګې ځان څه نا څه فلج شوې ګڼي. د سیمه ییزې حکومتولی په اړه د یوې تولیزې کړنلارې نشتوالی یوه بله لویه ننګونه ده. د ملي او نړیوالو کارپوهانو په ګډون، ډېرو ته سیمه ییزه حکومتولي د والیانو او ولسوالانو د دفترونو، ښاروالیو او ولایتي شوراګانو په مانا ده. دا نظر سم دی، خو بشپړ نه دی. په حقیقت کې د سیمه ییزې حکومتولۍ سېستم تر دې پراخ دی، چې دولتي او نادولتي بنسټونه او اړوندان دواړه پکې شامل دي. که د موضوع د دولت لوري ته وکتل شي، د ملکي خدمتونو سېستم او سېکتوري سمون د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون او په ټوله کې د حکومتولۍ مهمې برخې دي. د یوه اغېزناک بنسټ په توګه د پایښتلو لپاره د ملکي چوپړونو سېستم باید خپلو کارکوونکو ته د دندو خوندیتوب، د وخت په تېرېدو ارتقا، ټیکاو لرونکې تنخوا، د دندې په پای کې تقاعد، درناوی او که څوک په ریښتینولۍ کار کوي، د خدمت فرصت ورکړي. خو اوسمهال داسې نه ده. لوړپوړي حکومتي چارواکي د قلم په یوه ګوزار د سیمه ییزې حکومتولۍ لوړپوړي چارواکي مقررولای یا ګوښه کولای شي. پر دې سربېره اداري فساد یوه ستره ننګونه ده، چې ملکي خدمتونه خلکو ته د ریښتیني چوپړ پر ځای د پیسو پر یوې سرچینې بدلوي. پایله یې دا کېږي، چې د ملکي خدمتونو سېستم د عامه ادارې د سېستم د بیوروکراسۍ او بنسټ په توګه، په ښه ډول فعالیت نه کوي. په عملي برخې کې د پرتو مهمو ننګونو په ډله کې د والیانو کمزورې مشري هم تر سترګو کېږي، چې ډېری وختونه د وزارتونو د ولایتي څانګو یا ښاروالیو د کوچني مدیریت له لارې جبرانېږي. تر څنګ یې د ولایتي شوراګانو د حساب ورکونې کمزورې چلنلارې هم موجودې دي. همداراز د ولسوالیو، ښاروالیو او کلیوالي ټاکل شویو شوراګانو نشتوالی هم دی، که څه هم اساسي قانون ورته ځای ورکړی. بلخوا د ولسوالیو او کلیو په کچه له سېکتورونو سره تړلې شوراګانې اړین قانوني ملاتړ او د پرمختیایي او د حکومتولۍ د چارو په اغېزناک ډول د تر سره کولو وړتیا نه لري. په حقیقت کې د سیمه ییزې حکومتولۍ د شته دودیزو کړنلارو په اړه د پوهاوي او منني نشتوالی د زړو جوړښتونو له پامه غورځولو او د نویو د را منځته کولو لپاره د پیاوړې هڅې لامل کېږي. په پای کې، د معیاري عامه ادارې او ځانګړې قرینوي پرمختیایي چلنلارې تر منځ مانا لرونکي انډول د را منځته کولو په اړه د ملي همغږۍ نشتوالی ستونزه زېږوونکی دی. والیان په اوسني موقف کې ولایتي چارو کې مانا لرونکې مشري نه کوي، ځکه چې د لوړې کچې متمرکز سېستم له کبله د عامه چوپړونو رسونه په بنسټیزه توګه په مرکز کې کېږي. دا چې والي د چوپړ رسوني د موخو په اړه پرېکړو کولو کې دخیل نه دی او په بنسټیزه توګه دا موخې په مرکز کې ټاکل کېږي، والي یې مالکیت او تر یوې اندازې د دغو موخو په تعقیبولو کې د مشرۍ رول نه لري او نه هم د وزارتونو له ولایتي څانګو سره حساب کولای شي. د سرچینو د دغه نشتوالي د جبران لپاره، والي ښایي د وزارتونو د ځینو ولایتي څانګو پر کوچني مدیریت تمرکز وکړي او یا ښایي د تنخواو د ورکولو یا کوچنیو تدارکاتو لپاره واک وکاروي یا ترې ناوړه ګټه واخلي. لکه چې وویل شول، دا په امنیتي او عدلي سېکتورونو کې د صدق وړ نه دی، چې والیان پکې په زیاته اندازه ښکېل دي یا پرې اغېز لري. په مخکې یادو شویو دلایلو، ولایتي شوراګانې په ولایتي

ketabton.com - The Digital Library

چارو کې تر اوسه د ښار مانا لرونکی رول نه لري. په قانون جوړونې کې ځنډ د دې لامل شوی، چې د ولایتي شوراګانو زوړ قانون تر اوسه پر خپل ځای پاتې شي، چې د یادې نیمګړتیا لامل ګرځي، ځکه چې په اوسني قاون کې د ولایتي شوراګانو دنده سلا مشورې ورکول او مرسته ده. د ولایتي شوراګانو د ښار راتلونکی رول به په دې برخه کې وضاحت را منځته کړي، خو پلې کېدل به یې وخت ونیسي. یوه بله مهمه ننګونه له اساسي قانون سره سمې د کلیوالي او ولسوالیو شوراګانو له نشتوالي او له شته جوړښتونو نه د ګټې اخېستنې له ناتوانۍ سره تړاو لري. ولایتونو او د حکومتولۍ ټیټو کچو ته د واک د مانا لرونکي لېږد نشتوالي ته په کتو، د ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو پلان جوړونې ته د عامه پلان جوړونې او د سرچینو له ټاکنې سره تړاو ورکول ستونزمن کار دی، ځکه چې د بودیجې د جوړونې بهیر ډېر متمرکز دی. د ولسوالیو او ولایتونو له لارې مرکز ته د ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو د پلانونو له رسونې سره سره ټولنیزه پلان جوړونه تر اوسه په مرکزي پلان جوړونې او بودیجې جوړونې کې نه منعکسېږي. د ټاکل شویو ښاروالانو او د ښاروالیو د شوراګانو نشتوالی او په ټوله کې ښاروالیو ته ناپامي نورې مهمې ننګونې دي. ښاروالۍ د عایداتو د راغونډولو او چوپړونو د رسولو پراخ توان لري، چې تر اوړتیا ډېره کمه پانګونه پرې شوې ده. د دغه توان لامل دا دی چې ښاروالۍ د ښې عامه چوپړ رسونې او ولسواکې حکومتولۍ د یوه فرصت استازیتوب کوي. خلک د ښاروالۍ چوپړونو ته پام کوي، چې په ښاروالیو کې د دوی د پانګونې لامل ګرځي او یا ورسره لګښتونه شریکوي چې له لارې یې د ښاروالیو د عایداتو جوړونې وړتیا دوام کوي. همدا شان، د ښاروالیو چوپړونه لیدل کېدای شي، چې له لارې یې له ښکته-پورته خوا ته حساب ورکول او د چوپړونه ارزونه او د هغوی معیار یو څه اسانېږي. د ښاروالیو د وړتیا جوړونې پروګرامونو، چې په بنسټیزه توګه یې مالي ملاتړ د مرستندویانو لخوا کېږي، د وړتیاو د اصلي لوړونې او د عایداتو زېږوونکو وړتیاو د جوړونې پر ځای د دفتري سامان الاتو په مهیا کولو تمرکز کړی. هغه پروګرامونه چې د عایداتو جوړوونکو وړتیاو یا چوپړ رسونې پر معیار تمرکز کوي تر اوسه ډېر کم دي او یوازې څو ښارونو یا ښارګوټو پورې محدود دی. نو، د چوپړ رسونې او عایداتو د جوړونې لپاره د ښاروالیو پر وړتیا ریښتینی تمرکز تر اوسه پورې نه دی شوی. د ښاروالیو په چارو کې د والیانو کوچنی مدیریت او یا هم مداخله نورې ننګونې پیدا کوي، که څه هم له نورو ولایتي ادارې سره تړاو نه لري. دا هر څه په داسې حال کې دي، چې له دولته ښاروالیو ته د مالي واک د لېږد نشتوالی او د عامه ادارې د سمون په بهیر کې د ښاروالیو له پامه غورځول شوی ځای وضعیت نور هم پېچلی کوي. د ارزونو له مخې، د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره سیمه ییزو بنسټونو او چارواکو ته د خپلو سیمه ییزو څانګو او د ډګري کارکوونکو په توګه ګوري، نه دا چې هغوی داسې واحدونه وبولي چې د چوپړ رسونې حق لري، چې دا کار ننګونې لا پسې سختوي.[1]

[1] نجات، آریا . (۱۳۹۵ل) . په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولی، کابل : AREU، ژباړه ـ ګلستان شینواري، ، لومړي چاپ، ص (۱۳-۱۴)

ketabton.com - The Digital Library

## دوولسم مبحث ـ د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره د وزارتونو پر وړاندې

د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې او وزارتونو تر منځ هم دنده ییز کړکیچ یا هم لږ تر لږه د رولونو تر منځ یې د وضاحت نشتوالی شته، چې د همکارۍ پر ځای د سیالۍ لامل ګرځي. د همکارۍ د رامنځته کولو هڅې، لکه د ولسوالیو د همکاریو شوراګانو پر چوکاټ باندې د ګډ کار له لارې ( چې د سیمه ییزو اورګارنونو خپلواکې ادارې او د کلیو پراختیا او بیا رغونې وزارت پورې اړوند دی)، په تاسف سره تر اوسه یوازې د کاغذ پر مخ پاتې شوې او پلې شوې نه دي. وزارتونه د سیمه ییزو اورګانونو لخوا د مشرۍ د رول د لوبولو له کبله خپه دي، خو د سیمه ییزو اورګانونو اداره، سیمه ییزو حکومتولي د خپل کاري ډګر بولي او دا خپل مشروع رول ګڼي. د سیمه ییزو اورګانونو مقام، چې د یوه ولسمشریز فرمان له مخې رامنځته شوې، او د وزارتونو لخوا خپلو ولایتونو ته د مسولیت د لیږد نه غوښتل حالت لا پسې پېچلی کوي. ډېر پر دې باور دي چې د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره د تګلارې د مشرتابه د یو څه بڼې په درلودو لکه څنګه چې د سمون د اجندا د معرفي کولو یا وړاندې کولو په رول کې په بنسټیزه توګه منعکسېږي، خو دوی ټینګار کوي چې دا رول څنګه د تګلارې له مالکیت سره توپیر لري، چې د سیمه ییزې حکومتولی د تګلارې په مورد کې، د افغانستان په حکومت او ور پورې تړلو ادارو پورې تړاو لري. که څه هم د سیمه ییزې حکومتولۍ اصلاح شوې تګلاره به هڅه وکړي چې د سیمه ییزې حکومتولۍ د واحدونو دندې او فعالیتونه روښانه کړي، په ملي کچه د مسولیت له پراخ وضاحت او وېش پرته به دا هڅه په عملي توګه اغېزناکه نه وي. د مخکنۍ تګلارې د کرار او بالاخره نه پلي کېدونکي وضعیت نه زده شوي درسونه د دغه بهیر په اړه ګټور معلومات وړاندې کوي.[1]

## دیارلسم مبحث ـ دولتي سکتور د خصوصي او مدني ټولنې پر وړاندې

د دولتي او خصوصي سېکتور تر منځ د برخوالۍ په اړه بحثونه شوي، خو دا روښانه نه ده، چې کوم چوپړونه باید د دولتي واحدونو له لارې ورسول شي، د کار کومې لیکې باید خصوصي سېکتور ته پرېښودل شي او حکومت په کومو ساحو کې د دولتي او خصوصي سېکتور تر منځ ملګرتیا یا برخوالي رامنځته کولای شي. د منل شوي پوهاوي نشتوالی او د دغو ګامونو د پلي کولو لپاره د لازمو شرایطو نه برابرۍ د همغږۍ د نشتوالي او د چوپړونو د تېر و بېر کېدو او یا هم د دولتي او خصوصي سېکتور د ملګرتیا د مفهوم یوازې تر مدني ټولنې پورې د را کمېدو لامل ګرځي، چې د ډېرو په باور تر هغو لوړپوړو بسارمېشتو نادولتي ټولنو پورې محدوده ده، چې مرستندویان یې مالي ملاتړ کوي. په سیمه ییزې حکومتولۍ کې د مدني ټولنې د رول په اړه یو پیاوړی لیدلوری د عامه چوپړونو د رسوونکو په توګه، چې د دولت دنده ګڼل کېږي، د مدني ټولنې پر اوسني وضعیت نیوکه کوي، او ټینګار کوي، چې د دوی دنده باید له بسکته - پورته خوا ته د حساب ورکولو د پیاوړي کوونکو واحدونو په توګه وي. دا واقعیت چې مدني ټولنې او حکومتي اداري دواړه په چوپړ رسونې کې ونډه لري، دا دواړه سېکتورونه یو له بل سره ملګري کوي، خو په ګټوره توګه نه، او دا د کمزورۍ یا تر ټولو بده - د تش په نامه حساب ورکونې لامل ګرځي. په نورو مواردو کې، د عامه چوپړونو په رسونې کې ګډه بوختیا د سرچینو د تر

---

[1] نجات، آریا . (۱۳۹۵ل) . په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولی، کابل : AREU، ژباړه ـ ګلستان شینواري، ، لومړي چاپ، ص (۱۳)

ketabton.com - The Digital Library

لاسه کولو لپاره مدني ټولنه د دولتي سېکتور سیاله کوي، چې له ښکته ـــ پورته حساب ورکوني په رول کې د مدني ټولنې د موخې حس ناپیيلی نه پاتې کېږي او یو طرف نیسي. دا وضعیت د نړیوالې ټولنې لخوا د مرستندوی د رول په لوبولو نور هم سختېږي. همداراز له مدني ټولنې سره د خپلې اړیکې تعریفولو یا په اغېزناکه توګه د هغې د فعالیتونو تنظیمولو کې د حکومت ناتواني هم لا پسې ستونزمنوونکې ده. په دواړو حالاتو کې، که څه هم د مدني ټولنې سېکتور په سیمه ییزې حکومتولۍ کې بوخت دی، خو په یوې اغېزناکې لارې نه دی، چې په ټوله کې د سیمه ییزې حکومتولۍ پر چارو د یوه مانا لرونکي اغېز ښندلو کې پاتې راځي. د دې لید په تایید، د نړیوالې مرستندویه اداري یوه بل استازي ومنله، چې ریښتیني مدني ټولنې په کلیوالو سیمو کې دي، چې د مهمو مرستندویانو له لاسرسي بهر دي. لوړپوړو ټولنو ته د مالي مرستو پرله پسې ورکړه د مدني ټولنو د رول په پیاوړتیا کې مرسته نه کوي، بلکې برعکس زیان ور رسوي.[1]

## څوارلسم مبحث ـ شته فرصتونه

د نورو تر څنګ د داخلي سمون غوښتونکو ډلو د نشتوالي په ګډون له خنډونو سره سره، موږ داسې نښې هم شتون لري، که څه هم ټول شموله نه دي، اوس د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون لپاره توان او اراده دواړه شته. دا فرصت په بستیزه توګه د دې مسلې په اړه د ولسمشر غني د روښانه ژمنتیا او د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون په اړه د هغه د رانه ژور لید پر بنسټ تکیه کوي او پرې پر مخ ځي. د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون په اړه د مثبت اندۍ دویمه سرچینه د موخو اسانوالی دی، لکه څنګه چې د سیمه ییزې حکومتولۍ په بیا ارزول شوې تګلارې کې یې یادونه شوې، چې د ۲۰۱۰ کال له اصلي تګلارې سره توپیر لري. د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره د درې پړاوي کړنلارې وړاندیز کوي، چې لنډمهالي، منځمهالي او اوږدمهالي ګامونه پکې شامل دي، چې هر پړاو پر ورمخکني پړاو تکیه کوي او ګټه ترې اخلي، چې په پایله کې د تړاو او یووالي حس پیدا کوي. د سیمه ییزې حکومتولۍ اصلاح شوې تګلاره څلور مهمې ساحې په نښه کوي: له وزارتونو نه اړوندو ولایتي څانګو ته د واک لېږد، د والیانو د مشرۍ د رول پیاوړتیا، د ولایتي شوراګانو د حساب ورکونې د رول پیاوړتیا او د ښاروالۍ د چوپړونو د ښه کېدو په موخه د عایداتو په تولید کې مرسته. ښاري کېدنه یو پیاوړی میلان دی او د ستنبدنې شونتیا یې نه لیدل کېږي. خلک له کلیوالي سیمو نه ښاري هغو ته په یون دي، چې د وګړو د میثاق ښاري برخه یې اړینه کړې، چې د ښاروالیو په ملاتړ کې مرستې ته ژمنه ده، په ځانګړې توګه په ولایتي او د ولسوالیو په کچه د حساب ورکوونکو لوړپوړو چارواکو په توګه د ښاروالانو ټاکنې ته پر ټولو سربېره، د سیمه ییزې حکومتولۍ په اصلاح شوې تګلارې کې یوه پاخه ژورلید ته ځای ورکړل شوی، چې د افغانستان د سیمه ییزې حکومتولۍ سمون باید له ژمنتیا سره، خو په ورو ورو پر مخ ولاړ شي، چې د سمونونو او شته فعال سېستم تر منځ د وخت په تېرېدو همکاري را منځته شي. دا چې اوسنۍ هڅې به په حقیقت کې په عملي ډګر کې بدلونونه را منځته کړي، په اړه یې د مثبت اندۍ دلایل شته. د افغانستان مرکزي دولت د سیمه ییزې حکومتولۍ پیاوړې کولو ته ژمن دی او دا ځواکمنه سیاسي اراده به له کاغذه عمل ته د افغان حکومتولۍ په لېږد کې د مرستې لپاره اړینه وي. د

[1] نجات، آریا . (۱۳۹۵ل) . په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولی، کابل : AREU، ژباړه ـ ګلستان شینواري، ، لومړی چاپ، ص (۱۵)

ketabton.com - The Digital Library

هيلي بله نښه د سيمه ييز استازيتوب ښه شوی پوهاوی دی، چې د ولايتي شوراگانو د قانون په اړه د بحث پر مهال د دغو شوراگانو لپاره د څار د رول په اړه د خلکو د ملاتړ په څرگنداوي کې ليدل شوی دی. که څه هم په سيمه ييزه کچه د رسمي او نارسمي حکومتولۍ تر منځ پرله پسې او ډېرې وختونه منفي سيالي شته، چې له هممهال نشتون سره مله ده، خو په ځايي کچه خلک د نارسمي حکومتولۍ پر مېکانېزمونو، لکه ملکانو، ميرابانو، او د قومي مشرانو پر شوراگانو، او په ځينو مواردو کې پر درې پوړيزې شورا جوښت، چې له ټولنيزو پرمختيايي شوراگانو، کلستر د کچې پرمختيايي شوراگانو او د ولسواليو پرمختيايي شوراگانو نه جوړ دی، باندې باور کول روان ساتي.

يو مشهور استدلال دا دی، چې افغانستان که له يوې خوا د خپلو نومهالو بنسټونو پر باوري کولو کار کوي، دا هېواد بايد د حکومتولۍ شته نارسمي مېکانېزمونه هم د ښکته څخه پورته خوا ته حساب ورکوني او په سيمه ييزې حکومتولۍ کې د يوازنۍ باوري وسيلې په توگه پياوړي کړي. د ولسواليو شوراگانو د بشپړو ټاکنو تر سره کول د سرچينو له جدي محدوديت سره مخامخ چاره ده او همداراز د ولسواليو د بې ټيکاوه کولو گواښ هم لري. پر ځای يې د ولسواليو د همغږۍ شورا غوره کول به، چې د سيمه ييزو اورگانونو د خپلواکې ادارې او د کليو پراختيا او بيا رغونې وزارت لخوا په گډه پر مخ بېول شوې، د اساسي قانون هغه حکم پر ځای نه کړي، چې له مخې يې د ولسواليو شوراگانې بايد په رايو ټاکل شوې وي. د سرچينو له پلوه به تر ټولو مناسب او عملي غوراوی دا وي، چې د ولسواليو د شوراگانو ټاکنې د ټولنيزو پرمختيايي شوراگانو پر بنسټ تر سره شي، چې له لارې به يې ټولنيزې پرمختيايي شوراگانې د ولسواليو شوراگانو ته استازي استوي. دا غوراوی نه يوازې د اساسي قانون د احکامو اړتيا او د دغه قانون د پلي کولو په اړه د ولسمشر ژمنتيا پر ځای کوي، بلکې له شته جوړښتونو هم گټه اخلي ( د کلي په کچه)، چې په تېرو ۱۳ کلونو کې يې د نړيوالو مرستندويه پيسو درنه اندازه جذب کړې او پر يوې شتمنۍ بدله شوې ده.[1]

په افغانستان کې د سيمه ييزې حکومتولۍ راتلونکی د هغو ژمنو په اړه د دولتي بنسټونو په ارادې پوره تړاو لري، چې په ځانگړې توگه يې د اساسي قانون په څېر سندونو کې يادونه شوې ده. په ټوله کې د افغان حکومتولۍ او په ځانگړې توگه د سيمه ييزې حکومتولۍ تر ټولو لويه ستونزه د پوهاوي د کموالي، د سرچينو په جذبولو کې د وړتيا نشتوالي او يا هم د ننگونو او فرصتونو په يادولو کې نه ده. تر ټولو مهمه ننگونه چې پر ځای پاتې ده دا ده، چې له کابله ها خوا د حکومتولۍ هر پوړ ته د لومړيتوب په توگه وکتل شي او همداراز دا انگېرنه چې د سيمه ييزې حکومتولۍ ټولې خواوې په هممهاله توگه په لنډ وخت کې ښې کېدای شي او بايد دا کار وشي " د ځان بسياينې د ريښتيايني" په نامه لسيزې کې د افغانستان د پرمختگ لپاره د شته امکاناتو او فرصتونو په کارولو د پرله پسې، عملي، پايښت لرونکې او ټول شموله سيمه ييزې حکومتولۍ سمون ته د لومړيتوب ورکولو وړتيا او پرې د ټينگار اراده ډېر مهم دي.

په افغانستان کې حکومتولي له بې شمېره ننگونو سره مخامخ ده، چې د ډېريو بدلون د افغان حکومت، خصوصي سېکتور او مدني ټولنو له وسه بهر دی. په دوی کې د ترهگرۍ په گواښ پورې تړلې امنيتي کړکېچ، د کوکنارو کر چې د نشه يي توکيو صنعت په پياوړتيا کې ونډه لري او پلوان پالنې

[1] نجات، آريا . (۱۳۹۵ل) . په افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولی، کابل : AREU، ژباړه ـ گلستان شينواري، ، لومړی چاپ، ص (۱۵-۱۶)

ketabton.com - The Digital Library

شبکې او اداري فساد چې له سیمه ییزو قوتونو سره پیاوړي تړاوونه لري، شامل دي. د دغو ننګونو پر وړاندې د سیمه ییزو او نړیوالو ټلوالو جوړېدو ته اړتیا ده او کورنۍ او بهرنۍ ژمنتیا او هوډ ته اړتیا لري. خو داسې ساحې هم شته، چې په افغانستان کې بېلابېل اړوندان یکې مرکزي رول لوبولای شي.

## پینځلسم مبحث ـ د ستراتېژیک ژورلید او عملي چارو تر منځ د همغږۍ باوري کول

لکه څنګه چې د سیمه ییزې حکومتولۍ د تګلارې په مخکیني متن کې لیکل شوي، حکومتي برخوال باید لنډمهالي، منځمهالي او اوږدمهالي پروګرامونه په نظر کې ونیسي او کار پرې وکړي. د سمون له دغه بهیره د تېرېدو پر مهال به د افغانستان لپاره د ژمنو کول او په پرله پسې توګه د هغوی تعقیب یوه مهمه چاره وي.

اوسمهال د ولسمشر اشرف غني هغه ژمنتیا چې په وینا یې اساسي قانون به پلی کوي، همدغسې یو مهم ګام دی. خو د دې ژمنې پلي کول باید یوازې له یوه لوري پر ولسمشر غني پورې و نه تړل شي. د دې پر ځای باید دا د همغږۍ او پر یوه بل د تکیه کولو داسې یو تړاو رامنځته کړي، چې د ده ژورلید له عملي وسیلو، لارو چارو او وضعیت سره ونښلوي او دغه لید د عملي، ګټورو او ټول شموله لنډمهالو، منځنمهالو او اوږدمهالو پروګرامونو له لارې پلی کړي، چې د افغانستان پر شته واقعیتونو ولاړ وي.

## شپاړسم مبحث ـ د سیمه ییزې حکومتولۍ د مهمو برخوالو په ګوته کول او د هغوی د دندو روښانه کول

د موجوده عمومي انګېرنې برخلاف، وزارتونه له اړوندو ولایتي او د ولسوالیو له څانګو سره په سیمه ییزې حکومتولۍ او د عامه چوپړونو په رسونې کې مهمه ونډه لري. له همدې امله، د سیمه ییزې حکومتولۍ سمون اړوندو ولایتي او د ولسوالیو څانګو ته د وزارتونو لخوا د مسولیتونو او مالي واک د لېږد په ارادې او ظرفیت پورې اړه لري. د والیانو او ولسوالانو لخوا د مشرۍ د کولو او د ولایتي شوراګانو لخوا د ښار د کولو لپاره له وزارتونو د ځینو مسولیتونو او واکونو لېږد سیمه ییزې کچې ته اړین دی. له همدې امله هغه بنسټونه چې د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون لپاره باید پرې تمرکز وشي، تر ډېره د والیانو او ولسوالانو دفترونه، ولایتي شوراګاني او د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره نه دي، بلکې پخپله وزارتونو ته باید ډېر پام وشي. بیا هم د عامه انګېرنې خلاف، د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره د والیانو او ولسوالانو له دفترونو، ولایتي شوراګانو او ښاروالیو سره د مرستې او د سیمه ییزې حکومتولۍ د مهمو پرېکړو په اړه د ملي همغږۍ د رامنځته کولو په چوپړ کې ونډه لري. د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره د سیمه ییزې حکومتولۍ د تګلارې په اړه د قانون جوړونې، تګلارې جوړونې او پلي کولو په بهیر کې د یوې دارالانشا په توګه کار کوي، چې د دغو تګلارو او قوانینو اصلي مالکیت بیا هم له اړوندو وزارتونو، د هغوی له ولایتي او د ولسوالیو له څانګو، د والیانو او ولسوالانو له دفترونو، ولایتي شوراګانو او ښاروالیو سره پاتې کېږي. د سیمه ییزې حکومتولۍ د مهمو مفاهیمو په اړه په افغانستان کې د کره پوهې د بنسټ په جوړولو کې همدغه اصل د مدني ټولنې، اکاډمیکو ادارو، څېړنیزو بنسټونو او خصوصي سېکتور په برخه کې هم صدق کوي. همداراز د رضاکارو اړوندو ډلو، لکه د والیانو او ولسوالانو، ښاروالانو او ولایتي شوراګانو د همغږۍ ټولنې، د

ketabton.com - The Digital Library

فعال ګډون لپاره د یوه مناسب او پایښت لرونکي چاپېریال رامنځته کول هم د دوی په دندو کې راځي. د سیمه ییزو اورګانونو راتلونکي اصلاح شوې تګلاره باید د سیمه ییزې حکومتولۍ د برخوالو تر منځ دا همغږي منعکسه کړي او د وزارتونو د سیمه ییزو څانګو د هغو دندو، مسولیتونو، بهیرونو او چوپړنو د روښانه کولو له لارې، چې باید په سیمه ییزه کچه یې تر سره کړي، له وزارتونو سره ځان عیار کړي.

که څه هم افغانستان اوسمهال تر ډېره کلیوالي ټولنه لري، د افغان وګړو یوه د پام وړ برخه یا وار له مخه په ښارونو کې مېشته شوې او یا به هم په راتلونکي کې دا کار وکړي. ښاري کېدل یو نه ستنېدونکی بهیر دی او د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون لپاره یوه ننګونه ده، لامل یې تر ډېره د وړتیاو او سرچینو نشتوالی، اداري فساد، محدوده روڼتیا، او جنسیتي نابرابري ده. خو د دې ننګونې تر څنګ د ښاروالیو د بنسټ د وړتیا او چارو په ښه یو فرصت هم موجود دی. د افغان وګړو د یوې لویې برخې لپاره ښاروالۍ د دولت د استازو په توګه له وګړو سره د اړیکي لومړی ټکی دی، چې له لارې یې د دوی کارونه ښکاري او په مټ یې ډېره اندازه عامه تړاو پیدا کېږي.[1]

د ښاروالیو دا ماموریت چې په ښاري حکومتولۍ کې د لاسنیوي اصل د ریښتیاینې لپاره سیمه ییز عایدات او وړتیاوې باید لوړې کړي، دوی ته د داسې بنسټونو حیثیت ورکوي، چې د عامه چوپړونو په رسونې کې یې ځای څوک نه شي نیولای. د عایداتو د ټولونې او چوپړ رسونې دغه لوی توان ته باید د لوړتیاو د لوړولو او د سرچینو د کره پانګونې له پلوه زیات پام وشي.

## اوولسم مبحث ـ : له ښکته ـ پورته حساب ورکولو پیاوړي کول، د ولایتي شوراګانو د څار د حق ملاتړ

معلوماتو ته له لاسرسي او له ښکته څخه پورته خوا ته له حساب ورکونې پرته ښه حکومتولي منځته نه شي راتلای. ولایتي شوراګانې او په نږدې راتلونکي کې ټاکل کېدونکي د ولسوالیو شوراګانې د ښـې حکومتولۍ د دې ځانګړنې استازیتوب کوي. پر ولایتي چارو د ولایتي شـورا ګانو د څار حق د خلکو ټاکل شوي استازي د خپل قانوني ماموریت په بشپړونې کې توانمنوي.

## اتلسم مبحث ـ د ولسوالۍ او کلي استازیتوب

لکه وړاندې چې وویل شول، د ولسوالۍ او کلي په کچه د حکومتولۍ سمون یو څه تناقض لري. له یوه پلوه اوس په کابل کې د کورنیو او بهرنیو تکنوکراتانو او سیاستوالو ډېر پام په ملي کچه د والیانو ، ولسوالانو، او د ولایتي شورا د غړو او ښاروالانو ټاکلو ته اوښتی. له بله پلوه دا ډېره جوته ده چې په ملي کچه په حکومتولۍ کې په معنی داره توګه سـمونونه د کلي او ولسـوالۍ له معقول او هر اړخیز اسـتازیتوب پرته نه شـي رامنځته کیدای. سـره له دې چې په سـیمه ییزه کچه د حکومتولۍ سـمون ډېر ارزښـت لري خو بیا هم د اوږدې مودې لپاره د تکنوکراتانو له خوا د سـمونونو له پاره په جوړه شـوې اجندا کې له پام غورځول شوی و. په وروستیو کې چې د ولسمشر له خوا د اساسي قانون له حکم سره سم په سیمه ییزه کچه د ټاکنو ژمنه شوې، نو د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ د سمون موضوع

[1] نجات، آریا . (۱۳۹۵ل) . په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولي، کابل : AREU، ژباړه ـ ګلستان شینواري، ، لومړي چاپ، ص (۱۸)

ketabton.com - The Digital Library

يو ځل بيا راپورته شوې ده. د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ سمون ته بيرنۍ اړتيا له هغه ترونه سرچينه اخلي چې د ګډ حکومت د رامنځته کولو لپاره د ولسمشر اشرف غني او اجرايي رئيس عبد الله عبد الله ترمنځ شوی دی. په دغه تړون کې ويل شوي چې د اساسي قانون په لويه جرګه کې به د افغانستان د سياسي نظام پر بدلون بحث او خبرې کيږي. که څه هم دا يواځې په هغه صورت کې چې د ولسواليو شورا ګانې د اساسي قانون د حکم له مخې جوړې شي او استازي به يې په لويه جرګه کې برخه واخلي. لکه چې مخکې وويل شول د ولسواليو د شوراګانو د رامنځته کولو لپاره بيلابيلې لارې شته، ځينې يې د کلي په کچه د اوسني جوړښت پر بنسټ دي چې د شورا ټولنيز ارزښت او مقام په کې په اصلي بڼه ساتل کيږي. ځينې نورې لارې چارې بيا داسې دي چې د شورا په اوسني جوړښت کې لږ يا ډير بدلون راولي لکه د ولسوالۍ په کچه د همغږۍ شورا رامنځته کول. خو ځينې نورې لارې چارې لکه د آزادو ټاکنو له لارې د کلي او يا ولسوالۍ د شورا ټاکل، بيا په اساسي توګه په افغانستان کې د سيمه ييزې حکومتولۍ څرنګوالی بدلوي او شورا ته د مدني ټولنې د يوه ارګان حيثيت ورکوي چې پر پرمختيايي چارو به تمرکز کوي. د حل هره لاره چې غوره کيږي غوره دې شي خو نور د کلي په کچه د حکومتولۍ سمون له پامه نه شي غورځول کيدای. په کليواله کچه د حکومتولۍ په اړه پريکړه دومره ساده خبره نه ده ، ځکه په دې سره د کليوالو سيمو د اوسيدونکو ژوند مستقيما اغيزمنيږي او بالاخره په دې اړه پريکړه د افغانستان د اکثرو اوسيدونکو پر ژوند اغيز کوي.[1]

## نولسم مبحث ـ د پرمختيايي شورا جوړښت

### لومړی مطلب ـ د شورا دندې او تنظيم

کله چې موږ شورا يادوو نو مطلب هغه پرمختيايي شوراګانې دي چې د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت له خوا رامنځته شوي دي. د دغه جوړښت اصلي هسته سيمه ييزې پرمختيايي شوراګانې دي چې په لومړي ځل په ۲۰۰۳ کال کې د ملي پيوستون پروګرام له خوا جوړې شوې. ملي پيوستون پروګرام په درې فيزونو کې پلي شو او په ۲۰۰۹ ـ ۱۰ کال کې يې لمن ټول هيواد ته خوره شوه. سيمه ييزې پرمختيايي شوراګانې د هغو ټولنو استازيتوب کوي چې له ۲۵ تر ۳۰۰ پورې کورنۍ په کې ژوند کوي. د سيمه ييزه پرمختيايي شورا غړي د پټو رايو له لارې ټاکل کيږي چې د دغې ټولنې ټول ښځينه او نارينه وګړي په کې برخه اخلي. د ولسمشرۍ ، ولسي جرګې او د ولايتي شوراګانو د ټاکنې په يوه ورځ ترسره کيږي خو د سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو ټاکنې په اوږده موده کې په جلا ډول د ټولنې په همغږۍ کولو تر سره کيږي. دغه ټول بهير د نا دولتي مؤسسو له خوا پر مخ بيول کيږي چې د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت له خوا ورته د ملي پيوستون پروګرام د عملي کولو چاره په ولسواليو کې سپارل کيږي. دا چې د ټولنې وګړې په دومره پراخه کچه په دې بهير کې برخه لري نو د سيمه ييزې پرمختيايي شوراګانو ټاکنې په يوه ورځ په يوه ولسوالۍ کې نه بلکې په پړاو پسې توګه ترسره کيږي. د سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو اصلي دنده په خپلو سيمو کې د لومړيتوبونو ټاکل، څارنه او د پرمختيايي پروژو د يوې برخې پلي کول دي. په لومړيو کې په پام کې و چې سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو ځينې نور هدفونه هم تعقيب کړي لکه دا چې د " سيمه ييزه حکومتولۍ او د سياسي

[1] نجات، آريا . (۱۳۹۵ل) . په افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولي، کابل : AREU، ژباړه ـ ګلستان شينواري، ، لومړی چاپ، ص (۱۹)

ketabton.com - The Digital Library

او ټولنيز پرمختګ فعال بنسټ " په توګه رول ولوبوي. د پرمختيايي چارو ترڅنګ سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانې شخړې هم هواروي ، حشرونه هم تنظيموي او په نور ځايونو کې د خپلې ټولنې استازيتوب هم کوي. لږ تر لږه د افغانستان په شمال ختيځ کې له ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۱۵ پورې موده کې سيمه پرمختيايي شوراګانې په سيمه ييزه کچه د حکومتولی د يوه بنسټ په توګه فعاليت کړی، له ۲۰۱۱ کال راهيسې په ځانګړې توګه د شورا د مشر ارزښت زيات شوی. د شورا د مشر د ارزښت له لوړيدو سره هم مهال په کليو کې د مشرانو او واکدارانو د اساسي بديل د ارزښت په اړه پوهاوی هم زيات شو. دا ډول يو ملاتړ بې جنجاله نه و، ځينې حکومتي او نړيوال چارواکي پر دې نظر دي، چې ټولنيزې پرمختيايي شوراګانې تر ډېره د مرستندويانو په ملاتړ چلېدونکي بنسټونه دي، چې پر پرمختيايي چارو تمرکز کوي، خو د حکومتولی اغېزناک او مثبت فعاليت نه لري. د سيمه ييزې پرمختيايی شورا پر بنسټ له ۲۰۰۷ کال راهيسې د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د بنسټونو د رامنځته کولو په برخه کې دوه نور نوښتونه هم کړي دي. په سيمه ييزه کچه د پرمختيا ملي پروګرام، په اډانه کې سيمه ييزه شوراګانې د جغرافيوی موقعيت پر اساس د ؛ کلستر په کچه د پرمختيايي شوراګانو په اډانه کې سره يو ځای کړل شوې چې د سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو غړي په کې شامل دي. د کلستر په کچه د پرمختيايي شوراګانو بيا په خپل وار د ولسوالی پرمختيايي شورا ته خپل استازي استوي، چېرته چې د کلستر په کچه د ولسوالی د ټولو پرمختيايي شوراګانو استازي سره يو ځای کيږي. د کلستر پرمختيايی شوراګانو او د ولسوالی د پرمختيايي شوراګانو دندې يو شان دي خو دلته دغه دندې په لوړه کچه پر مخ وړل کيږي. دوی لومړيتوبونه ټاکي، ملاتړ جلبوي ، د پرمختيايي پروژو ته زمينه برابروي، حشرونه تنظيموي، د پروژو حفظ او مراقبت کوي، شخړې هواروي او په دولت کې د خپلې ټولنې د ګټو استازيتوب کوي. په دې ډول شورا هغه يواځينی بنسټ دی چې په سيمه ييزه کچه ټاکل شوی ، او په يوه مرکزي دولت کې په نوبتي ډول د حکومتولی يو بنسټ دی. له مرکزي دولت سره د ارتباط لويه لاره له همدې شورا تيريږي. د شورا په درې پوړونو کې تر ټولو ټيټ پوړ يعني سيمه ييزه پرمختيايي شورا تر ټولو ښه د يوه بنسټ ښه غوره کړې او په سمه توګه دندې ترسره کوي ، له دې وروسته چې تر دې يې په کمه اندازه د يوه بنسټ بڼه غوره کړې هغه د ولسوالی پرمختيايي شورا ده. په وروستيو کلونو کې دغو دواړو بنسټونو له ملي او نړيوالو ارګانونو د پام وړ مالي امکانات او د ظرفيت لوړولو لپاره ملاتړ تر لاسه کړی دی. د شورا په اډانه کې د کلستر په کچه پرمختيايي شورا تر ټولو په لږه اندازه د يوه بنسټ بڼه غوره کړې، او آن په ځينو ولسواليو کې نشته ، وروستی مهمه تبصره د شورا د قانوني حيثيت په اړه ده. سيمه ييزې پرمختيايي او د ولسوالی پرمختيايي شوراګانې د سيمه ييزې حکومتولی رسمي بنسټونه دي، خو دغه شوراګانې د حکومت يوه برخه نه دي. غه شوراګانې رسمي ځکه دي چې دندې او جوړښت يې په فرمانونو او د پاليسيو په اسنادو کې ذکر شوی؛ د سيمه ييزه پرمختيايی شوراګانو لپاره د ولسمشر فرمان چې ۲۰۰۶ کال کې لاسليک شو او د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت مقررات، او د ولسواليو پرمختيايي شوراګانو لپاره د سيمه ييزې پرمختيا ملي پروګرام چې د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت له خوا د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام په مرسته پلي کيږي. خو د سيمه ييزه پرمختيايي او ولسوالی د پرمختيايي شوراګانو برخلاف د کلستر پرمختيايي شورا ګانې دغه ډول يو رسمي اساس نه لري. د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت له اړخه خو ويل کيږي چې دغه شوراګانې يواځې د ولسوالی پرمختيايي شورا د ټاکنو د اسانه کولو لپاره رامنځته شوي. په ډيرو سيمو کې که څه

ketabton.com - The Digital Library

هم د کلستر پرمختیایي شورا ګانې د ولسوالۍ پرمختیایي شورا له ټاکنو وروسته فعالیت کوي او آن ځینې نا دولتي مؤسسې یې ملاتړ هم کوي، دا چې دغه شوراګانې د حکومتولۍ دنده او د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو پر سر د یو پرمختیایی ارګان ماهیت لري خو د ولسوالۍ شورا څخه په درجه کې ټیټې دي ، نو کیدای شي چې دغه شوراګانې غیر رسمي بنسټونه وبلل شي. که څه هم د سیمه ییزه پرمختیایي او ولسوالۍ د پرمختیایي شوراګانو قانون ډیر پیچلی دی ، البته دې ته په پام سره چې د کلي او ولسوالۍ په اړه اساسي قانون صراحت نه لري خو دغه دواړه شوراګانې کولی شي چې خپلې دندې ترسره کړي. د سیمه ییزه ارګانونو د خپلواکې اداري، د سیمه ییزه حکومتولۍ په پالیسۍ کې راغلي دي چې: سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې هغو خلکو ته ځواب ورکوونکي دي چې د دغو شوراګانو غړي یې ټاکلي دي. سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې دغه راز د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت ته چې دوی ته مالي بودجه ورکوي ، ځواب ورکوونکي دي. سیمه ییزه پرمختیایی شوراګانې به د کلیوالو شوراګانو د راتلونکې د رول تر سره کولو پرمهال خلکو ته ځواب ورکوونکي وي. د ولسوالۍ پرمختیایي شوراګانې به خپل اوسنی رول او مسؤولیتونه ترسره کوي. [1]

[1] نجات، آریا . (۱۳۹۵ل) . په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولی، کابل : AREU، ژباړه ـ ګلستان شینواري، ، لومړي چاپ، ص (۲۱-۲۳)

ketabton.com - The Digital Library

# دویم فصل

## د افغانستان په سیمه ییزه حکومتولۍ کې مالي چارې

### لومړی بحث ـ پلان جوړونه او مالي چارې

د ۲۰۰۱ م کال په وروستیو کې د طالبانو د رژیم له نسکورېدو وروسته په افغانستان کې نوي سیاسي نظام د پلان او بودیجې جوړولو په ګډون د حکومتولۍ د یو شمېر فعالیتونو سمون ته لاره هواره کړه. خو په پیل کې د دغه بهیر پام د مرکزي حکومت پر پیاوړي کولو او پر دې راغونډ و چې د پلان او عامه مالي چارو مدیریت بهیرونه باید د مرکزي حکومت له خوا کنټرول شي. د حکومتي ادارو پاشل کېدو او د کابل او ولایتونو تر منځ کمزورو اداري اړیکو ښـــایي حکومت لا نور هڅولی وي چې د مرکزي حکومت د واک غځولو او د پیاوړو ځایي لوبغاړو یا چارواکو د قدرت کمولو پخاطر د حکومتولۍ بهیرونه له اندازې ډېر مرکزي کړي. خو دغه ډول تګلارې ناوړې پایلې هم درلودې. دې تګلارې په اغېزناکه ډول د ځایي لومړیتوبونو په ګوته کولو او تمویلولو، د ځایي وړتیا لوړولو، او د پلان او بودیجې جوړولو بهیرونو کې د ځایي چارواکو د ګډون مخه نیولې ده. واقعاً، په افغانستان کې د مرکزي او سیمه ییز کنټرول تر منځ انډول ساتل یوه ننګونه ده، او یو داسې حالت دی چې په نورو نازکو قرینو( افغانستان ته ورته تاریخ لرونکو هېوادونو ) کې هم لیدل شوی دی. په عمومي ډول د عامه مالي چارو د مدیریت په ډګر کې او په ځانګړې ډول د بودیجې جوړولو په برخه کې د مهمو لاســته راوړنو سربېره، د یوه واضحه سیمه ییزې حکومتولۍ چوکاټ د نشتوالي له کبله، د لومړیتوبونو په ګوته کولو او د سرچینو د وېشلو پر وړاندې یو شمېر ناڅرګند او نامالوم حالتونه موجود دي. په مشخص ډول، د مرکزي حکومت له خوا له اندازې ډېر کنټرول، پاشـلې اداري مسـولیتونه، محدوده وړتیا او د ځواب ورکونې کمی عمده ننګونې دي، چې دغه ننګونې د درې اړخیزه لېږد ( اقتصـادي، سیاسـي او امنیتي ) اقتصـادي اغېز لا سختې کړې دي، په ځانګړې ډول له (۲۰۱۴م) کال راهیسې چې بهرنۍ مرستې په چټک ډول کمې شـوې او د حکومتي ادارو سـمون ته هم پام کم شـوی دی. د دغه لېږد د منفي اغېزو کمولو او د حکومت د محدودو سرچینو په اغېزناکه ډول وېشولو پخاطر باید د پلان او بودیجې جوړولو سیستم کې سمونونه راوړل شـي چې د ځایي خلکو غوښتنو او مهمو اړتیاو ته د پام او توجه له لارې حکومت خلکو ته نږدې شي. [1]

د افغان حکومت د پلان او بودیجې جوړولو بهیرونه، د ښــاروالیو په اســتثنا چې محدود واک لري، خورا مرکزي دي. حکومتي اداري په مرکزي، ولایتي او د ولسـوالیو په کچه شـتون لري خو له دوی په ډېر کمزوري ډول کار اخیستل کېږي چې له کبله یې د سرچینو اغېزناکه وېش او د خدمتونو وړاندې کولو بهیر لا سـتونزمن کېږي. په عمومي ډول پروژې د مرســتندویه اوغیر حکومتي ادارو له بودیجو یا نورو لارو تمویلېږي، خو ډېر یې حکومتي سـیسـتمونه او بهیرونه له پامه غورځوي، چې له کبله یې، که څه هم پروژې په چټک ډول تطبیقېږي خو د دغو پروژو او ادارو دوام او موثریت په ناوړه ډول اغېزمنېږي. له بودیجې بهیر مرسـتې او په لوړه کچه مرکزي کنټرول د خدمتونو وړاندې کولو، د پروګرامونو تطبیق او څار او د ادارو ځواب ورکونې لپاره ناوړه پایلې لري. په ۲۰۰۱ م کال کې د بن

---

[1] بیژن، نعمت الله او امیل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بودیجی جوړولو بهیرغیر مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۱)

ketabton.com - The Digital Library

ټرون او په ۲۰۰۴ م کال کې د افغانستان د اساسي قانون له تصویبېدو وروسته، مختلفو لوبغاړو د اساسي قانون پر بنسټ د حکومت د ځینو فعالیتونو د غیر مرکزي کېدو په اړه بحثونه کړي، که څه هم په دې تړاو تر اوسه کوم مهم پرمختګ نه دی شوی. خو په دې وروستیو کې د ملي یووالي حکومت له جوړېدو او د لېږد اغېزو داسې حالت رامنځته کړی چې دغو مسایلو ته باید بیا کتنه وشي او د نورو مسایلو تر څنګ، باید د پلان او بودیجې جوړولو بهیرونه غیر مرکزي شي.

د ولسمشر اشرف غني ژمنه چې د مرکزي حکومت د بودیجې ۴۰ سلنه به ولایتو ته ورکوي، دې اړتیا ته اشاره کوي چې ځیني واکونه باید د حکومت ولایتي ادارو ته وسپارل شي او سیمه ییزې ادارې باید پیاوړې شي چې په اغېزناکه ډول خپله بودیجه پلان او مصرف کړای شي. د پلان او بودیجې جوړولو د بهیرونو غیرمرکزي کول ننګونکی کار ښکاري، که څه هم دا سیمه ییزو ادارو ته د بشپړ واک ورکولو د خورا ډېر لېواله او توندې تګلارې په پرتله ډېره واقعي او حقیقي تګلاره ده. ځکه نو یوې اوږدمهالي تګلارې ته اړتیا ده چې په کې سیمه ییز چوکاټ په واضحه ډول تشریح شي، حکومتي فعالیتونه له مرکزه ولایتو ته ولېږدول شي، د وړتیا لوړولو یو هر اړخیز پروګرام پلی شي، او د ځواب ورکونې بهیر پیاوړی شي. د دغه ډول ستونزو د حل په موخه، د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي (PBP)او د سیمه ییزې حکومتولی راتلونکې پالیسي د پلان او بودیجې جوړولو د بهیرونو پر غیرمرکزي کولو ټینګار کوي. خو په (PBP) کې د حکومتي ادارو مسؤلیتونه په ښه ډول څرګند نه دي، او د پالیسی مسیر او د پلي کولو پلان هم واضحه نه دی او پر نورو داسې پالیسیو او قوانینو ولاړ دی چې د مختلفو وزارتونو او ادارو له خوا باید جوړ شي. لومړنۍ ارزونې ښيي چې د سیمه ییزې حکومتولی راتلونکې پالیسي هم ښایي ورته ستونزې ولري. د خدمتونو په ښه ډول وړاندې کولو لپاره، افغانستان باید د پلان او بودیجې جوړولو بهیرونه غیرمرکزي کړي. دا چې په دغو بهیرونو کې د اجرایوي او تقنیني څانګو په ګډون ګنې بېلا بېلې غاړې ښکېلې دي او دغه راز د حکومت محدودې وړتیا ته په کتو، په پراویز او عمودي ډول د بودیجې د غیرمرکزي کولو بهیر ملاتړ لپاره باید سمونونه په تدریجي ډول پلي شي، او که د ځواب ورکونې مناسب میکانیزم شتون ولري نو په افقي ډول د بودیجې غیرمرکزي کول باید یوازې یوه اوږدمهاله غوراوی وګڼل شي. له دې سره، حکومت باید کابل او ولایتو کې د وزارتونو او ریاستونو مختلفې دندې او دغه راز د پلان او بودیجې لپاره د همغږۍ میکانیزم په واضح ډول تشریح کړي. حکومت باید د ولایتي ادارو وړتیا هم لوړه کړي. د اداري فساد او سرچینو د ضایع کېدو مخنیوي لپاره باید د سیمه ییزې ځواب ورکونې میکانیزمونه پیاوړي شي. اغېزناکه پلان او بودیجه جوړول د خدمتونو وړاندې کولو او پراختیا لپاره اړین دي، ځکه دغه بهیرونه دا وړتیا لري چې د افغانستان د راتلونکي او د حکومت د مشروعیت برخلیک وټاکي[1].

[1] بیژن، نعمت الله او امیل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بودیجی جوړولو بهیرغیر مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۲-۳)

ketabton.com - The Digital Library

**لومړی مطلب ـ د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو بهیر**

سیمه ییزو ادارو ته د لا ډېرو مسولیتونو او بودیجوي سرچنیو د ورکولو له لارې، په ځایي کچه د خدمتونو غوره والي پخاطر د افغانستان وروستۍ پالیسیو څه دپاسه یوه لسیزه مخکې پیل شوې دي. په دغه موده کې، د سیمه ییزو ادارو د پلان او بودیجې جوړولو د بهیرونو غوره والي هڅو سربېره، شته سیستم لا هم د مرکزي حکومت او سیمه ییزو ادارو تر منځ، چې ډېری عامه خدمتونه هلته وړاندې کېږي، پیاوړې مالي اړیکې نه دي رامنځته کړي. د اوسني سیستم او د افغانستان د ولایتي پلان او بودیجې جوړلو پالیسیو د نیمګړتیاوو په اړه د پوهاوي لپاره، مهمه ده چې دغه ستونزې د سیمه ییزې حکومتولۍ او غیرمرکزي کولو بهیر په پراخ چوکاټ کې ووینو. ځکه نو د لیکنې دا برخه حکومتولي، سیمه ییزه حکومتولي او غیرمرکزي کولو بهیر تشریح کوي چې په ملي او سیمه ییزو کچو د حکومتولۍ، پلان او بودیجې جوړولو تر منځ اړیکه وپېژندل شي.

**دوهم مطلب ـ غیرمرکزي کول او سیمه ییزې مالي چارې**

له جګړې وتلو او کمزورو هېوادونو کې د ثبات، بیا رغونې او د خدمتونو وړاندې کولو ترمنځ انډول ساتل ستونزمن کار دی. واقعاً، د سیمه ییزې حکومتولۍ په سمون کې یوه مهمه ننګونه دا ده چې د ملي امنیت او قانون حاکمیت تر منځ انډول وساتل شي، چې په ځایي کچه د مرکزي حکومت پیاوړی حضور او په اغېزناکه ډول د ګټو او خدمتونو وړاندې کولو ته ضرورت لري، او دا ښایي د غیرمرکزي کولو یوه ډول ته اړتیا ولري. امنیت مهم دی، ځکه که دولت اړ وي چې د مرکزي حکومت د مالي سرچینو لویه برخه پر امنیتي سکتور ولګوي نو د ټیټو کچو ادارو ته به د واک او مالي چارو لېږد بهیر محدود وي. له جګړو وتلي او کمزوري هېوادونه عموما هڅه کوي خپلې ادارې په تدریجي ډول غیرمرکزي کړي.

تجربه ښیي چې د غیرمرکزي کولو اغېزناکه ستراتېژیانې له مرکزه د واکونو له اخیستلو پیلېږي او ورو ورو سیمه ییزو ادارو ته پر لېږد خلاصېږي. دا له نورو نظرونو سره سمون لري او لومړۍ ارزونه یا مشاهده لا نوره واضحه کوي چې په جنګ ځپلو هېوادونو کې د ځایي حکومت سمونونه په احتیاط پلي کېږي. له مرکزه د واکونو اخیستل، د منځنې حل په توګه، ځایي ادارو ته د واک د لېږد په پرتله له سیاسي پلوه په پرتلیز ډول ډېر مناسب غوراوی ښکاري، ځکه په دغه بهیر کې ګنې غاړې چې مختلفې ګټې، لېوالتیا او اندېښنې لري ښکېلې وي. د غیرمرکزي سیمه ییزې حکومتولۍ سیستمونو لپاره مالي غیرمرکزیت یا خپلواکي مهمه ده. د واحدو حکومتونو په لومړنیو پړاوونو کې له مرکزي حکومته سیمه ییزو ادارو ته د مالي چارو لېږد هېڅ نه تر سترګو کېږي، په دې معنا چې له جګړې وروسته په لومړنۍ موده کې سیمه ییزه حکومتولي او د حکومت دننه ادارو کې د مالي چارو مدیریت هغه څه نه دي چې تر ډېره پرې پام وشي بلکې په دغه ډول مسئلو په وروسته مرحلو کې غور کېږي. هغو هېوادونو په پراخه ډول د مالي چارو د واک لېږد بهیر خپل کړی چې د غیرمرکزي کولو له ښلا ښېلو ډولونو یې ګټه اخیستې. ان د ( بېک بنک بنې ) غیرمرکزي کولو پالیسیانې، لکه اندونیزیا چې خپلې کړې، یو ډول مالي لېږد په نظر کې نیسي. سیمه ییزو او د حکومتي ادارو تر منځ د مالي چارو

ketabton.com - The Digital Library

سمونونه سیاسي بڼه لري او ملي اجماع، سیاسي مشرۍ او منځدریځې ته اړتیا لري. دا یوه مهمه مسئله ده او یوازې له جګړې وتلو او کمزورو هېوادونو ته محدوده نه ده.[1]

د سیمه ییزې حکومتولۍ چوکاټونو جوړول او د مالي چارو د جوړښت انتخاب د (بدلون) په معنا دی، چې په کې ګڼې اداري او مختلف لوبغاړي ښکېل او له دغه بدلونه اغېزمنېږي. لاندې بحث پر ځو موضوع ګانو راغونډ دی چې افغانستان کې د پلان او بودیجې جوړولو بهیر په تړاو د سمون هڅو لپاره مهمې بریښي. ملي اجماع او مشري مهمې دي. د حکومت له مرکزي سیستمه د یوه نسبتا غیرمرکزي سیستم په لور تګ ښایي د وګړو، سیاستوالو او مختلفو ډلو ترمنځ د هېواد د یووالي په تړاو بحثونه راوپاروي. د سیمه ییزو سمونونو بریالیتوب لپاره د ځایي حکومتولۍ اړونده وزارت ( د مثال په ډول د افغانستان ځایي حکومتولۍ خپلواکه اداره ، د مالیې وزارت ) کافي نه دي. حکومت د وزارتونو، ریاستونو او ادارو ټولګه ده چې هر یو یې له بېلا بېلو وظیفوي، سیاسي او اداري فشارونو سره مخامخ دي. غیرمرکزي کولو بهیر ښایي د سرچینو د وېش په برخه کې د دوی د چارواکو لپاره ستونزمن وي، چې ښایي د اداري رقابتونو او د بدلون پر وړاندې د مقاومت لامل شي. د سمون بهیر پر مهال د بیوروکراټانو ترمنځ د همکارۍ او ګډ کار کلتور رامنځته کول یو ستونزمن کار دی چې باید پام ورته وشي. یو سیمه ییز سمون د اجراییوي څانګې او پارلمان ترمنځ سالم بحث ته هم اړتیا لري[2].

## درېیم مطلب ـ د بودیجې جوړولو بهیر او حکومتولي

حکومتولي تر ډېره د عامه ګټو او خدمتونو وړاندې کولو سره تړاو لري. په منتخبو دېموکراسیو کې، وګړي سیاستوال او سیاستوال بیوروکراټان پیاوړي کوي چې دغه ډول خدمتونه وړاندې کړي. د دې موخې لاسته راوړلو لپاره، مهمه ده چې سرچینې ( د مثال په ډول، د مالیې عایدات او بهرنۍ مرستې ) په اغېزناکه توګه پلان او ووېشل شي. دغه ډول بهیر کې، چې د پلان او بودیجې جوړولو په نامه یادېږي، اړتیاوو ته لومړیتوبونه ټاکل کېږي او د اړتیاو پوره کولو لپاره محدودې سرچینې وېشل کېږي. د عامه ګټو او خدمتونو وړاندې کولو پر مهال او پای کې، چې د بودیجوي بهیر په نامه هم یادېږي، سیاستوال او بیوروکراټان وګړو ته ځواب ورکونکي وي. دا په داسې حال کې ده چې دغه ډول سیستم رسمي ادارو لکه اساسي قانون او نورو قوانینو، او غیررسمي ادارو لکه غیرحکومتي لوبغاړو یا چارواکو محدود کړی او په دغه سیستم کې دودونه هم مهم رول لوبوي. د رسمي (ټاکل شویو سیاستوالو او بیوروکراټانو ) او غیر رسمي لوبغاړو لکه پیاوړو اشخاصو او مختلفو ښکېلو ډلو تر منځ اړیکې مهمې دي. یوه منتخبه دېموکراسي د ګټو او عوایدو لاسته راوړلو په کار کې زیانمنېدای شي، ځکه سیاستوال ښايي وغواړي چې بیا وټاکل شي او بیوروکراټان ښایي د نور قدرت او واک په لټه کې وي، چې تر کومه حده ممکنه ده په خپلو وظیفو او دندو پاتې شي. دا بیا ښایي د ملاتړ سیستم په معنا وي، چې لاسته راغلې پیسې او عواید پر خلکو او یا پر خپلو ملاتړو ووېشي، او موخه یې دا وي چې خپلې او د خپلو رسمي او غیررسمي ملاتړو ګټې خوندي کړي او د هغوی د ملاتړ دوام ډاډمن کړي. د بودیجې سیستم په عمومي ډول تر ډېره د دغه ډول کړنو مخه نیسي. که د لګښت سیستم یو شمېر مشخص اصلونه په پام کې ونیسي، نو وګړي ډاډ ترلاسه کولی شي چې حکومت به د عامه ګټو بودیجه نه ضایع

[1] بیژن، نعمت الله او امیل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بودیجی جوړولو بهیرغیر مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۶-۷)
[2] بیژن، نعمت الله او امیل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بودیجی جوړولو بهیرغیر مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۶ ـ ۱۳)

ketabton.com - The Digital Library

کوي بلکې په ډېر عاقلانه ډول به يې د عامه ګټو توليدولو لپاره مصرفوي. حکومت کولی شي مالومه کړي چې دوی د عامه خلکو بوديجه او پيسي څرنګه لګوي. څکه نو د بوديجې سيستم دا وړتيا لري چې ښه حکومتولي پياوړې يا کمزورې کړي.

د عامه مالي چارو د مديريت د يوه ښه سيستم ځيني اصلونه په لاندې ډول دي:

- بوديجې بايد د مالي چارو قوانينو له مخې ټوليز مالي ډسپلين په پام کې وساتي.
- د سرچينو وېش او ګټه اخيستنه بايد د ستراتېژيکو لومړيتوبونو پر اساس وي، چې د منځمهاله او اوږدمهاله ليدلوري پر اساس د پلان او بوديجې جوړولو د بهير د يوځای کولو له لارې د سرچينو پلانولو ته اړتيا لري.
- د پروګرامونو او خدمتونو وړاندې کولو اغېزمنتيا بايد (د لاسته راوړنو يا پروګرام بوديجې، او ټيټو کچو ادارو ته د واک لېږد ) له لارې وساتل شي.
- د بوديجې ځواب ورکونه او روڼوالی هم بايد (د څار او ارزونې له لارې) وساتل شي.

د دې ترڅنګ، د بوديجې جوړولو بهير کې د وګړو ښکېلول پورته اصلونه نور هم پياوړي کوي. د وګړو له ګډون سره او د ګډ بوديجوي او جنډر ته ژمن بوديجوي سيستم له لارې د حکومتولی چوکاټ بشپړتيا په تېرو دريو لسيزو کې د عامه مالي چارو د مديريت د اجنډا برخه ده. د عامه مالي چارو د ښه مديريت او د وګړو ښکېلتيا اصلونه لاندې په لومړي جدول کې تشريح شوي دي.

**لومړی جدول :د ښې حکومتولۍ لپاره د عامه مالی چارو د مديريت اصلونه:**[1]

| اصلونه | موخه | وسيلې | د بوديجې اړونده دوره | د مـدنـي ټولنـې رول |
|---|---|---|---|---|
| ټوليز مالی ډسپلين | مالي چارې په عاقلانه ډول تنظيمول<br>د سترو اقتصادي چارو ثبات<br>او د پورونو پايښت | د لګښت لوړه کچه<br>د مالي چارو قانون<br>د منځمهاله لګښتونو چوکاټ<br>د عامه مالی چارو د مديريت قوانين<br>د مالي چارو د مديريت مالوماتي سيستم | د بوديجې چمتووالی او جوړول | د بوديجې دفاع يا ملاتړ |
| ټوليز مالي ډسپلين | د بوديجې د لګښت اعظمي کچې ته په پام سره محدودې سرچينې ټاکل شويو مهمو پروګرامونو ته وېشل | پراختيايي پلانونه<br>منځمهاله پروګرامونه<br>ستراتېژيک او عملي پلانونه<br>د لګښت منځمهاله چوکاټ<br>له پانګونو سره د عملياتي او مراقبت لګښتونو يوځای کول | د بوديجې چمتووالی او جوړول | په ګډ ډول بوديجه جوړول<br>د بوديجې دفاع<br>جنډر ته ژمن بوديجوي سيستم |

[1] بيژن، نعمت الله او اميل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بوديجی جوړولو بهيرغير مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۱۰)

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | د مـالي مـديريـت د مالوماتو سيستم د عامه مالي چارو د مديريت قانون | | |
| په اغېزناکه ډول د سرچينو کارول | د پيسو په بدل کې ارزښت<br>اقتصادي اغېزمنتيا<br>اغېزمنتيا او برابري | د ترسره شوي کار او د پروګرام د بوديجې لاسته راوړنو د اندازه کولو سيستمونه<br>د افسرانو نرمي<br>د څرګنـدو قوانينو لـه مخې د دندو لېږد | د بوديجې لګول | د بوديجې څار<br>د عامه لګښتونو د څار سيستم<br>د مالي چارو روڼوالی |
| ځواب ورکونه | د عامو خلکو پيسې په ســـم او قـانوني ډول لګول | د ارزونــې او څــار خپلواکـه اداره( قـانون منل او د مالي چارو او شوي کار ارزونه)<br>د کور دننه کنترول او ارزونې سيستمونه<br>د بوديجوي ســيســتم پارلماني څار | د کال په اوږدو کې کورنۍ او بهرنۍ ارزونې<br>د کال د پای او وروستي حسابونو او لاسته راوړنو رپوټ ورکول | ټولنيزه ارزونه<br>څار او د مالوماتو خپرول<br>د ارزونې او څار دفتر د رپوټونو په اړه د پوهاوي لوړول |

## څلورم مطلب ـ په افغانستان کې ولايتي پلان او بوديجه جوړول

د ادارو د ټولو هڅو او ژمنو سربېره، افغانستان لا هم يو خورا مرکزي حکومت لرونکی هېواد دی چې له کبله يې د حکومت د سيمه ييزو ادارو رول محدود پاتې شوی. پدې خاطر د سيمه ييزې حکومتولی شته چوکاټ، د څرګندو اصلونو د نشتوالي له کبله، په ولايتي او د ښاروالیو په کچه د واک د لېږد ډېر کم فرصت برابروي. په افغانستان کې د مرکزي حکومت د پياوړي کولو په لوړه ميلان د نورو له جګړو وتلو او کمزورو هېوادونو مثالونو ته ورته ښکاري. لکه مخکې چې پرې بحث وشو، داسې ښکاري چې د امنيت اندېښنه تر ټولو مهمه مسئله ده چې دغه ډول مرکزي ميلانونو کې رول لوبوي. په ځايي کچه ټيټه وړتيا، د واک لېږد په اړه د وزارتونو مقاومت، او د اداري فساد د خپرېدو وېره هم د غير مرکزي کولو بهير کمزوری کوي.

د پلان او بوديجې جوړولو د بهيرونو سمون په برخه کې دوو فکتورونو مرسته کړې ده. لومړی، يوه خورا مرکزي اداره خلکو ته خدمتونه د تمې پر اساس نه شي وړاندې کولی. حکومت پوهېږي چې د عامه خدمتونو معيار بايد لوړ شي، په ځانګړي ډول په يوه داسې چاپېريال کې چې امنيتي وضع په کې ورځ تر بلې خرابېږي، تر څو وکولی شي د طالبانو پر ضد د خلکو فکرونه او زړونه خپل کړي. د مثال په ډول، پخواني ولسمشر حامد کرزي په دې اړه ويلي، (د ملي او سيمه ييزې حکومتولی پياوړي کول او د قضـا سيستم بيا رغول زموږ له ستونزمنو کارو څخه دي) دوهم، د بوديجې دننه د مرستندويه ادارو مرستې په پوره ډول نه لګول کېږي، چې د نورو لاملونو تر څنګ يې يو لامل د حکومت محدوده وړتيا

ketabton.com - The Digital Library

او د تدارکاتو پېچلی سیستم دی. پایله دا ده چې د پراختیا بودیجې ډېره کمه برخه مصرف شوې چې کچه یې تر ۵۰ سلنې ټیټه ده[۱].

د سیمه ییزې حکومتولۍ په تړاو د ځینو اندېښنو د حل لپاره، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره په ۲۰۱۰ م کال کې د سیمه ییزې حکومتولۍ پالیسي جوړه کړه. خو، د پالیسۍ د ۴۰۰ مخونو دغه سند په بشپړ ډول پلی نه شو، او لامل یې تر ډېره د پالیسۍ پېچلتیا، سیاسي ګونګوالی، او اداري کمزورتیا او بې پروایي وه، چې له جګړې وتلو او کمزورو هېوادونو کې د سیمه ییز سمون پر مهال دا عادي مسئلې ګڼل کېږي.

## پینځم مطلب ـ اداري جوړښت او لوبغاړي

افغانستان یو واحد حکومت لري چې اداره یې مرکزي ده او د رسمي او غیررسمي لوبغاړو یا چارواکو او ادارو اړیکې په کې مهم رول لوبوي. رسمي ادارو کې په کابل کې اړوند وزارتونه او ریاستونه، والیان او اړوندې څانګې ( لکه ولایتي شوراګانې، او ولسوالان او د ولسوالیو اداري شاملې دي. په سوېلي اسیا کې د یو شمېر نورو هېوادونو په خلاف، افغانستان کې ولایتي اداري د حکومت د یوه بیلې عمودي څانګې په توګه فعالیت نه کوي، او په افقي ډول له ولایتي ادارو سره تړلي نه دي. په افغانستان کې په ولایتي سطحه، د اړوند وزارت ریاستونه محدود واک لري، او د پلان او بودیجې په تړاو نږدې ټولې پرېکړې په کابل کې کېږي. د والیانو او ولسوالانو رسمي رول کمزوری خو غیر رسمي رول یې پیاوړی وي. که ټول نه وي نو ډېر یې عموماً له خپلو محدودو رسمي دندو بهر حرکت کوي او له ولسمشر سره د خپلو شخصي اړیکو، قومي اړیکو او قانوني او غیرقانوني عایداتو پر مټ خپل غیررسمي واک کاروي. والیان د مرستو په لاسته راوړلو کې هم فعاله ونډه لوبوي. په ولایتي پراختیا کمېټې کې د اړوندو وزارتونو ولایتي رئیسان شامل وي. والیان د ولایتي پراختیا کمېټو غونډو مشري کوي، او د اقتصاد ریاست چارواکي یې د سکرتریت رول پر مخ وړي. د ولایت د پراختیا د کمېټو دنده دا ده چې په ولایتو کې د وزارتونو فعالیتونه همغږي کړي. او د ولایت د پراختیا پلان چمتو کړي. والي کولی شي چې د ولایتي پراختیا کمېټې غونډو ته د ولایتي بیارغونې ټیمونو استازي، غیرحکومتي اداري او د مدني ټولنو غړي ( د رای نه ورکونکو غړو په توګه ) وبولي چې د پراختیا په فعالیتونو کې د ټولو ښکېلو غاړو تر منځ غوره همغږي ډاډمنه شي. په سیمه ییزه کچه ولایتي شورا یوازینۍ ټاکل شوې اداري دي او د دوی رول ګونګ دی. د اساسي قانون پر بنسټ، ولایتي شورا د حکومت د پراختیا موخو لاسته راوړلو او د قانون په تطبیق (د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸ مه ماده، اتم فصل او څلورمه ماده ) کې ونډه لوبوي. د ولایتي پراختیا د پلان په کچه د دوی د سلا مشورې رول په عمومي ډول کمزوری وي. د ۲۰۱۰ م کال د سیمه ییزې حکومتولۍ پالیسۍ او د ۲۰۱۵ م کال د سیمه ییزې حکومتولۍ پالیسۍ لومړۍ بڼه سپارښتنه کوي چې د دوی رول باید پراخه شي چې د والیانو فعالیتونه وڅاري خو دغه مسئله په تېر کې په ملي او سیمه ییزو کچو لانجمنه ثابته شوې ده. [۲]

د مرکزي حکومت ادارو ترڅنګ، ښاروالۍ د رسمي ادارو بله سطحه ده چې د ولایتي اداري برخه ګڼل کېږي. اوسمهال، دغه ښاروالۍ ټاکل شوي ښاروالان او غړي نه لري. ښاروالۍ ځایي

---

[۱] بیژن، نعمت الله او امیل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بودیجی جوړولو بهیرغیر مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۱۳)

[۲] بیژن، نعمت الله او امیل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بودیجی جوړولو بهیرغیر مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۱۱)

ketabton.com - The Digital Library

حکومتونه دي، ځکه دوی د خپلو عایداتو لاسته راوړلو او خپلې بودیجې جوړولو قدرت لري. دوی د ښـاروالی د یوه پخواني قانون پر اساس فعالیت کوي چې اوس به یې ځای یو نوی قانون ونیسـي چې له مخې به یې ښـاروالان او سـیاسـي چارواکي ټاکل کیږي. د دوی د کار د خرابېدو عمده لامل د بودیجې کمی او د ښاروالیو کمزورې وړتیا ده. ځیني نیمه حکومتي اداري د مرستندویه ادارو لکه د ملي پیوستون پروګرام له خوا تمویلیږي. دوی د ولسوالی او کلي په کچه د غیررسمي حکومتولی جوړښت برخه دي. د کلیو په کچه د ټولنیزې پراختیا شوراګانې کلیوالي بیارغوني او پراختیا وزارت له خوا چلول کیږي، دا شـوراګاني د کلیوالو ټولنو له خوا ټاکل کیږي چې د ځایي ټولنو د اړتیاوو پوره کولو په موخه د ځایي پروژو په ډیزاین، تطبیق او څار کې برخه واخلي. غیررســـمي دودیز جوړښـــتونه د افغانســـتان له ځانګړتیاوو دي چې د حکومتولی ګڼ دودیز ډولونه لري. دغه جوړښتونه چې د رسمي ادارو ملاتړي یا ان مخالف دي، له ډېر پخوا راهیسې شتون لري. دوی مختلف نومونه او وړتیاوې لري، لکه جرګې او شوراګانې، دا موقتي میکانیزمونه دي او تر ډېره په ځایي سطحه شخړې هوارول، د دغو میکانیزمونو غړي کله کله د ولایتي چارواکو او ځایي ټولنو ترمنځ منځګړتوب کوي. بهرني مرستندویان د افغانستان د حکومتولی سیسـتم بې سـارې ځانګړنه ده چې پوځي او پراختیایي مرسـتې کوي. مرسـتندویان د on-budget) بودیجې د ننه) او (off-budget له بودیجې بهر) میکانیزمونو له لارې له ملي بودیجې سره مرسته کوي ځکه نو د حکومتي ادارو سیستم له پامه غورځوي. دغه ډول مرستو بودیجه پاشلې او د مرسـتو همغږي یې ګرانه کړې ده. د رسـمي او غیررسـمي لوبغاړو ګټوالي او د on-budget او off-budget فعالیتونو له لارې د عامه لګښـتونو جوړښـت د بودیجې جوړولو بهیر د ضـایع کېدو او شخصـي ګټو پر وړاندې زیانمن کړی دی. د رسمي او غیررسمي لوبغاړو ترمنځ د قدرت پر سر د اړیکو یوې پېچلې شـبکې حالت تت کړی دی. که څه هم رسـمي لوبغاړي ( ټاکل شـوي سیاسـتوال ) د خلکو سیاسي استازي دي او د عامه خدمتونو چارواکي( لکه د وزارتونو چارواکي، والیان، ولسوالان ) په ملي او سیمه ییزو کچو د سیاستوالو ګومارل شوي مدیریتي استازي دي، د ځواب ورکونې پر وړاندې د ګټو ټکر یوه عمده اندېښـنه ده. په داسـې حال کې چې رسـمي لوبغاړي باید خلکو ته ځواب ووایي، خو د یوه کمزوري هېواد د تاریخي حالتونو او پاشـل شـویو ټولنیزو جوړښـتونو له کبله، دوی عامه خدمتونو ته د ژمنتیا پر ځای تر ډېره خپل ګوند، قومي ډلې یا قبیلې ته ژمن وي[1].

د مالي چارو غیرمرکزي کول په دې معنا چې د لګښـتونو او د عایداتو لاسـته راوړلو چارې د مرکزي حکومت د وزارتونو ټیټو پوړونو ته ولېږدول شـي، په داسـې حال کې چې مرکزي وزارتونه لا هم پر دوی کنترول ولري. په یوه واحد هېواد کې، ټیټ پوړونه عموما ولایتونه او ولسـوالی دي. خو د تطبیق ستونزو په نظر کې نیولو سره، د ولسوالی کچې ته د مالي چارو لېږد ډېر کم تر سترګو کیږي. د مثال په ډول یو لوړ شمېر ولسوالیو ته لاسرسی ښایي ستونزمن وي او څار یې شاید ډېر مصرف ولري. ځکه نو، دغه ډول واک په عمومي ډول ولایتو ته ورکول کیږي. له دې امله، د ولایتي بودیجې جوړولو اصطلاح د مالي چارو د غیرمرکزي کولو معنا هم لرلی شـي. د ولایتي بودیجو یوه مهمه ځانګړنه دا ده چې ولایتونه عموما ځانته جلا بودیجه لري. ځکه نو ولایتي بودیجه د حکومت ولایتي ادارو ته قدرت ورکوي چې خپله بودیجه پخپله وټاکي ، (د مرکز د قوانینو او لوړې کچې په رڼا کې او د خپلو سرچینو

---

[1] بیژن، نعمت الله او امیل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بودیجې جوړولو بهیرغیر مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۱۲)

ketabton.com - The Digital Library

د عايداتو پر اساس) د افغانستان په بوديجوي سيستم کې ولايتي ادارو ته د عايداتو لاسته راوړلو د قدرت لېږد شامل نه دی. يوازې ښاروالۍ د عايداتو لاسته راوړلو واک لري. لکه مخکې چې يادونه وشوه افغانستان ولايتي بوديجې نه لري. په دې توګه، سيمه ييزو واحدونو ته د لګښتونو د مديريت واک لېږد ډېر محدود دی، او هېڅ ترلي يا جامع ولايتي بوديجې نه لري.

## دوهم بحث ـ د غيرمرکزي ولايتي بوديجو غوراوی : د بوديجې عمودي او افقي ډولونه

ولايتي بوديجې په اساسي توګه په دوه ډوله دي چې د عمودي يا افقي غيرمرکزي سيستمونو له مخې ترتيب شوي دي. چې په دې کې افقي جوړښتونه دوه طبقې لري. په ملي کچه د سرچينو د وېش په توګه، د اړوندو وزارتونو د همغږۍ کار د ماليې او اقتصاد وزارتونه پر مخ وړي. په ولايتي کچه په کې والي د همغږۍ مسئوليت لري. د غيرمرکزي بوديجوي سيستم ډولونو په برخه کې، د عمودي او افقي بوديجو مهمې ځانګړې لاندې ښودل شوي دي.

**الف : عمودي غيرمرکزيتوب:** په دې ډول کې، سرچينې د( سيلو ) په توګه جريان پيدا کوي چې د اړوند وزارتونو له بوديجې د ولايتي اداره برخه ټاکل کېږي. د سيلو جوړښت په خپله اصلي بڼه کې ولايتي اداره ته د لګښت هېڅ يا ډېر کم واک ورکوي. په افغانستان کې د بوديجې جوړښت د سيلو اصلي بوديجوي سيستم ته ورته دی چې په ولايتي کچه د لګښت اکثريته پرېکړې بايد په مرکز کې د اړوندو وزارتونو له خوا مخکې له مخکې منظورې شي. کمبوډيا عمودي غيرمرکزي بوديجوي سيستم لري. دا ډول غيرمرکزيت ولايتي ادارې ته فرصت ورکوي چې د اړوندو وزارتونو له خوا د ولايتي بوديجې د ټاکل شوې اعظمي کچې په نظر کې نيولو سره، ځانته خپله بوديجه ولري. ( د بوديجو د فرعي واحدونو په توګه) د مرکزي سيستم په خلاف، پارلمان نه يوازې په مرکز کې د وزارتونو بلکې د سيمه ييزو ادارو بوديجه هم منظوروي. د افغانستان په توګه، عمودي غيرمرکزيت کولی شي د سيلو سخت جوړښت په پام وړ اندازه نرم کړي او ولايتي اړوندو چارواکو ته فرصت ورکړي چې د اساسي قانون پر بنسټ د مالي سرچينو په برخه کې يو څه اندازه واک او قدرت لاسته راوړي. خو په مرکز کې د وزارت او ولايت کې د رياست ترمنځ اړيکه بيا هم ټينګه ساتل کېږي.

**ب : افقي غيرمرکزيت:** موزمبيق د غيرمرکزيت افقي بڼه غوره کړه، په دې توګه، د مالي چارو غيرمرکزي کول په دې معنا دی چې د بوديجو واک د واحدو بوديجو په توګه واليانو ته ورکړل شي. دغه واحدې بوديجې د اړوندو ولايتونو لپاره د وزارتونو له بوديجو اخيستل شوي وي چې والي ته د مالي چارو په برخه کې د پام وړ واک ورکوي. ځکه نو ولايتي اداره د والي لاس لاندې کار کوي او مرکزي حکومت سره يې اړيکې کمزورې وي. په داسې حال کې چې دغه سيستم په سيمه ييزه کچه د لا ډېرې همغږۍ لامل کېږي، خو ښايي د سيمه ييزو اړوندو رياستونو او وزارتونو تر منځ اړيکې کمزورې کړي. د حکومتولۍ شته چوکاټ ته په پام سره، په افغانستان کې، په نږدې راتلونکې کې دغه غوراوی مناسب نه دی ځکه ډېر امکان شته چې سرچينې د شخصي ګټو او ملاتړ لاسته راوړلو لپاره وکارول شي. په افغانستان کې، په راتلونکې کې د افقي غيرمرکزيت دغه غوراوی هغه مهال مناسب ګڼل کېدی شي چې د واليانو د ځواب ورکونې ډاډ ترلاسه شي. افغانستان ته چې د غيرمرکزيت هر موډل يا ډول په نظر کې نيول کېږي، که د چارواکو تر منځ اړيکې او مسئوليتونه څرګندې نه وي نو پر

ketabton.com - The Digital Library

وړاندې يې خنډونه پورته کېدای شي. چې د واليانو او اړوندو وزارتونو ترمنځ د قدرت پر سر لانجې بنايي د عامه خدمتونو وړاندې کولو بهير ګډوډ کړي. [۱]

## لومړی مطلب ـ د افغانستان د ملي او سيمه ييزې بوديجې او پلان جوړولو بهير

سيمه ييزې مالي چارې په عمده ډول د اساسي قانون، د عامه مالي او لګښتونو چارو د مديريت قانون، او اړوندو نورو قوانينو له لورې کنټرولېږي. د افغانستان اساسي قانون ( ۲۰۰۴ ) د افغان حکومت ټوليز مسئوليتونه په ګوته کوي چې بايد کلنۍ بوديجه چمتو کړي ( ۷۵ مه ماده) او پارلمان بايد دغه بوديجه منظوره کړي ( ۹۰ مه ماده)، دغه راز هغه طرزالعملونه په ډاګه کوي چې د بوديجې د منظورۍ د ځنډېدو په صورت کې بايد په نظر کې ونيول شي، ( ۹۸ مه ماده) د عامه مالي او لګښتونو چارو د مديريت قانون( چې په ۲۰۰۵ م کال کې ومنل شو ) د عامه مالي چارو قانوني بنسټ جوړوي او د عامه مالي چارو د مديريت په تړاو د وزارتونو، ادارو او خزانې مسئوليتونه ښاري، دغه راز د عامه شتمنيو، پور او پلور، د بوديجې جوړول او منظوري، د بوديجې مصرف، د بوديجې د برخو ټاکل او بياکتنه، او محاسبه او کنټرول هم ښاري.

د عامه مالي او لګښتونو چارو د مديريت قانون له مخې بايد کلنۍ بوديجه د يو ګڼ - کليز چوکاټ پر اساس جوړه شي. دغه چوکاټ د منځمهاله مالي چارو چوکاټ په نامه يادېږي. دغه قانون د بوديجې په جوړولو او مصرفولو کې مهم مسئوليت د ماليې وزارت ته ورکوي.

د عامه مالي او لګښتونو چارو د مديريت قانون دوهمه ماده هم يادونه کوي چې د حکومت ټولې اداري ( د وزارتونو او ولايتونو په ګډون ) بايد د بوديجې او لګښتونو په تړاو د دغه قانون د طرزالعملونو پر اساس فعاليت وکړي. خو دغه قانون د سيمه ييزو مالي چارو مديريت ميکانيزمونه په واضحه ډول نه تشريح کوي. د ماليې وزارت ته مسئوليت ورکړل شوی چې بوديجه جوړه او د لګښت چارې يې همغږې کړي. د دغه بهير د يوې برخې په توګه، د مرکز او ولايتو ترمنځ د بوديجې په تړاو اړيکې د فرعي قوانينو له خوا کنټرولېږي. کابينې ( د ۲۰۰۶ م کال جولای کې ) د مالي چارو قوانين هم منظور کړل چې د بوديجې جوړولو، مصرفولو، بانکي مسئلو او د نغدو پيسو مديريت، پېر او پلور، شتمنيو مديريت، محاسبې او رپوټ ورکولو، د ښارواليو مالي چارو، او کنټرول او ښار په څېر مسلو په اړه مشخصې لارښوونې لري. دغه قوانين د بوديجې واحدونو او د هغو چارواکو ترمنځ د اړيکو يو لا نور تفصيلي چوکاټ جوړوي چې د مالي چارو مديريت کې ښکېل دي. دغه قوانين يا مقررې اړوند وزارتونه د ( بوديجې عمده واحدونو )په نامه او ولايتي اداره د (بوديجې فرعي واحدونو ) په نامه يادوي چې د بوديجې د عمده واحدونو لاس لاندې کار کوي. خو د افغانستان په تړاو، دغه مسئله يو څه ناڅرګندتيا رامنځته کوي.

---

[۱] بيژن، نعمت الله او اميل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کې د پلان او بوديجې جوړولو بهيرغير مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۱۳ -۱۴)

ketabton.com - The Digital Library

## دوهم مطلب ـ د بودیجې عمده او فرعي واحدونه

د ولایتي بودیجې په غیرمرکزي ډول کې، د بودیجې د عمده واحد اصطلاح اړوندو وزارتونو ته اشاره کوي چې خپله برخه په مخامخ ډول له ملي بودیجې لاسته راوړي. د بودیجې فرعي واحدونه په بشپړه توګه خپلواکه نه دي او دوی د اړوند وزارت یا بودیجې عمده واحد لاس لاندې کار کوي. په بله معنا، ولایتي اداره د یوه ټرلي ( طبقه یي ) ادارې په توګه فعالیت کوي چې د خپل اړوند وزارت یوه برخه ګڼل کېږي. ( معنا خپله ځانته کوم قانوني حیثیت نه لري.) دوی د محاسبې د رسمي ادارې او ملي بودیجې له خوا د بودیجې د فرعي واحدونو (یعنې فرعي ادارو) په توګه منل شوي دي.

د افغانستان مالي مقررې د بودیجې فرعي واحدونه په واضح ډول نه دي تشریح کړي. د مثال په ډول، ۱۶ مه ماده ( ۱ ) وایي چې ( د مالیې وزارت باید د بودیجې عمده واحدونو ته هغه طرزالعملونه ورکړي چې له مخې یې بودیجه جوړه او د مالي کال لپاره د بودیجې د وېش اندازه مالومه، او د بودیجې د مصـرف اعظمي کچه، د کابینې د منظورۍ پر اسـاس، څرګنده شـي) خو د ( بودیجې فرعي واحد ) اصطلاح یوازې یو ځل په متن کې یاده شوې ده. دغه راز ۳۴ مه ماده ( ۳ ) وایي چې ( د مالیې وزارت باید د خزانې د وېش دفترونو له لارې د بودیجې د ټاکلو په اړه سـپارښـتنه وکړي او د بودیجې فرعي واحدونو ته واک ورکړي چې د لګښتونو په تړاو ژمنې وکړي) ځکه نو څرګنده نه ده چې ولایت کې د ریاستونو فعالیتونه تر کومه برید د بودیجې د فرعي واحدونو په څېر ګڼل کېږي.

نور قوانین چې د عامه تدارکاتو چارې کنټرولوي، د تدارکاتو قانون ( ۲۰۰۸ او په ۲۰۰۹ کې اصـلاح شـوی ) او د عامه تدارکاتو لپاره د طرزالعملونو قوانین ( ۲۰۰۷ ، او په ۲۰۰۹ کې اصـلاح شوی ) دي. دغه قانوني چوکاټ د هغو وسایلو، کارونو او خدمتونو( د سلاکارۍ خدمتونو په ګډون ) پر تدارکاتو د تطبیق وړ دی چې ملي او سیمه ییزې ادارې، ښـاروالۍ، او نور واحدونه یې د عامه ګټو له بودیجې تمویلوي. په داسې کال کې چې د بودیجې ترتیب او لګښت، د تدارکاتو په ګډون، په اساسي ډول د پورته یاد شوي قانوني چوکاټ په نظر کې نیولو سره پر مخ وړل کېږي، د څار د نوې سترې ادارې قانون( د ۲۰۱۳ م کال فبرورۍ ) بیا بهرنی څار او ارزونه د څار د سترې ادارې له لارې کنټرولي.[۱]

## درېیم مطلب ـ د بودیجې ترتیبولو او اجرا کولو بهیر

افغانسـتان د وزارتونو، ریاسـتونو، او خپلواکو آمریتونو یا واحدونو په ګډون ۵۴ بودیجوي واحدونه لري. بودیجه دوه برخې لري: اجرایوي بودیجه (معاشونه او د ادارې او مراقبت لګښتونه) او د پراختیایي بودیجه (سـترې پانګونې) دا چې بهرنۍ مرسـتې د حکومتي بودیجې له لارې او له بهره کېږي، نو دغو مرستو د بودیجې جوړښت پاشلی دی. ځکه نو بودیجه پر اصـلي بودیجې، چې حکومت یې تنظیم او کنټرول په لاس کې لري ( او د اجرایوي او پراختیایي بودیجې ځینې برخې هم په کې شاملې دي)، او بهرنۍ بودیجې، چې مرسـتندویان یې د حکومتي بودیجې له سـیسـتمه بهر په مخامخ ډول کنټرولوي، وېشل شوې ده. هغه پروژې چې د غیرحکومتي ادارو، ملګرو ملتونو او د مدني ټولنې ادارو له خوا پلې شـوې، له بودیجې بهر ( off-budget) بلل کېږي. د ۲۰۰۲ او ۲۰۱۰ کلونو ترمنځ، شـاوخوا ۸۲ سلنه مرستې له بودیجې بهر ( off-budget) میکانیزم له لارې جریان وموند. حکومت د

[۱] بیژن، نعمت الله او امیل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بودیجی جوړولو بهیرغیر مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۱۵ ـ۱۶)

ketabton.com - The Digital Library

اجرايوي بوديجې، پراختيايي لګښــتونو چې له کورنيو عايداتو تمويلېږي، او د بوديجې دننه ( on- budget ) پراختيايي مرستو يوې برخې چې ازادې مرستې نومول شـوې، بشـپړ واک په لاس کې لري. واقعاً افغانسـتان په خورا لوړه کچه پر بهرنيو مرسـتو متکي دی چې د ۲۰۰۵ او ۲۰۱۱ کلونو ترمنځ دغو مرستو د ناخالصـو عايداتو ۷۶ سلنه جوړوله او د مرستو لوړه برخه (څه د پاسـه ۵۰ سلنه ) پر امنيتي سکتور لګېدلې ده.[1]

## څلورم مطلب ـ د بوديجې ترتيب او ولايتونه

د بوديجې د ترتيب بهير نه يوازې يو تخنيکي بلکې يو خورا سـياسـي بهير هم دی چې د ګڼو مختلفو ډلې او حکومتي اداري په کې د سرچينو لاسته راړلو لپاره سيالي کوی.

د بوديجوي لومړيتوبونو په اړه بنـايي د سياسي لوبغاړو او بيوروکراتانو تمې په ټکر کې وي. د دې مسئلې د حل لپاره دواړه، تخنيکي چارو ته پام او د اجماع رامنځته کول مهم دي. د بوديجې بهير په اسـاسـي ډول يو تکراري بهير دی چې په کې شـته بوديجې ته په پام سـره د عامه پاليسـۍ هدفونه ټاکل کېږي. په دې تړاو، وزيران د خپلو بوديجو وړانديزونه سـپاري، او د ماليې او اقتصــاد وزارتونه دغه وړانديزونه ارزوي او د اصــلاح لپاره يې بېرته لېږي. د بوديجې وړانديزونو لېږد رالېږد ترهغو دوام کوي چې هوکړه پرې وشـي. دغه تکراري بهير وخت، ښـو اړيکو او مخابرو، او د مسـئوليت څرګندو لارو ته اړتيا لري چې د بوديجې واحدونه، د ماليې وزارت او د اقتصـاد وزارت په پرانيسـتې او آزاده ډول سره خبرې اترې وکړي او د يو بل قانع کولو لپاره خپل دلايل وړاندې کړي او يوې مناسبې پايلې يا حل لارې ته سره ورسېږي. ان که يو وزارت يا د وزارت ټيټ پوړ ( افغانستان کې ) ولايتي اداره و نه شـي کولی چې خپله غوښـتنه لاسته راوړي، بيا هم بايد دا ډاد ترلاسـه کړي چې د بوديجې د جوړولو بهير عادلانه او روڼ و او دا چې د دوی پر وړانديز غور شـوی او نورو رياستونو ته په پام سره، دوی ته په يوه بې پرې ډول ځواب ورکړل شـوی دی. د خبرو اترو او بحث له بهير وروسـته، دوی بايد لږ ترلږه د خپلو بوديجو د کچې ټاکلو د دلايلو، حقايقو او خنډونو په اړه وپوهېږي. دا کار د بوديجې واحدونه هڅوي چې د خپلې بوديجې مسـئوليت په غاړه واخلي، بوديجه خپله وګڼي او دغه ټول بهير ته درناوی ولري. ګڼې ښکېلې غاړې ښايي دغه بهير له پامه وغورځوي، ځانونه ګوښه شوي احساس کړي او خپله لېوالتيا او تشـويق له لاسـه ورکړي. که مناسـب ځواب ور نه کړل شـي، دوی ښـايي فکر وکړي چې وړانديزونه يې په سم ډول نه دي کتل شوي او دا ښايي دوی اړ کړي چې د خپلو پروژو د تمويلولو پخاطر د بوديجې نورې لارې ولټي. د پورته ياد شوي چوکاټ پر اساس به د افغانستان بوديجوي بهير ته بيا کتنه کېږي چې په عمومي ډول د دغه بهير نيمګړتياوې او د سـيمه ييزو ادارو دندې او فعاليتونه په نښــه شــي. بحث پر دريو موضــوع ګانو راغونډ دی: د معلوماتو جريان چې ولايتي پراختيا پلان له بوديجوي بهير ســره تړي، د بوديجې د ترتيب بهير، او وزارتونو او ولايتي اداره ترمنځ د اړيکو او همغږۍ ميکانيزمونه.

[1] بيژن، نعمت الله او اميل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بوديجې جوړولو بهيرغير مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۱۶)

ketabton.com - The Digital Library

## پینځم مطلب ـ د بودیجې منظوري او ولایتونه

کله چې د تخنیکي بودیجي لومړی بڼه چمتو شــي، نو د بودیجې د منظورۍ بهیر هغه مهال پیلیږي چې پر اجرایوي بودیجې قانوني بحث ترسـره شـي او بالاخره د قانون برخه شـي. دا پړاو هغه مهال پیلیږي چې اجرایوي څانګه په رسـمي ډول بودیجه مقننه پلاوي ته وړاندې کړي. بیا مقننه پلاوی پر بودیجې بحث کوي، چې ښایي دا بحث علني وي او د مقننه کمېټې له خوا په کې رای اچونه هم ترسره شي. دغه بهیر هغه وخت پای ته رسېږي چې بودیجه یا په اصلي یا اصلاح شوې بڼه د مقننه پلاوي له خوا ومنل شـي. دا امکان هم شـته چې مقننه پلاوی وړاندې شـوې بودیجه رد کړي، او په ځینو هېوادونو کې ښـایي د رد شوې بودیجې پر ځای مقننه پلاوی پخپله بودیجه جوړه او وړاندې کړي. افغانستان کې د اسـاسـي قانون پر بنسټ، مقننه پلاوی حق لري چې د بودیجې د منظورۍ کار تر یوې میاشتې وځنډوي. په حقیقت کې، د افغانسـتان د مالي چارو د مدیریت مالوماتي سـیسـتمونه د هر بودیجوي واحد او د هر ولایت د بودیجې برخه بېله ثبتوي. دغه راز، د هر لګښـتي کوډ، پروګرام، او هرې پراختیایي/اجرایوي بودیجې مالومات هم بېل ثبتېږي.[1]

## شپږم مطلب ـ د بودیجې اجراء او ولایتو لپاره یې عواقب

د بودیجې له منظورۍ وروسته د بودیجې د اجرا مرحله پیلیږي. اړوندو وزارتونو ته ځانګړې شوې بودیجې بیا د همدغو وزارتونو له خوا پر ولایتي اداره وېشل کېږي.

وزارتونه په عمومي ډول د پخوانیو هوکړو پر اسـاس خپلې بودیجې ولایتي ادارې ته ورکوي خو د وېش لپاره کوم څرګند بهیر نشـته. د مالیې وزارت د سـرچینو د عمودي او افقي وېش لپاره هېڅ راز مناسب معیار یا فورمول نشته، د مالیې وزارت په تېر کې د وېش کچو په نظر کې نیولو سره سرچینې وېشـي، او په دغه بهیر کې د انفلاسیون لپاره یوه اندازه سمون، د اسعارو د راکړې ورکړې کچه، او د اړوندو وزارتونو د اجرا وړتیا هم په پام کې نیســي. ځکه نو د پارلمان غړو د اروزنې او نظرونو ترڅنګ، وزارتونو ته د سـرچینو وېش د پورته یاد شـوي معیارونو پر اســاس ترسـره کېږي. د دې ترڅنګ، د بودیجې د اجرا ټیټه کچه، چې د لګښتونو د مدیریت د اغېزمنتیا ښکارندویي کوي، یوه ننګونه ده. د بودیجې د اجرا د ټیټې کچې لاملونه تر ډېره د مالیې وزارت او ولایتي ادارې محدوده وړتیا، د مالیې وزارت له خوا د بودیجې د لېږد بهیر کې له اندازې ډېره بیوروکراسـي، د پارلمان لخوا د بودیجې منظوري په ځنډ ، او ځینې وخت د مرسـتندویانو په ژمنو کې ځنډ دی. د دې ترڅنګ، د تدارکاتو په بهیرونو کې له اندازې ډېرې بیوروکراسی او پیچلتیاوو د بودیجې د اجرا بهیر کمزوری کړی دی.

د بودیجې د ترتیب او اجرا په بهیرونو کې د ولایتي ریاستونو او والیانو ناڅرګند رول په بودیجوي بهیر کې لا نور او د پام وړ ځنډ لامل کېږي. په ولایتي کچه د بودیجې د اجرا بهیر متنوع ښـکاري خو داسې معلومات یا اسناد نشته چې دغه چاره تائید کړي. ان د مالیې وزارت هم د ولایتي بودیجې په اړه د معلوماتو په ورکولو کې پاتې راغلی. په ولایتي کچه د بودیجې اجرا او د تدارکاتو د بهیرونو یو شـمېر مهمې ځانګړنې په لاندې ډول دي:

---

[1] بیژن، نعمت الله او امیل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بودیجی جوړولو بهیرغیر مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۲۱)

ketabton.com - The Digital Library

- د اجرايوي بوديجي د معاشـــونو برخه په ولايتو کې لګول کيږي. په مرکز کې له اړوندو وزارتونو څخه د ټاکل شـوې بوديجې له لاسـته راوړلو وروسـته ولايتي رياسـت د معاشـونو د ورکولو واک لري، پرته له دې چې نوره منظوري وغواړي.
- د عملياتو او مراقبت د لګښــتونو په تړاو، ولايتونه په مرکز کې د وزارت له منظورۍ پرته محدود قدرت لري، او د تدارکاتو اعظمي کچه د واليانو لپاره تر ۱۰ زرو امريکايي ډالرو او رئيسانو لپاره له زرو تر دوو زرو امريکايي ډالرو ده.
- پراختيايي بوديجه د کابل له لورې مصرفيږي. تر هغه بريده چې مالومه ده، په دې تړاو ولايتي رياستونو ته د لاسليک هيڅ واک نه دی ورکړل شوی.

خو د ټولو پراختيايي لګښتونو د قراردادونو ورکولو او د عملياتي او مراقبت لګښتونو، چې د ولايتي رئيســانو او واليانو د لاســليک له حده وتلي وي، د واک يوائينۍ مرجع وزيران دي. په عمومي ډول، دوی خپل واک نه لېږدوي، پرته له يو څو وزيرانو چې يوه اندازه واک يې خپلو مرسـتيالو وزيرانو ته ورکړی دی. دا ښــايي يو له دلايلو وي چې د پراختيايي لګښـتونو د اجرا کچې ولې دومره ټيټې دي. د واليانو بالفعل رول هم د ولايتي بوديجې د اجرا ستونزو يو لامل ګڼل کيږي. داسې قضيې شته چې په کې واليان د لګښــتونو لپاره خپله منظوري کاروي، که څه هم په ځينو ولايتو کې د دغه کار واک د ولايتي اداري رئيسانو ته ورکړل شوی دی. لکه چې مخکې يادونه وشوه، واليان له مرستندويانو off-budget يا له بوديجې بهر مرستې هم لاسته راوړي.

## اووم مطلب ـ د ارزوني او پلټنې بهير

لګښــتونه له دوو لارو کنترولېږي، په عمده ډول د کورنيو او بهرنيو ارزونو او پلټنو له لارې. هر وزارت د کورنۍ ارزونې او پلټنې واحدونه لري. د ماليې وزارت د هر لګښـــتي واحد لپاره يو کنترولونکی ټاکي چې د ماليې وزارت ته د بوديجې د برخې وړانديز له سـپارلو مخکې په وړانديز کې شته تېروتنې سموي او د مالي قوانينو تطبيق ډاډمنوي. دغه کنترولونکي د بوديجو په فرعي واحدونو کې هم د سرچينو لګښت کنترولوي. خو د ماليې وزارت او د څار او ارزونې ستره ادارې ترمنځ يو شمېر مشــترکې دندې شــته چې د ارزونې او پلټنې بهير او د ماليې وزارت اود څار او ارزونې ســتره اداره دندې تتوي.

## دربېيم بحث ـ د افغانستان د عامه مالي چارو د مديريت سيستم او د عامه مالي چارو د ښه مديريت اصلونه

د حکومتولۍ پر کچې د بوديجوي سيستمونو د اغېز په تړاو، بايد په ياد وساتو چې افغانستان په خپلو رسمي ادارو کې د ځواب ورکونې له غبرګو ستونزو سره لاس او ګرېوان دی، چې د خپلويو او قبيلې ته د وفادارۍ په توګه څرګندېږي او له کبله يې خلک د شخصـي ګټو لاسته راوړلو هڅې کوي. که څه هم افغانستان د مالي چارو د مديريت سيستمونو په تړاو د کمزورو هېوادونو په لست کې نسبتا ښه مقام لري خو دا د شـخصـي ګټو او اداري فسـاد په کمولو کې مرسـته نه کوي. که د مالي چارو د ښــه مديريت د

ketabton.com - The Digital Library

ځلورو اصلونو په رڼا کې وارزول شي، نو د افغانستان د عامه مالي چارو د مدیریت سیستمونه په لاندې ډول خلاصه کولی شو[1]:

- د مالي چارو ډسپلین: دا چې افغان حکومت پر بهرنیو مرستو خورا زیات متکي دی نو ځکه یې د مالي کسر تاوان په ظاهره تقریبا هېڅ یا ډېر کم دی. خو د مرستو جریان کې د بدلونونو له کبله، دا میلان بنایي ژر بدلون ومومي چې شاید د نه کنترولېدونکو کسرونو لامل شي.
- د ستراتېژیکو لومړیتوبونو لپاره د بودیجې جوړول: د بودیجې او پلان جوړولو بهیر جامع نه دی، او د بودیجې سیستم د بودیجې دننه او بودیجې بهر دوه ګوني حالت له کبله پاشل شوی دی . د پلان او بودیجې جوړولو بهیر کې باید ګډون زیات شي.
- له سرچینو اغېزناکه ګټه اخیستنه: د بودیجې اجرا بهیر کمزوری او د اجرا کچې ټیټې دي، او په تدارکاتو کې ګڼې ستونزې شته، ځکه د ادارو وړتیا کمزورې او اداري فساد پراخ دی. که څه هم له ۲۰۰۲ م کال راهیسې حالت ښه شوی، خو د بودیجې د څار بهیر کې د خلکو د ښکېلولو لپاره هېڅ اداري میکانیزم نشته.
- ځواب ورکونه: دا تر ټولو ستره ستونزه ده. دواړه، د ارزوني او پلټني اداري او قضایي سیستم وړتیا او باور نه لري.

## لومړی مطلب : د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي

د مخکې یادو شویو اندېښنو د حل لپاره، د مالیې وزارت د ۲۰۱۵ م کال د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي جوړه کړه چې موخه یې د بودیجې جوړولو بهیر په برخه کې ولایتو ته یوه اندازه واک لېږدول و. دغه پالیسي د ۲۰۱۵ م کال اکتوبر کې د کابینې له خوا تائید شوه، نوموړې پالیسي لاندې موخې درلودې.

- د بودیجې جوړولو بهیر کې د مرکزي او سیمه ییزو ادارو د مسئولیتونو تعینولو پخاطر یو قانوني چوکاټ جوړول، چې ولایتي شورا به په کې یو مشورتي رول لوبوي.
- د عامه مالي چارو مدیریت په برخه کې ولایتي ادارو ته مناسب مسئولیتونه او واکونه ورکول چې په ملي کچه د عامه مالي چارو د مدیریت یو اغېزناکه سیستم جوړ او پراخه کړي،
- په ( افقي او عمودي ډول د بودیجې وېش ) لپاره یو منظم او معیاري چوکاټ جوړول چې د برابرو خدمتونو وړاندې کولو ضمانت وکړي او په ټول هېواد کې د بې وزلۍ له منځه وړلو کې ونډه واخلي،
- د بودیجې د اعظمي کچې د معیارونو پر اساس، د شته او نویو شتمنیو د مراقبت لپاره د کافي اندازه سرچینو د وېش ډاډمنول،
- د بودیجې په جوړولو، اجرا او څار کې د ولایتي چارواکو ګډون یقیني کول،
- د رونوالي، ځواب ورکوني، او مالي ډسپلین لپاره د مرکزي او ولایتي ادارو او مرستندویانو ترمنځ د همغږۍ او اړیکو زیاتول، او د موازي جوړښتونو/ بهیرونو له منځه وړل، او د

---

[1] بیژن، نعمت الله او امیل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کې د پلان او بودیجې جوړولو بهیرغیر مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۲۳)

ketabton.com - The Digital Library

بودیجوي احصــایو او شــمېرو خپرول، او دغه راز بشــکېلو غاړو ته د ریپوټ ورکولو بهیرونو منظمول.

د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي د لاندې بهیرونو له لارې د دغو موخو لاسته راوړلو هڅه کوي:

- درې کلن ازمېښتي طبیق،
- پر معیار ولاړ بودیجوي سیستم له لارې په عمودي او افقي ډول د سرچینو وېش.
- د هر اړوند وزارت د پرېکړو پر اساس د لا نورو مسئولیتونو لېږد، چې په کې د پراختیایي او عملیاتي بودیجې لېږدول شوي واکونه هم شامل دي.
- د بودیجې د جنترۍ بدلول چې د ولایتي بودیجو جوړولو وخت زیات شي،
- له بودیجې څخه اضــافي ســهولتونه چې د ( نامشــروطې بودیجې ) په نامه یادېږي، چې په سکتوري بودیجې کې ورته ځای نه دی ورکړل شوی،
- د ولایتي بودیجې کارپوهان ګومارل چې په ولایتو کې له مستوفیتونو سره د بهیر په مشرۍ کې مرسته وکړي.

د ځینو نیمګړتیاوو سربېره، د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي اغېزناکه بودیجې او پلان جوړونې په لور یو مثبت ګام دی. خو دا پالیسي د ادارو رول په واضحه توګه نه تعینوي او د پلي کولو لپاره تر ډېره د حکومت د نورو ادارو پر پروګرامونو متکي دی. د دې ترڅنګ، دا ولایتي ریاستونو ته د لګښتونو د مسئولیتونو د لېږد په تړاو هېڅ ډول ترتیب ته اشاره نه کوي. د پراختیا د لا پېچلو لګښتونو پر وړاندې بشایي د کارکونکو یا عملیاتي او مراقبت لګښتونو د مدیریت لپاره په بشپړ ډول مختلفو تګلارو او وړتیاو ته ضرورت وي ، د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي په دې اړه هېڅ راز پراویزې تګلارې ته اشاره نه کوي، بلکې بهیر د اړوندو وزارتونو اختیار ته پرېږدي. د دې پر بنسټ، کله چې د غیرمرکزي بودیجې غوراویو په تړاو د حکومت د پالیسی انتخابونه وارزول شي، تر ځایه ګډ او ناڅرګند یا ګونګ ښکاري.[1]

## دوهم مطلب ـ د ولایتي بودیجې او پلان جوړلو په برخه کې نیمګړتیاوې او سپارښتنې

### لومړی جز ـ له اندازې زیات د چارو مرکزیت

د پلان او بودیجې جوړولو بهیر کې له اندازې زیات مرکزیت افغانستان له داسې یوه حالت سره مخامخ کړی چې سیمه ییزه حکومتي ادارې په کې له پامه غورځېدلې او د هغوی له وړتیاو پوره ګټه نه ده پورته شوې. په داسې حال کې چې په کابل، ولایتو او ولسوالیو کې حکومتي ادارې موجودې دي، خو په ولایتي او ولســوالیو کچه ســیمه ییزې ادارې د پلان او بودیجې جوړولو بهیر کې په اغېزناکه ډول ګډون یا ونډه نه لري. د حکومت ډېرې دندې لکه د عامه مالي چارو مدیریت، د اوبو مدیریت او د پولیســو چارې په کابل کې د وزارتونو او ریاســتونو له خوا پر مخ وړل کېږي. دغه بهیر د خدمتونو وړاندې کولو، د تطبیق بهیر څار، او په ټیټه کچه ځواب ورکونې لپاره ناوړه عواقب لرلې دي. په مرکزي کچه پلان او بودیجې جوړول بشایي د ځینو ملي پروژو د ډیزاین او پلي کولو کارونه اسانه کړي. خو دغه ډول میکانیزم د ځایی حکومتي ادارو او ځایي ټولنو له وړتیاو څخه بشپړې ګټې اخیستنې کې

[1] بیژن، نعمت الله او امیل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بودیجی جوړولو بهیرغیر مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۳۰)

ketabton.com - The Digital Library

پاتې راځي. په ولايتو او ولسواليو کې له شته ادارو په ډېر کمزوري ډول کار اخيستل کېږي او د کار قدر يې هم کم دی. لکه چې د ليکني پخوانيو برخو وښوده، د والي دفتر، په ولايتو او ولسواليو کې حکومتي ادارې، او تاکل شوي ولايتي شورا دا وړتيا لري چې د بوديجې او پلان جوړولو بهير ښه کولو کې مهم رول ولوبوي.

ستونزه ( له اندازې ډېر مرکزيت ) بايد له پورته کچې د ټيټې کچې په لور حل شي. وزارتونه بايد ولايتي ادارو ته لارښونه وکړي چې د خپلو چارو ريپوټ څنګه سپارلی شي او څنګه بايد خلکو ته عامه خدمتونه ښکاره کړي. داسې ښکاري چې اړوند وزارتونه د خلکو پر وړاندې د مسئوليت ډېر کم احساس کوي. په ملي کچه د مالوماتو شريکولو کمی دی، خو په ولايتي کچه، ډېره ګرانه ده چې د اړوندو وزارتونو په اړه مالومات لاسته راوړل شي. د پلان او بوديجې جوړولو بهيرونو کې د خورا لوړې کچې مرکزيت په ولايتو او ولسواليو کې د حکومتي ادارو د وړتيا لوړولو له فعاليته هم پام اړولی دی.

## دوهم جز ـ ناڅرګند او ګونګ اداري رولونه يا دندې

بله عمده نيګرتيا چې د اغېزناکه ولايتي پلان او بوديجې جوړولو مخه نيسي د مختلفو حکومتي ادارو ناڅرګند رول دی. جګپوړي چارواکي ډېر کله نه پوهېږي چې په دفتر کې د دوی رول څه دی. ځکه نو که اشخاص خپله هڅه و نه کړي او له نوښت نه کار وانخلي نو ولايتي اداري له کابله امرونو ته انتظار باسي. ډېرو هغو حکومتي چارواکو، مرستندويانو او د مدني ټولني فعالانو چې ليکوالانو ورسره مرکې کړې استدلال وکړ چې په کابل کې د وزارتونو دندې، په ولايتو او ولسواليو کې د اړوندو وزارتونو ادارې او د ټاکلو شويو ولايتي شورا دندې په واضح ډول نه دي تشريح شوي. دغه ناڅرګندوالی په غيرعمودي ډول د کمزوري تطبيق، د رسمي سيمه ييزو ادارو د وړتيا لوړولو کې د ناکافي پانګونې، او د وخت او سرچينو د ضايع کېدو لامل شوی دی. که څه هم په کابل کې وزارتونه ښايي دې ته اړتيا ولري چې د ځانګړو مسئلو په اړه خپله پرېکړې وکړي، خو که د تدارکاتو بهير په څېر ولايتي چارې د کابل له خوا په تفصيلي ډول وڅارل شي، دا شايد په سيمه ييزه کچه د خدمتونو رسولو بهير وځنډوي. د پلان او بوديجې جوړولو بهير کې د ولايتي او ولسواليو ادارو رول ناڅرګند دی. دا واضحه نه ده چې ولايتي پلانونه او بوديجه بايد څوک جوړې کړي. ځايي لومړيتوبونه بايد څنګه په ګوته او په ملي پلان او بوديجه کې ورګډ شي؟[1]

په ولايتي پراختيايي پلان کې په ټوليز ډول د لومړيتوب پر اساس ټاکل شوې پروژې شاملې دي. ټولنې د خپلو اړتياو پر بنسټ دغه پلانونه وړاندې کوي چې بيا د اقتصاد وزارت ته سپارل کېږي. دغه وړانديزونه خلک جوړوي او د سيمه ييزې پراختيا شورا ته سپارل کېږي، وروسته يې بيا د د ولسوالی د پراختيا شورا له خوا لومړيتوب ټاکل کېږي او د ولايت پراختيايي کمېټې ته سپارل کېږي. د دغو بهيرونو او وړانديزونو پر اساس، د اقتصاد رياست د ولايت پراختيايي پلان سره په همکاری د ولايتو لپاره پراختيايي پلانونه طرحه کوي. دغه پلانونه بيا وزارتونو او اړوندو رياستونو ته سپارل کېږي چې بوديجه ورته وټاکل شي. بيا هر اړوند وزارت پلان د اقتصاد وزارت ته سپاري چې د بوديجې کمېټې له

[1] بېژن، نعمت الله او اميل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بوديجی جوړولو بهيرغير مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۳۳)

ketabton.com - The Digital Library

خوا، چې د مالیې وزارت، د اقتصاد وزارت، د بهرنیو چارو وزارت او د وزیرانو د سکرتریت شورا د اداري چارو دفتر په کې شامل دي، وارزول شي. تر دې وروسته پروژې د منظورۍ لپاره کابینې ته وړاندې کېږي، او له منظورۍ وروسته، وزارتونو ته د پلي کولو لپاره سپارل کېږي. داسې ښکاري چې د مالیې وزارت، د اقتصاد وزارت او دغه راز د سیمه ییزو حکومتونو خپلواکه اداره د قانوني او بالفعل دندو تر منځ واټن شته دی. د اقتصاد وزارت چې باید د پلان جوړولو بهیر مشري وکړي، د محدودې وړتیا له کبله، په ځانګړي ډول د تېرې لسیزې په لومړي کال کې، له صحنې لرې شوی او بل لامل یې د مرستندویانو دا خوښه ده چې د بودیجې او مرستو وېشلو لپاره له مالیې وزارت سره کار وکړي. اوس اړتیا لیدل کېږي چې یوه واحده اداره په ګوته شي، ترجیحا د اقتصاد وزارت، چې د پلان بهیر همغږی کړي او هم یې وڅاري. سره له دې، د مالیې وزارت د نورو عادي مالیو وزارتونو په پرتله ډېر پیاوړی دی. دا نه یوازې د عامه مالي چارو مدیریت کارونه پر مخ وړي، لکه بودیجه، عایدات، او د پیسو ورکړه، بلکې ملي پالیسیو او پروګرامونو مسئولیت هم لري. د سیمه ییزو حکومتونو خپلواکه اداره هم ورته ستونزه او ننګونه لري چې هغه سیمه ییز بهیرونه همغږي کړي چې نور وزارتونه هم په کې ښکېل دي. دې حالت د حکومت مختلفو ادارو کې ناڅرګندتیا رامنځته کړې، د اداري سیالیو لامل شوی او د تطبیق بهیر یې کمزوری کړی دی. د بهرنیو مرستندویانو له خوا تمویل شویو یو شمېر څېړنو موندلې چې له اندازې ډېر مرکزیت، په کابل کې د وزارتونو او ولایتو کې د ریاستونو د دندو او رولونو په اړه د وضاحت نشتوالی، او په ولایتو کې ناکافي وړتیا د اغېزناکه پلان جوړونې او سرچینو وېش بهیر پر وړاندې خنډونه جوړ کړي دي. ځکه نو په منځمهال کې باید ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي ته د زده شویو درسونو او کارپوهانو د سپارښتنو په اساس بیا کتنه وشي[1].

## درېیم جز ـ اجماع او مخالفتونه

د افغان حکومت او بهرنیو مرستندویانو ترمنځ اجماع رامنځته شوې چې کابل کې مرکزي حکومت باید د یو شمېر پرېکړو واک والیانو او ولایتو کې ریاستونو ته ورکړي. د واک دغه ډول لېږد ته د افغانستان په اساسي قانون کې هم اشاره شوې خو حقیقي بڼه یې لا نه ده غوره کړې.

افغان حکومت ټینګار کړی چې د شته واحد حکومتي جوړښت دننه د ځینو مشخصو خدمتونو واک ولېږدوي او په دې تړاو، د ځایي حکومتونو خپلواکه اداره او د مالیې وزارت تخنیکي بهیر پر مخ وړی دی. د لېږد یا غیرمرکزیت یوه کاري ډله تعین شوې چې د لېږد بهیر مهم پړاوونه په ګوته کړي او له مختلفو ښکېلو غاړو سره سلا مشورې وکړي. په دې وروستیو کې د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو بهیر ځینې اداري دندې د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي له لارې واضح شوې دي، او له راتلونکې د سیمه ییزې حکومتولۍ پالیسي څخه هم همدا تمه کېږي. د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي د پلان او بودیجې جوړولو بهیر کې ترڅایه د مالیې وزارت، د اقتصاد وزارت، اړوند وزارتونو، ولایت کې ریاستونو، ټاکلو شویو ولایتي شوراګانو او مستوفیتونو دندې او رولونه واضح کوي. د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي پر بنسټ، والیان به په ترتیب سره ولایتي پلانونه او د ولایتي پراختیا کمېټه او د عامه مالي چارو مدیریت کمېټې له خوا وړاندې شوې بودیجه منظوروي. د ولایتي پراختیا کمېټه به د مختلفو

[1] بیژن، نعمت الله او امیل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بودیجی جوړولو بهیرغیر مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۳۳-۳۴)

ketabton.com - The Digital Library

ریاستونو او ښکېلو غاړو ترمنځ د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو بهیر همغږی کوي، په داسې حال کې چې مستوفیتونه او ولایت کې د اقتصاد ریاستونه به د ولایتي بودیجې او پلان بهیرونه همغږي کوي. د مالیې او اقتصاد وزارتونه به ولایتي پلان او بودیجې وړاندیزونو ته د بودیجې جوړښت سره سمون ورکوي. وزارتونه به بیا د سکتورونو د اعظمي کچې بودیجې په پام کې نیولو سره ملي پروژو لپاره سرچینې په ګوته کوي او بودیجه به ولایتي ریاست ته سپاري. د بودیجې کمېټه به د ولایتي بودیجې ابتدایي اعظمي کچه ټاکي. وروسته به ولایتي ریاستونه په کابل کې د اړوندو وزارتونو د غوښتنې پر اساس خپلې بودیجې جوړوي. د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسی پر اساس، ولایتي ریاستونه به د خپلو بودیجو وړاندیزونه د ولایتي پراختیا پلان پر اساس جوړوي. ولایتي شورا مشورتي رول لري. د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسی په نظر کې لري چې د مالیې وزارت به په هر ولایت کې یوه ولایتي د مالي چارو د مدیریت کمېټه جوړوي چې د اړوندو وزارتونو او د هغوی ولایتي ریاستونو ترمنځ اړیکې ټینګې او همغږي رامنځته کړي. دغه پالیسي پر بهرنیو مرستندویانو غږ کوي چې د تخنیکي مرستو او ځایي حکومتولی پروګرامو ته د بودیجې ورکولو له لارې د ولایتي بودیجې بهیر ملاتړ وکړي. والیانو او ریاستونو ته د ځینو مشخصو پرېکړو واک پر ورکولو د ټولیزې اجماع سربېره، دغه واکونه او ورسره میکانیزمونه یې تر اوسه په واضح ډول تشریح شوي نه دي. په ډېرو مواردو کې، د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسیې د نورو اړوندو قوانینو او پالیسیو جوړېدو ته انتظار ویستلی، چې د تطبیق بهیر پر وړاندې خنډ جوړوي.

د مرکزي او ولایتي ادارو د واکونو ترمنځ د بیلتون یوه واضحه کرښه مهمه ده. که دغه ډول ستونزو ته پام و نه شي، نو ډېرې ښې هڅې او بهیرونه به بې اغېزې وي. د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي یو مهم سند دی، خو دا لا بشپړ نه دی، د تطبیق بهیر یې په اړوندو وزارتونو او ولایتي ریاستونو کې له اړوندو سمونونو سره تړلی دی. په تېره لسیزه کې سیاستونو د پلان او بودیجې بهیرونه اغېزمن کړي دي. دا چاره په ولایتو کې د لوړپوړو ګومارنو په بهیر کې جوته ده. په ځانګړې ډول والیانو ولایتي ادارې ډېرې اغېزمنې کړې دي. د کرزي حکومت والیان او نور جګپوړي ولایتي چارواکي تر ډېره د سیاسي ملاحظو چې په کې له اغېزمنو سیاستوالو او سیاسي ګوندونو سره د دوی اړیکې شاملې وې، پر اساس ګومارل.

ډېرو والیانو د پلان او بودیجې پېچلتیاوو مدیریت کولو او له شته ځایي وړتیاوو څخه د ګټې اخیستنې لپاره تخنیکي وړتیا او د مشرۍ مهارتونه نه لرل. ځکه نو د همغږۍ، باور، وړتیا او ژمنتیا په برخو کې ستونزې پیدا شوې. په ډېرو ولایتو کې د مرکزي حکومت او ولایتي مشرتابه ترمنځ د باور کمې په اغېزناکه توګه د ځایي مالي لومړیتوبونو په ښه کولو بهیر پر وړاندې خنډونه جوړ کړي دي.

د وړتیا نشتوالی یوه غلطونکې اصطلاح ده چې مختلف لوبغاړي یې ډېر کله په افغانستان کې د سیمه ییزې حکومتولی د تشریح کولو لپاره کاروي. د مهارتونو کمې ته د وړتیا نشتوالي نوم ورکول د یوه ریاست د وړتیا نور اړخونه لکه کارکونکي، اساسي قوانین او بنستونه له پامه غورځوي. په ولایتي او ولسوالیو کچو د حکومت ریاستونه او دغه راز بنستیز قوانین شتون لري، سره له دې چې ځینې یې ډېر پخواني دي، ځکه نو په سیمه ییزه کچه د وړتیا یو بنسټیز واحد موجود دی ( داسې نه ده چې ګنې هېڅ راز وړتیا نشته) خو د ولایتي ریاست وړتیا محدوده ده، او دوی په اغېزناکه توګه د خپلو بودیجو د

ketabton.com - The Digital Library

چمتو کولو او پروژو پلي کولو کې شـــاته پاتې دي. د حکومت د خدمتونو وړاندې کولو وړتيا له يوه ولايته تر بل ولايته توپير لري.[1]

په عمومي ډول، ولايتي رياستونه کمزوري او پاشلي دي. د ۲۰۰۱ م کال له وروستيو راهيسي، حکومت او مرسـتندويانو تر ډېره په کابل کې د وزارتونو او رياسـتونو د وړتيا پر لوړولو پام راغونډ کړی دی. ځکه نو د وړتيا لوړولو يو نااندوله پروګرام پلی شـوی دی. په داسـي حال کې چې نوې د ولايتي بوديجې جوړولو پاليسي تر ځايه د مختلفو ولايتي ادارو او رياستونو دندې په ګوته کوي، خو په غيرمرکزي کچه د وړتيا لوړولو ضرورت ته کمه توجه کوي.

حکومت بايد د ولايتي پلان او بوديجې جوړولو د بهترۍ سمونونو د تطبيق سره موازي د وړتيا لوړولو پروګرامونه هم پلي کړي. د ولايتي رياستونو پر جوړښت د نوې ولايتي بوديجې جوړولو پاليسی عواقب په پاليسـی کې نه دي شـامل شـوي. بدلونونه او د شـته رياسـتونو او چارواکو د کار لايحې په جوړښـت کې ځاي شـوي دي. د ملکي خدمتونو کمېسـون په مختلفو رياسـتونو کې د وړتيا لوړولو بهير همغږي کولو کې مهم رول لوبولی شي. درې برخې په ځانګړې ډول ښېړني پام ته اړتيا لري. لومړی، د بوديجې جنتري بايد بدله شـي، چې ولايتي رياسـتونه او د ولايت پراختيا کمېټه د خپلو پلانونو جوړولو فرصـت ترلاسـه او له ولايتي بوديجې سـره يې يوځای کړي. دوهم، د رياستونو جوړښـت ته بايد بياکتنه وشي ترڅو دوی وکولی شي په متواتر ډول د خپلو پلانونو او بوديجو جوړولو لپاره چارواکي وګوماري. دريم، د وړتيا لوړولو يو هراړخيز پروګرام بايد پيل شي.

## څلورم جز ـ د ځواب ورکونې کمی

حکومت په ولايتي کچه د ځواب ورکونې ودې او اداري کولو چاره له پامه غورځولې ده. په ځانګړې ډول، حکومت د ډيزاين په چارو کې کورنۍ او بهرنۍ ځواب ورکونې، د سـرچينو وېش او تطبيق بهير د پياوړي کولو لپاره د ميکانيزمونو جوړولو ته کافي پام نه دی کړی. د څار او ارزونې سـترې ادارې (SAO) پام تر ډېره د مرکزي حکومت د حسـابونو پر پلټلو او ارزولو راغونډ دی. ځکه نو ولايتي ځواب ورکونې ته نه پام د حکومتي مامورينو ترمنځ د بې تفاوتۍ کلتور پيدا کړی دی. دغه حالت په بهيرونو کې د خلکو کمزوري ګډون، چې کولی شـي له ولايتي لوبغاړو او چارواکو ځواب وغواړي، لا خراب کړی دی. له بلې خوا، د ټيټې کچې په لور ځواب ورکونه کمزورې ده. تر ننه، ټاکل شوې ولايتي شـوراګانې مشورتي رول لري. په دې تړاو، اجرايوي څانګې ښايي په هدفي ډول د پروژو تطبيق يا بوديجې اجرا چارو څار لپاره ډېره لېوالتيا نه وي لرلې. شـواهد ښـيي چې د پلان او بوديجې جوړولو بهيرونو کې د خلکو ګډون ځواب ورکونه زياتولی شـي. د ملي پيوسـتون پروګرام لاندې ټاکل شوې پراختيايي شوراګانې د ولسوالۍ د پراختيا شورا يې ښـه مثال دی، ځکه دوی ځواب ورکونکي او باوري ادارې دي. د دغه پروګرام له مخې د بوديجې ضـايع کېدو يا بې ځايه لګېدو هېڅ رپوټ نه دی ورکړل شـوی، او خلک د ځايي پروژو په پلان، تطبيق او اجرا کې ګډون کوي. د ملي پيوسـتون پروګرام په برياليتوب کې دوو ميکانيزمونو مهم رول لوبولی دی. لومړی، افغان حکومت له بهرنيو مرستندويانو سره په سلا د ټولنيزو او ځايي پروژو د ډيزاين، څار او پلي کولو لپاره واضحه رولونه او

[1] بيژن، نعمت الله او اميل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بوديجی جوړولو بهيرغير مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۳۵)

ketabton.com - The Digital Library

دندي وټاکلي. دوهم، خلکو په دغه بهیر کې او له مختلفو لوبغاړو او چارواکو څخه په ځواب غوښتنه کې یې په پوره ډول ګډون وکړ.[1]

والیان ولسمشر تعقیبوي. دوی ولایتي شوراګانو ته ځواب نه ورکوي. که څه هم کابل کې حکومت پوهیږي چې والیان ولسمشر تعقیبوي، خو پارلمان استدلال کوي چې د والیانو ولسمشر ته ځواب ورکونه ډیموکراتیکه ځواب ورکونه او ټاکل شوی اداری لکه ولایتي شوراګانې او پارلمان کمزوری کوي. د تیوري له مخې، والیان باید د ځایي حکومتولۍ خپلواکه اداري مشر ته ریپوټ ورکړي چې دی بیا ولسمشر ته ریپوټ ورکوي، خو ځینې والیان ان ځانونه ولسمشر ته هم ځواب ورکونکي نه بولي، نو د ځایي حکومتولۍ خپلواکه اداري ته به ځانونه ولې ځواب ورکونکي وګڼي؟، دې چارې ته هم پام شوی چې کله سرچینې ولایتي کچې ته ورسول شي او که د ځواب ورکونې میکانیزمونه پیاوړي نه شي، نو په خزانه کې به د قانوني او غیرقانوني پیسو ورکړې تناسب زیات شي او له لوبغاړو یا چارواکو ځواب نه غوښتل کیږي. ځکه نو د بودیجې بهیر غیرمرکزي کول ښایي اداري فساد او د سرچینو ضایع کېدل زیات کړي. د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي والیانو ته فرصت ورکوي چې د ولایتي پروژو د پلي کېدو بهیر وڅاري. خو د ټاکلو شویو ولایتي شوراګانو د څار رول په واضح ډول نه دی تشریح شوی. کله چې والیان د حکومت د اجرایوي څانګې استازیتوب کوي، نو مهمه ده چې واضحه شي ایا ولایتي شوراګانې هم د والیانو کار څارلی شي که نه، که والیان د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو کار مشري کوي، نو په عمل کې باید ولایتي شوراګانې د والیانو او ولایتي ریاستونو کار وڅاري. دغه ډول څار هغه مهال لا مهم دی چې والیانو ته په بودیجه کې لا زیات واک ورکړل شي. ځکه نو، د غیرمرکزي پلان او بودیجې جوړولو لپاره د ځواب ورکونې زیاتول او پیاوړي کول هم مهم دي. نوې پالیسي دا له پامه غورځوي چې د څار او ارزونې ستره اداره باید څه ډول ولایتي پلان جوړونه وڅاري. د ولایتي شوراګانو د څار رول لا تر اوسه په واضح ډول نه دی تشریح شوی. ځکه نو دغه برخې سملاسي خو په احتیاط، پام ته اړتیا لري. مهمه ده چې سمونونه په تدریجي ډول پلي شي چې له اندازې زیات مرکزیت، تنې اداري دندې، محدودې وړتیا او د ځواب ورکونې کمې ستونزې حل کړي[2].

[1] بیژن، نعمت الله او امیل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بودیجی جوړولو بهیرغیر مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۳۶ ـ۳۷)
[2] بیژن، نعمت الله او امیل، فرحت . (۱۳۹۵ل). په افغانستان کی د پلان او بودیجی جوړولو بهیرغیر مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان، مخ (۳۶ـ ۳۷)

ketabton.com - The Digital Library

# پایــله

افغانستان چې د نړۍ له مرکزواکو دولتونو څخه ګڼل کیږي، ډیرې پرېکړې او صلاحیتونه یې د مرکزي حکومت سره دي، تر اوسه پورې په سیمه ییزه حکومتولۍ کې لکه څنګه چې ضرورت دی هغسې متوازنه اقتصادي او سیاسي پرمختیا نده رامنځته شوې. خو بیا هم په تېره یوه لسیزه کې دولت وکولای شول، چې د اړوندو وزارتونو په شمول د مرکزي دولت بنسټونه یو څه اندازه پیاوړې کړي. له همدې امله د متوازنې پرمختیا هدف د تحقق لپاره د سیمه ییزې حکومتولۍ په برخه کې د یوې ټولیزې پالیسۍ طرحه اړینه چاره ګڼل کیږي، چې باید رامنځته شي.

همدارنګه په سیمه ییزه حکومتولۍ کې متوازنه پرمختیا په دې درېو برخو کې پرمختګ ته اړتیا لري: د امنیت ټینګښت، د قانون حاکمیت او متوازنه اقتصادي پرمختیا. دغه درې برخې له یو بل سره خپل منځي اړیکې لري. د امنیت ټنګښت د هېواد په ټولو ولسوالیو کې د افغان امنیتي ځواکونو په شتوالي پورې تړلی دی. متوازنه پرمختیا د قانون حاکمیت ته اړتیا لري. په اسلامي فقه کې د عدالت ټنګښت د یو دولت د تشکیل بنسټ جوړوي او افغان عالمان د اسلامي فقهې د عملي کیدو بېلګې او د هغې د درناوي اوږده مخینه لري. خو زموږ تاریخ وایي، چې په تېرکې داسې پړاوونه هم ول، چې عدالت په کې په سمه توګه نه ؤ پلی شوی. د دغو پړاونو د تشکیل لاملونه د بهرنیانو یرغلوونه او کورنۍ جګړې وې، چې د دولتونو د ټوټه کیدو لامل شوي وو.

باید داسې یو اقتصادي مډل رامنځته شي، چې پر بنسټ یې سیمه ییزه اقتصادی ستراتیژیو او بنسټونو ته ډېره ترجیح پکې ورکول شوې وي. همدارنګه څرنګه چې په دولت کې اصلاحات رامنځ ته کېدل د وخت او ټکنالوژۍ د غوښتو سره ضرورت دي، په سیمه ییزه کچه هم د پراخو اصلاحاتو رامنځته کېدو ته ضرورت دی، په سیمه ییزه کچه د دغو اصلاحاتو عملي کیدل به په افغانستان کې متوازنې ، رښې او خوندي پرمختیا ته زمینه برابره کړي.

همدارنګه د ولایت په کچه د مهمو ادارو واحدونو په توګه د حکومتولۍ په برخه کې موږ تر اوسه له څو ستونزو سره مخ یوو:

- زموږ ولایتونه په اوسني شکل کې خپلواک حکمي شخصیت نه لري. والي د ولسمشر ځانګړی استازی ګڼل کیږي او هر ریس د یو وزیر ځانګړی استازی. امنیه قومانداني هم په مستقیمه توګه له کورنیو چارو وزارت سره په اړیکه کې ده.
- د اساسي قانون د ۱۳٦ مادې د حکم پر بنسټ سیمه ییزه اداره ولایت دی، خو اوسنۍ سیمه ییزه اداره د نفوس او موجود جغرافیایي ترکیب سره نه شي کولی خپلو دندو او مسوولیتونو ته د ښې حکومتولۍ د تامین او وګړیو ته د اسانتیاو او خدمتونو برابرولو ته رسیدګي وکړي.
- د بودجې په برخه کې هم ولایت یو خپلواک بودجوي واحد نه دی، پر دې بنسټ د هر ولایت هره سکتوري برخه په کابل کې د اړوند وزارت پورې اړه لري. په بودجوي منابعو څارنه او کنټرول او د ولایتونو د لګښت ډول فوق العاده کمزوری دی. پر دې سربېره زیاتره ولایتونه د کال په دویمه او دریمه ربعه کې خپله بودجه لاسته راوړي. په همدې دلیل په ولایتونو کې د بودجوي موثریت اندازه کله هم دې کچې ته نه رسیږي چې د ډاډ او رضایت وړ وي.

ketabton.com - The Digital Library

- په بېلابېلو ولايتونو کې شکايت دی چې دولتي پوستونه عموماً په بېلابېلو شکلونو په انحصار کې نيول شوي دي. د بېلابېلو ولسواليو تر منځ د منابعو په وېش کې زياتي ستونزې او شکايتونه وجود لري. دا نه همغږي او نه توازن د ولايتونو او ولسواليو په اداري کچو د دې لامل شوی چې د حکومت اغېز سخت کمزوی شوی او د سيمو په کچه يې اقتدار کم شي.
- د مالي منابعو او د بېلابېلو ولايتونو تر منځ لګښتونو کې د نااندولي ستونزه د محلي حکومتولۍ په نظام کې له عمده کميو څخه ده، هر ولايت بې له دې چې له بل ولايت څخه خبر شي، تصور کوي چې کابل د مرکز په توګه له مختلفو ولايتونو سره په اړيکه کې تبعيضي ليدلوری او چلند لري. بل عمومي تصور دا هم دی چې کابل د ټولو ولايتونو په پرتله له تبعيضي ليدلوري چلند کوي او د هغوی د ستونزو او اړتياو په نسبت بې توجه دی.
- د ولايت او ښاروالیو د دندو تر منځ د روښانه تفکيک نه شتون هم جدي ستونزه ده. فعلاً دادواړه بنسټونه انتصابي وو او اغلب د خپلو دندو او واکونو د ټاکلو لپاره له جدي کشمکشونو سره مخ دي .لکه عامه ذهنيت دادی چې دولتي املاک په ښارونو کې عموماً د فساد يوه وسيله ده، څو هغه سرچيني چې له هغو څخه وکولی شي د دولت د اقتدار د حقوقي بنسټ په توګه کټه وکړي او يا د دولت ډېرې اداري او مالي ستونزې حل کړي.

د پورتنيو ستونزو د حل لپاره دولت بايد د ولايت، ولسوالي او ښاروالي د اداري صلاحيتونو حدود په شفاف او روښانه ډول تعريف شي او حکمي شخصيت او قانوني دندې يې مشخصي شي.

ketabton.com - The Digital Library

## وړاندیزونه

- د ښاریتوب ممکنه ستونزو ته په پام سره، د ولایتي پلان جوړونې ښاري اړخونه باید په ښه ډول په ملي پلانونو کې شامل شي.
- د مالیې او اقتصـاد وزارتونه باید په بهیرونو کې د لا نور وضـاحت راوسـتلو له لارې په ملي پلان او بودیجه کې د ولایتي پلانونو او بودیجو یوځای کولو لپاره یو څرګند میکانیزم جوړ کړي.
- د ټاکلو شویو ولایتي شـوراګانو او د ولایت د پراختیا کمېټې رولونه او دندې باید په واضـح ډول تشریح شي.
- داسې ستراتېژیاني باید پیل شي چې د ښکېلو غاړو ترمنځ اجماع او همکارۍ پیاوړې کړي.
- د تدارکاتو بهیر کې د بودیجې جنترۍ، بودیجې محکمو، مالي چارو قوانینو او بیوروکراسـیو په تړاو باید د عامه مالي چارو او لګښتونو مدیریت او د تدارکاتو قانون کې د سمونونو وړاندیز په موخه باید یوه قانوني بیا کتنه ترسره شي.
- د ښــکېلو غاړو د رولونو او دندو او په کابل او ولایتو کې د پلان او بودیجې جوړولو بهیر د همغږۍ میکانیزمنو په ګوته کول
- د سیمه ییزې ځواب ورکونې بهیر ښه کول
- د څار او ارزونې سترې ادارې او ولایتي شوراګانو وړتیا او اعتبار، او دغه راز پارلماني څار باید زیات کړای شي.
- د مالي چارو رونوالی باید د ولایتي بودیجوي احصایو د خپرولو له لارې پیاوړی شي.
- د پارلمان غړي باید د روزنې او پارلمان لپاره د بودیجې له کارپوهانو جوړ یوه واحد له لارې د ملي او ولایتي بودیجې د پارلماني څار په اړه باخبره وسائل شي.
- د مرکزي او ولایتي ریاسـتونو د پلټنې او ارزونې رپوټونه باید په دوامداره توګه او عام فهمه ډول خپاره شي.
- د څارنې او ارزونې سترې ادارې او ولایتي شـوراګانو وړتیا او اعتبار، او دغه راز پارلماني څار باید زیات کړای شي.
- د هرې سیمه ییزې ادارې دمسؤلیتونو د مشخصولو په موخه د اړتیا وړ قوانینو طرحه کول
- د قانون حاکمیت او د فساد سره د مبارزې عالي شورا تر سیوري لاندې د سیمه ییزې حکومتولۍ د یوې کمیټې رامنځته کول
- د ولایتونو او ولسوالیو د پولو د تشخیص په اړه د ملی مشورې بهیر رامنځ ته کول
- پـه هره اړونـد زون کې د پروژو د پراختیـا او تطبیق پـه موخـه د اوو زونونو پرمختیـایي ادارو رامنځته کول
- د تشویقي مالي مرستې، اضافه کارۍ او سیمه ییزه ادارو ته د عوایدو دزیاتولو اجازې ورکولو په شمول د سیمه ییزه مالي اصلاحاتو تطبیق
- د افغانســتان په هره ولســولۍ کې د حکومت له شــتون څخه د ډاډ په موخه د یوې ســیمه ییزې رغنیزې پروژې رامنځ ته کول
- د یوې سیمه ییزې بشري سرچینې د پراختیایي پروګرام رامنځ ته کول.

ketabton.com - The Digital Library

# اخځلیکونه (Reference)


١. بېژن، نعمت الله او امیل، فرحت . (١٣٩٥ل). په افغانســتان کی د پلان او بودیجی جوړولو بهیرغیر مرکزی کول، AREU، کابل ـ افغانستان
٢. ثاقب، نقیب الله . (١٣٩٧ ه ش) . اداري حقوق، جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه، لومړی چاپ
٣. ثاقب، نقیب الله او جعفر، حضـرت . (١٣٩٨ ل) . د سـیمه ییزو حکومتونو مدیریت. جلال آباد، مومند خپرندویه ټولنه، لومړی چاپ
٤. جنسین، اریک . (٢٠١٣م) . د افغانستان د اساسي حقوقو مبادي، کالیفرنیا: د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه ALEP (د ستانفورډ پوهنتون د حقوقو پوهنځی) ، لومړی چاپ. کابل ـ افغانستان
٥. څرګند، نور علي . (١٣٩٥ل) . د ســـیمه ییزو حکومتونو اداره، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه لومړی چاپ
٦. د افغانستان اساسي قانون ، (١٣٨٢ل)
٧. د افغانستان اسلامي جمهوریت. (١٣٩٧ ل). دسیمه ییزو ارګانونو د اصلاحاتو تګلاره، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره
٨. د افغانستان اسلامي جمهوریت. د امنیت، حکومتداری، اقتصادي ودې، او فقر په ضد د افغانستان انکشافي ستراتیژي، (١٣٨٧ـ١٣٩١ل)
٩. د افغلانستان د څېړني او ارزوني اداره(AREU)، (١٣٩۴ ل) ، د الف نه تر یا د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود، دیارلسمه ګڼه، کابل ـ افغانستان
١٠. د ګلاس ســالت مارش و ابهیلاش مدهی . ( ١٣٨٧) ه ش . حکومتداری محلی در افغانســتان، ترجمه: عارف عمار، AREU واحد تحقیق و ارزیابی افغانستان، کابل ـ افغانستان
١١. رومینا ، ابراهیم . (١٣٩٥ل) . تحقیق در رابطه: (تاثیر تخصص گرایی بر کارکرد دولت محلی، مورد: شورای اسلامی شهر ایران)، http://georesearch.ir/article-١-٤٠-fa.pdf
١٢. نجات ، آریا ، (١٣٩٣ل)، په افغانســتان کي حکومتولی ته یوه کتنه، ژباړه : خادم احمد حقیقي، AREU، کابل ـ افغانستان
١٣. نجات، آریا .(١٣٩٥ل) . په افغانستان کي سیمه ییزه حکومتولی، کابل : AREU، ژباړه ـ ګلستان شینواري، ، لومړي چاپ
١٤. نیکســن ، همیش .(١٣٨٧ل). په افغانســتان کي ســیمه ییزه حکومت جوړونه، ژباړه : امان الله اتل.( AREU ) د افغانستان د څېړني او ارزوني اداره، کابل ـ افغانستان
١٥. همدرد ، نیازمحمد .(١٣٩۶ل) . محلي اداره، جلال آباد: یار خپرندویه ټولنه، لومړی چاپ
١٦. https://idlg.gov.af/ps/history-idlg/ (١٣٩٨ل)

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*